# افغانستان

# په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه

# د ۲۰۱۵ کال کلنی راپور



عبدالخالق/ایسوشیتیډ پریس/۲۰۱۵ ©


د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ دفتر

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما)

**کابل ، افغانستان**

**فبروري ، ۲۰۱۶**

# AFGHANISTAN ADMINISTRATIVE DIVISION




Source: UNAMA GIS January 2012

# افغانستان

# په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه

# د ۲۰۱۵ کال کلنی راپور

د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنرۍ دفتر

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی (يوناما)

کابل ، افغانستان

فبروري ، ۲۰۱۶

د لومړي مخ انځور © ۲۰۱۵/ عبدالخالق / ایسوشیتیډ پریس. یو سړی چې د هلمند ولایت د لشکرګاه ښار د تلاشۍ پر یوې پوستې باندې د موټربم ځانمرګي برید په پایله کې یوه ټپي شوې نجلۍ لیږدوي ، په دغې پېښې کې دوه ملکي وګړي مړه او دوه نور ټپیان شوي دي.

تصویر د ۲۰۱۵ کال د مارچ په ۱۶مه نېټه اخیستل شوی دی.

**"ځرنګه چې د جګړې ښکېلې غاړې د دوامداره سیاسي او نظامي لاسته راوړنو په لټه کې دي ، دوي باید دا هیر نه کړي چې افغانستان یوازې خاوره نه ده ، بلکې داسې ځای دی چې ډیر خلک ورته خپل کور وایي. د جګړې په ډګر کې د ښکېلو غاړو د بریالیتوبونو او پرمختګونو ادعاوې چې بار بار اوریدل کیږي هیڅ مانا نه لري ، که چېرې دوي د افغانستان د وګړو لکه ښځو ، ماشومانو او سړیو په ساتنه کې چې دوي پرې د حکومت کولو هیله لري ، پاتې راشي. د جګړې د ښکېلو غاړو مکلفیتونه اجباري دي ، او د دوي لپاره باید داسې معیار واوسي چې د هغې پر بنسټ د خپل بریالیتوب قضاوت وکړي. "**

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازی ، نیکولاس هیسم ، کابل ، فبروري ۲۰۱۶

**"د افغانستان خلک په دوامداره توګه د بې رحمه او غیراصولي بریدونو له امله ، چې د نړیوالو قوانینو له مخې منع شوي دي ، کړیږي. دغه بریدونه نږدې د بشپړ معافیت سره ترسره کیږي. د سرغړونو مرتکبین چې د یوناما او زما د کارمندانو له خوا ثبت شوي دي ، باید حساب ورکړي ، او نړیواله ټولنه باید د ملکي وګړو د حقونو پر ساتنه په جدي ډول ټینګار وکړي"**

د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر ، زید رعد الحسین ، جنیو ، فبروري ، ۲۰۱۶

## صلاحیت / واک

په افغانستان کې په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړوند د ۲۰۱۵ کال دغه راپور ، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي( یوناما ) د بشري حقونو د څانګې له خوا چمتو شوی دی ، چې د دې کال د جنوري له لومړۍ نیټې څخه د ډسمبر تر ۳۱ مې هغې پورې موده رانغاړي.

دغه راپور د یوناما د بشري حقونو څانګې له خوا د هغه صلاحیت او واک له مخې چمتو شوی دی ، چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له خوا د ۲۲۱۰ (۲۰۱۵) پریکړه لیک پر بنسټ یوناما ته ورکړل شوی دی ترڅو د ملکي وګړو وضعیت وڅاري ، د دوي د خوندیتوب دباوري ِ کیدو په موخه هڅې همغږې کړي ، حساب ورکول تقویه کړي او د بنسټیزو ازادیو او بشري حقونو د احکامو ، چې د افغانستان په اساسي قانون او په نړیوالو تړونونو کې تسجیل شوي دي ، چې افغانستان یې غړیتوب لري ، په بشپړ ډول پلي کېدو کې مرسته وکړي او په ځانګړي ډول د هغو احکامو په پلي کولو کې مرسته وکړي چې د ښځو د حقونو څخه د برخمن کیدو سره تړاو لري.

۲۲۱۰ (۲۰۱۵) شمیره پریکړه لیک په افغانستان کې د وسله والو شخړو په ترڅ کې د ملکي وګړو د وضعیت او په ځانګړې توګه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په اړوند روانې څارنې او راپور ورکونې ته اهمیت ورکوي.

یوناما یو لړ فعالیتونه تر سره کوي چې هدف یې په ملکي وګړو د جګړې د اغیزو راکمول دي لکه :په خپلواکه او ناپیلې ډول د داسې پېښو څارنه چې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې لامل ګرځي ؛ په وسله والو جګړو کې د زیانمن شویو ملکي وګړو د ساتنې د تقویې په موخه ملاتړ ؛ او د داسې نوښتونو پیل چې د نړیوالو بشري حقونو او د بشر پالنې د نړیوال قانون او د افغانستان د اساسي قانون او نورو قوانینو سره سمون ولري او په جګړه کې د ټولو ښکېلو غاړو له لوري رعایت شي.

دې راپور کې د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ دفتر( او ایچ سی ایچ ار ) لخوا تخنیکي سلا مشوره تر لاسه شوې.

## فهرست


**میتودولوژي** i

**لنډيز** ۱

۱. په جنګ ځپلو سیمو کې د بشري حقونو ساتنه ۱۵

ښځې او وسله والې شخړې 15

ماشومان او وسله واله شخړه 18

د ماشومانو د مرګ ژوبل مخکښ لاملونه 19

له جګړې څخه پاتې شوني چاودیدونکي 24

د جګړې له امله د ملکي وګړو بې ځایه کیدنه: داخلي بې ځایه شوي وګړي 26

د پولې په اوږدو کې نښتې 27

**۲. ځمکنۍ نښتې-د ډزو په تبادله کې راګیر ملکي وګړي** ۲۸

په ځمکنیو نښتو کې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب شوې ملکي مرګ ژوبله 32

په هغو ځمکنیو نښتو کې ، چې ملکي وګړو ته يې مرګ ژوبله اړولې خو تلفات کومې ځانګړې ډلې ته ممکن نه و 34

د ملکي وګړو په ګڼ میشتو سیمو کې چاودیدونکي وسلې 35

**۳. دولت ضد عناصر** ۳۷

هغه تاکتیکونه او د پېښو نمونې کومو چې ملکیانو ته زیات زیان اړوي 38

ځای پر ځای شوې چاودیدونکي توکي 39

له لېرې واټن څخه کنترول شوې ځای پر ځای شوې چاودېدونکې توکي 43

مقناطیسي ځای پر ځای شوې چاودېدونکې توکي 44

ځانمرګي او ډله ییز بریدونه 46

د قتل جنګي جرم: د ملکي وګړو هدفي وژنې 47

د شخړې سره د ملکي وګړو تړلې تښتونې 53

د موازي عدلي جوړښت مجازات 55

**۴. دولت پلوه ځواکونه** ۶۴

هغه تاکتیکونه او د پېښو ډولونه چې ملکي وګړو ته تر ټولو زیات زیان اړوي 64

هوايي عملیات 65

د افغان امنیتي ځواکونو او نړیوالو نظامي ځواکونو ګډ عملیات 69

دولت پلوه وسله والې ډلې 70

افغان سیمه ییز پولیس 73

**۵. حقوقي چوکاټ** ۷۸

د وسله والې شخړې د ښکیلو خواوو حقوقي مسؤلیتونه 78

**۶. اصطلاحات** ۸۳

**لومړۍ ضمیمه: د طالبانو له خوا ادعا شوي بریدونه: د هدف د ډول له مخې لنډیز** ۹۲

**دويیمه ضمیمه: د تصدیق د دریځ او منسوبونې د "جنګي جرمونو" په اړه د طالبانو د ادعاوو فهرست** ۹۴

**دریيمه ضمیمه: د ریکارډ لپاره د ناټو د پرېکنده ملاتړ د ماموریت یاداښت ، د ۲۰۱۶ کال د فبروري دریيمه نیټه** ۹۵

## میتودولوژي

یوناما د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې راپورونه تر هغه ځایه چې ممکن وي د مرګ ژوبلې په سیمه کې څیړي ، له مختلفوسرچېنو سره په پراخه کچه سلا مشوره کوي او بیلا بیل معلومات راغونډوي ، چې د اعتبار او باور له مخې ارزول شوي وي . یوناما د هرې پیښې په څیړنه او تحلیل کې زیاته هڅه کوي ، چې تر شوني بریده له مختلفوسر چېنو څخه راټول شوي معلومات او نظریات کره او کنټرول کړي ، لکه د عیني شاهدانو ، قربانیانو او په مستقیم ډول د زیانمن شویو وګړو ، د نظامي کارکوونکو ( د افغان حکومت او نړیوالو نظامي ځواکونو ، د دولت وسله والو مخالفینو په ګډون)، لکه د کلي/ ولسوالۍ او ولایت ځایي چارواکو ، مذهبي او د ټولنې د مشرانو او نورو برخه والو څرګندونې شامل دي.

یوناما ټول مالومات د پیښو له سیمې څخه د مستقیمو لیدنو ، د پیښو د محل څخه د لاسته راغلو موادو ، شواهدو او مدارکو د فزیکي ازموینې ، د روغتونونو او روغتیایي مرکزونو څخه د لیدنو ، د تصویرونو او ویډیوګانو ، د ملګرو ملتونو د امنیت او مصؤنیت د څانګې او نورو ادارو راپورونو ، د دوهم لاس سر چېنو ، او د هغه مالوماتو له لارې راغونډوي چې د غیر دولتيسازمانونو او دریمګړوسر چېنو له خوا ترلاسه شوي وي.

د ملکي تلفاتو د هرې ځانګړې پیښې د کره کولو لپاره یوناما لږ تر لږه درې ډوله‌سر چېنو ته اړه ده لکه قرباني ، شاهدان ، طبي پرسونل ، ځایي چارواکي ، په جګړه کې دښکیلو غاړو له خوا تایید ، قومي مشر یا نورې سر چېنې. تر هغه ځایه چې ممکن وي ، څیړنې د قربانیانو یا د پیښې د عیني شاهدانو په مستقیم شهادت او د پیښې د ځاي پر پلټنو ولاړې وي . ځینې وختونه ، د پېښې ځای ته د امنیتي ستونزو له امله لاس رسی محدود وي ، او دغه ډول تحقیقات ممکن نه وي ، په داسې وختونو کې یوناما یو لړ تخنیکونه کاروي چې د امکان تر بریده د پراخه معتبرو شبکو څخه معلومات تر لاسه کړي چې داعتبار او باور له مخې پوره ازښت لري.

کله چې یوناما د یوې پیښې په اړه د معلوماتو د کره والي څخه ډاډمنه نه وي د هغې پېښې په اړه راپور نه ورکوي. په ځینو قضیو کې تحقیقات ښایي مخکې له هغې چې نتیجې ته ورسیږي څو اونۍ وخت ونیسي . دا په دې مانا ده چې د ملکي تلفاتو په اړه نتیجې ښایي چې بیا نوې شي ځکه چې تازه معلومات را رسیږي او په تحلیل کې ورڅخه کار اخیستل کیږي. په کوم ځاي کې چې معلومات ښه څرګند نه وي او تر څو چې معتبر او قناعت بخښونکي شواهد لاس ته نه وي راغلي نو نتیجه ګیري تر هغو نه کیږي ،تر هغه پورې چې د قناعت وړ شواهد لاس ته راشي بې پایلې یانې نتیجې ته رسیدو پرته قضیه تړل کیږي او احصایوي راپور کې نه شاملیږي.

د ځینو پېښو په راپور کې د قربانیانو ملکي هویت (موقف) په بشپړ ډول نه شي ثابیتیدلای او یا لانجمن ټکي وي ، چې په داسې قضیو کې یوناما د بشرپالنې د نړیوال قانون معیارونه په پام کې نیسي او داسې نه ګني چې د جنګ لپاره د عمر په لحاظ برابر نارینه جنګیالی یا ملکي کس دی . بلکه دا ډول ادعاګانې په پیښې پورې د اړوندو حقایقو او پوښتنو پر بنیاد ارزول کیږي .

په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د خپل راپور او ارزونې څخه د ملاتړ په موخه ، یوناما په ۲۰۰۹ کال کې یو برښنایي ډیټابیس جوړ کړ. ډیټابیس داسې طرح شوی ، چې د معلوماتو سیستماتیکه ، یوشان او اغیزمنه

راټولونه او تحلیل اسانه کوي ، چې د جنس ، عمر ، مرتکب ، تاکتیک ، وسله او نورو کټګوریو په لحاظ د معلوماتو ویشل او تحلیل هم په کې شامل دي.

څرنګه چې په جګړه کې ډیري غاړې ښکیلې وي ، نو یوناما خپله هره لار په کار اچوي او د امکان تر بریده هڅه کوي چې د ملکي مرګ ژوبلې د پیښې مسؤل لوری په کره او مشخصه توګه په ګوته کړي ، د بیلګې په توګه طالبان یا افغان ملي اردو . د عملیاتو له ډګر سره د اړوندو محدودیتونو له امله لکه د ځینو نظامي عملیاتو ګډ ماهیت ، او په ځینو پیښو کې د لومړنیوسر چینو په دې کې پاتې راتلل چې د ګڼ شمیر نظامي برخه والو یا یاغیانو په منځ کې توپیر وکړي یا داسې حالات چیرې چې هیڅ لوری د یوې پیښې مسؤلیت نه مني ، او شونې نه وي چې کوم مشخص نظامي لوري ، امنیتي ځواک یا یاغي ډله د مشخصو ملکي مرګ ژوبلې په رامنځته کیدو کې مسؤل وګڼل شي . یوناما د ملکي تلفاتو د هرې پیښې لپاره دولت پلوه یا دولت وسله وال مخالفین مسؤل ګڼي.

د دولت پلوه ځواکونو او دولت وسله والو مخالفینو تر منځ د ځمکنیو نښتو پر مهال چې کله ملکي مرګ ژوبله یو لوري ته هم منسوب کیدي نشي ، نو یوناما داسې پیښه په یوه جلا کټګورۍ کې ثبتوي چې دواړو غاړو ته منسوبیږي. یوناما ادعاء نه کوي چې په دغه راپور کې احصایې بشپړې دي ؛ د کار په چاپیریال کې د محدویت په پام کې نیولو سره کیدای شي یوناما د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې پوره راپور نه ویور کړي.

## لنډيز


*"وروسته له هغې چې ماشوم مې مور او ويده کړ ، له اوبو څخه مې يو غړپ وکړ او کټ ته راستنه شوم. په دې وخت کې يوه ستره چاودنه وشوه او زمونږ د کوټې چت ونړيدو. ما وليدل چې چت پرما را ولويدو او زه بې هوښه شوم. کله مې چې سترګې پرانيستې ومې ليدل چې زما لاس ، پښو او ملا نه وينې رواني وې. هڅه مې وکړه چې پورته شم خو ونه توانيدم. شل دقيقې وروسته مې د خاوند پرلپسې چيغې واوريدې چې نور چېرته دي؟ زما پلار. هغه او زما زوی په چاودنه کې ډير سخت ټپيان شوي وو.ليوره مې دواړه سترګې له لاسه ورکړې وې. مونږ ډيره غريبه‌کورنی يو او هر څه مو له لاسه ورکړل."* [1]

-- يوه ښځه چې د اګسټ په ۷مه نيټه د کابل ښار د شاه شهيد په سيمه کې د ځانمرګي موټربم په چاودنه کې ټپي شوې وه. په دې بريد کې ۱۵ ملکي وګړي ووژل شول او ۲۸۳ نور ټپيان شول او په سلګونو کورونه ړنګ شول.

د ۲۰۰۹ کال راهيسې يوناما ترټولو زيات د ملکي مرګ ژوبله او د جګړې زيان ثبت کړې ده ، چې په افغانستان کې جګړې د ۲۰۱۵ کال په اوږدو کې ملکي وګړو ته سخت زيانونه اړولي دي. په ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کالونو کې د زياتوالي سره سره ، د جګړې اړوند تاوتريخوالي په پايله کې د رامنځته شوې ملکي مرګ ژوبلې په کچه کې د ۲۰۱۴ کال په پرتله څلور سلنه زياتوالی راغلی. د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ له لومړۍ نيټې څخه د ډسمبر تر ۳۱ مې پورې ، يوناما د ۱۱،۰۰۲ ملکي وګړو مرګ ژوبله (۳۵۴۵مړه ، ۷۴۵۷ ژوبل) ثبت کړې ده ، چې دا شميره په ملکي مړينه کې څلور سلنه او ژوبله کې نهه سلنه زياتوالی ښيي [2]. د هغه وخته چې يوناما په سيستماتيک ډول د ملکي مرګ ژوبلې ثبتونه پيل کړې ده ، د ۲۰۰۹ کال د جنورۍ له لومړۍ نيټې څخه د ۲۰۱۵ کال د ډسمبر تر ۳۱مې پورې يوناما د ۵۸،۷۳۶ ملکي وګړو مرګ ژوبله (۲۱،۳۲۳مړه ، ۳۷،۴۱۳ژوبل)ثبت کړي ده.

[1] د ۲۰۱۵ کال د اګسټ په ۱۶مه نيټه ، په کابل کې ، له يوه قرباني سره د يوناما مرکه


[2] په ۲۰۱۴ کال کې ، يوناما ۱۰،۵۳۴ ملکي مرګ ژوبله (۳۷۰۱ مړي ، ۶۸۳۳ ټپيان) ثبت کړې ده.




په دغه راپور کې ، د ۲۰۱۵ کال په اوږدو کې په افغانستان کې د جګړې اړونده تاوتريخوالي په پايله کې د ملکي وګړو بې درنګه زيانونه ثبت شوي دي. د وسله والې جګړې ناوړه پايلې او د اړونده بشري حقونو او د بشرپالنې د نړيوالو قوانينو څخه سرغړونې د ژوند بايللو او فزيکي ژوبلې څخه پورته تللي دي. د ۲۰۱۵ کال په اوږدو کې د جګړې اړونده تاوتريخوالي کورونه ، د ژوند وسيلې او ملکيتونه ويجاړ کړي دي ، په زرګونو کورنۍ يې بې ځايه کړې دي او د زده کړو ، روغتيا او نورو خدماتو ته يې د ملکي وګړو د لاسرسي ازادۍ محدودې کړې دي. سره له دې ، د لنډ او اوږد مهاله اغيزو سربيره ، د زياتيدونکې بې امنۍ ، د ملکي وګړو د کمزورې ساتنې او د بشري حقونو او د بشرپالنې د نړيوالو قوانينو ته د درناوي د کموالی له امله به دا بې وقفې اغيزې لا دوام پيدا کړي. په افغانستان کې د وګړو نسلونه د جګړې فزيکي او روحي اغيزو څخه کړيږي چې د حکومتي ادارو څخه ډير لږ او يا هيڅ ملاتړ نه ترلاسه کوي.

په ۲۰۱۵ کال کې د جګړې اړوند زياتيدونکي تاوتريخوالي له امله زيانمنيدونکي په هرو لسو کې يوه ښځه او په هرو څلورو کې يو ماشوم دي. څرنګه چې په ۲۰۱۵ کال کې د ټولې ملکي مرګ ژوبلې په کچه کې څلور سلنه زياتوالی راغلی ، يوناما د ښځو د مرګ ژوبلې (۱،۲۴۶ د ښځو مرګ ژوبله چې ۳۳۳ مړي او ۹۱۳ ټپيان جوړوي) په کچه کې ۳۷ سلنه او د ماشومانو د مرګ ژوبلې (۲،۸۲۹ مرګ ژوبله چې ۷۳۳ مړي او ۲،۰۹۶ ټپيان جوړوي) په کچه کې ۱۴ سلنه زياتوالی ثبت کړی دی.

د جګړې ښکيلو غاړو ترمنځ ځمکنۍ نښتې بيا هم د ټولې مرګ ژوبلې په پرتله د زياتې مرګ ژوبلې لامل شوی دی ، چې وروسته په ترتيب سره چاوديدونکو توکو ، ځان وژونکو او د له ايزو بريدونو زياته ملکي مرګ ژوبله رامنځته کړې ده. ځمکنيو نښتو زيات ملکي وګړي وژلي دي او وروسته په ترتيب سره هدفي او قصدي وژنو زياته وژنه رامنځته کړې ده.




د ۲۰۱۵ کال په اوږدو کې د ټولې ملکي مرګ ژوبلې په کچه کې د زیاتوالی لامل د دولت وسله والو مخالفینو له خوا د ځان وژونکو بریدونو ، د هدفي او قصدي وژنو او د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ځمکنیو نښتو او هوایي عملیاتو په لړ کې د ملکي مرګ ژوبلې په زیاتوالي او د ښکیلو غاړو ترمنځ د دوه طرفه نښتو په پایله کې په زیاتیدونکې مرګ ژوبلې ، په ځانګړې ډول د کندوز په ولایت کې د ښکېلو خواو تر منځ نښتو پورې [۳] ، تړاو لري.

### د ملکي مرګ ژوبلې مسؤلیت ته نسبت ورکول

یوناما د ټولې ملکي مرګ ژوبلې ۶۲ سلنه د دولت وسله والو مخالفینو [٤] ته او ۱۷ سلنه دولت پلوه ځواکونو [٥] ته (۱۴ سلنه افغان ملي امنیتي ځواکونو ته ، دوه سلنه نړیوالو نظامي ځواکونو ته او یو سلنه دولت پلوه وسله والو ډلو ته) منسوب کړې ده. د ټولې ملکي مرګ ژوبلې ۱۷ سلنه د افغان ملي امنیتي ځواکونو او د دولت وسله والو مخالفینو ترمنځ د ځمکنیو نښتو په پایله کې رامنځته شوې ده چې کومې مشخصې غاړې ته نه ده منسوب شوې. څلور سلنه ملکي مرګ ژوبله د جګړې څخه د پاتې شویو ناچاوده توکو [٦] په پایله کې رامنځته شوې ده. [۷]


---

[۳] د کندوز په ولایت کې په جګړه کې د ملکي وګړو او د بشري حقونو د ساتنې په اړه د یوناما او د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنرۍ راپور ، د ۲۰۱۵ کال د ډسمبر ۱۲ مه

[٤] د دولت وسله وال مخالفین ټول هغه کسان او وسله والې ډلې دي ، چې په وسلواله جګړه کې د وسله وال مخالف په توګه د افغانستان حکومت اونړیوالو ځواکونو په مقابل کې جنګیږي .دوي هغه کسان دي چې د طالبانو په شمول همدارنګه غیر دولتي سازمان لرونکي وسله وال ګروپونه دی چې په وسله واله جګړه کې بوخت دي او په مختلفو نومونو لکه د حقاني شبکه ،حزب اسلامي ، د ازبکستان اسلامي غورځنګ ، جهاد اسلامي اتحاد ،لشکر طیبه ، جیش محمد ګروپونه او همدارنګه نور پیژندل شوي ګروپونو لکه د داعش ګروپ او نور ملیشه ګروپونه چې د سیاسي ، عقیدوي ، اقتصادي هدفونو لکه جنایتکاره ګروپونه چې په جګره کې په مستقیمه توګه ښکیل او د جنګ استازیتوب کوي ،شامل دي.

[٥] د دولت پلوو ځواکونو لفظ هغو ځواکونو د پاره کارول کیږي چې د افغانستان امنیتي وسلوال ځواکونو او نورو ګروپونو په شمول ،د شورش ضد عملیاتونو کې په مستقیمه او غیرمستقیمه توګه د افغان دولت تر کنترول لاندې بوخت دي .دا ګروپونه شامل خو محدود په افغان ملي پوځ ، افغان ملي پولیس ، افغان سرحدي پولیس ، د ملی امنیت ځواکونه او افغان سیمه ییز پولیس چې د افغانستان تر قانوني ساختار لاندې کار کوي ،ندي ، او دولت پلوه وسلوال سیمه ییز وسله وال او ملیشې چې د افغانستان قانون کی کوم بنسټ نلري او د رسمي او پوځي اداري لاندې عملیات نکوي ، ویل کیږي .دا تعریف همدارنګه دنړیوالو ځواکونو ، استخباراتي او امنیتي ځواکونوته هم صدق کوی .دډیرو تفصیلاتو لپاره د تفصیلاتو برخې ته مراجعه‌وکړئ

[٦] یوناما د نیم سلنه څخه لږ کم ملکي مرګ ژوبله له پاکستان څخه افغانستان ته د راغلو توغندیو ته منسوب کړې.




## د دولت ضد عناصر

یوناما د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه د ډسمبر تر ۳۱مې نېټې پورې د ۶،۸۵۹ ملکي وګړو مرګ ژوبله (۲،۳۱۵ مړي او ۴،۵۴۴ ټپیان) ثبت کړې چې د دولت وسله والو مخالفینو د عملیاتو او بریدونو په پایله کې رامنځته شوې ده ، او دا د ۲۰۱۴[8] کال په پرتله ۱۰ سلنه کموالی ښیي. دغه کموالی د وسله والو مخالفینو له خوا د چاودیدونکو توکو او ځمکنیو نښتو په جریان کې د کمې شوې ملکي مرګ ژوبلې پایله ده. خو یوناما د وسله والو مخالفینو له خوا د ډله ییزو او ځان وژونکو بریدونو په جریان کې د ملکي مرګ ژوبلې په کچه کې ۱۶ سلنه زیاتوالی او د هدفي وژنو په پایله کې ۲۷ سلنه زیاتوالی ثبت کړي دی چې دا په ۲۰۱۵[9] کال کې د ټولو ملکي تلفاتو دویم مخکښ لامل ګرځیدلی.

د پیښنو هغو بیلګو سره سم چې په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۵ د لومړۍ نیمایي په راپور کې ثبت شوې دي ، د وسله والو مخالفینو له خوا د ځمکنیو نښتو په پایله کې د رامنځته شوې ملکي مرګ ژوبلې په کچه کې د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۳۸ [10]سلنه کموالی او لوچیدونکو توکو په پا - یله کې د رامنځته شوې مرګ ژوبلې په کچه کې ۲۰ سلنه کموالی راغلی دی. دغه کموالی د ملي امنیتي ځواکونو له خوا د چاودیدونکو توکو ضد هڅو

[7] له جګړې څخه راپاتې ناچاودي توکي چې په هغوی کې مسؤله ډله نه ده پیژندل شوې او یا د پخوانۍ جګړې ناچاودې توکي دي.

[8] په ۲۰۱۴ کال کې ، یوناما ۷،۶۴۳ ملکي مرګ ژوبله (۲،۶۷۷مړه او ۴،۹۶۶ ژوبل) د وسله والو مخالفینو ټولو ډلو ته منسوب کړې ده.

[9] د هدفي او قصدي وژنې تقریبا ۹۴ سلنه د دولت ضد ځواکونو ته منسوب شوې او پاتې یې د دولت پلوه ځواکونو او محلي پولیسو له خوا تر سره شوي دي. د ملکي وګړو هدفي او قصدي وژنه د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمایي کې ترټولو زیات د مړینې لامل شوې دي. په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما او عالي کمیشنرۍ د ۲۰۱۵کال شپږ میاشتنی راپور وګورئ.

[10] اړینه نه ده چې د ځمکنیوټونپه پا - یله کې د رامنځته شوې ملکي مرګ ژوبلې کموالی دی په دې مانا وي چې د دولت وسله وال مخالفین د ځمکنیو نښتو په جریان کې د کمې ملکي مرګ ژوبلې مسؤل دي: ځکه بل لور ته هغه ملکي مرګ ژوبله کې چې د ځمکنیو نښتو په جریان کې رامنځته شوې او یوناما نه ده توانیدلې چې یوې مشخصې ډلې ته یې منسوب کړي ، ۸۴ سلنه زیاتوالی راغلی دی.

او د وسله والو مخالفینو له خوا د هدف نیونې په کړنو کې د پرمختیاوو په کېدون د یو لړ نورو یو ځای شویو لاملونو او فکتورونو پایله ده. سربیره پردې د یادولو وړ ده چې په ۲۰۱۴ کال کې یوناما د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې لوړه کچه د ۲۰۱۴ کال په اپریل او جون میاشتو کې د ولسمشرۍ د ټاکنو د دواړو دورو په شاوخوا کې ثبت کړې ده. همدا ډول د بنسټیز تړاو په توګه د وسله والو مخالفینو له خوا د رامنځته شوې ملکي مرګ ژوبلې په کچه کې کموالی باید د دې حقیقت په تناظر کې ولیدل شي چې د دواړو خواو ترمنځ په ځمکنیو نښتو کې رامنځته شوې ملکي مرګ ژوبله کې په څرګند ډول زیاتوالی راغلی او دا هیڅ یو مشخص لوري ته هم ندي منسوب شوې.

## دولت پلوه ځواکونه

دولت پلوه ځواکونه ، په ځانګړي ډول افغان امنیتي ځواکونه په ۲۰۱۵ کال کې د زیات شمیر ملکیانو د مرګ ژوبلې لامل شوي دي. یوناما دولت پلوه نظامي ځواکونو ته منسوب د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې ۱،۸۵۴ (۶۲۱ مړه او ۱۲۳۳ ټپیان) پیښې ثبت کړې دي ، چې د ۲۰۱۴[11] کال په پرتله ۲۸ سلنه زیاتوالی ښیي. په افغانستان کې په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه د ۲۰۱۵ کال د شپږ میاشتني راپور په څېر ، یوناما موندلې ده چې دولت پلوه نظامي ځواکونو ته منسوب زیاتره د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې پیښې د ځمکنۍ نښتو په جریان کې رامنځته شوي دي. چې د غیر مستقیم او چاودیدونکو وسلو لکه هاوانونو ، راکټونو او لاسي بمونو د کارولو له امله رامنځته شوي دي. یوناما موندلې چې له هغه وخته چې په ټول افغانستان کې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د امنیت د خوندیتوب دنده سپارل شوې ده ، نو افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب شوې ملکي مرګ ژوبله کې زیاتوالی په نظامي عملیاتو کې د زیاتوالي له امله رامنځته شوي دي.

د تیرکال د کمیدو پر خلاف ، په ۲۰۱۵ کال په اوږدو کې د ۲۹۶ ملکي وګړو مرګ ژوبله (۱۴۹ مړه او ۱۴۷ ټپیان) ثبت شوې ده چې د دواړو افغان او نړیوالو نظامي هوایي ځواکونو د عملیاتو په پایله کې رامنځته شوې ده ، چې دا د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۸۳ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي. د هوا څخه پر ځمکې بریدونه چې د افغان امنیتي ځواکونو له خوا ترسره شوي دي ، د هوایي عملیاتو د ټولې مرګ ژوبلې نژدې نیمایي یا ۴۳ سلنه جوړوي. د ۲۰۱۵ کال په دوهمه نیمایي کې د افغان امنیتي ځواکونو د هوایي عملیاتو په پایله کې د رامنځته شوې ملکي مرګ ژوبلې پیښې ددې کال د اولې نیمایي په پرتله درې برابره زیاتې شوې دي.[12] یوناما موندلې ده چې دغه زیاتوالی د امنیت مسؤلیت د انتقال او د افغان امنیتي ځواکونو د زیاتیدونکي وړتیا له امله دي چې په نړیوالو نظامي ځواکونو باندې د تکیې څخه پرته هوایي ملاتړ په لاره اچوي.

[11] یوناما په ۲۰۱۴ کال کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې ۱۴۵۳ (۶۱۰ مړه او ۸۴۳ ټپیان) پیښې چې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب دي ، ثبت کړي دي.
[12] د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ د لومړۍ نیټې څخه د جون تر ۳۰مې نیټې پورې ، یوناما د افغان هوایي ځواکونو د عملیاتو له امله د ۲۸ ملکي وګړو مرګ ژوبله (۵ مړي او ۲۳ ټپیان) ثبت کړې ده ، او د جولای د لومړۍ نیټې څخه د ډسمبر تر ۳۱مې نیټې پورې د ۹۸ ملکي وګړو مرګ ژوبله (۴۱ مړه او ۵۷ ټپیان) ثبت شوي دي.

*ملکي تلفات چې یوې خوا ته هم نه دي منسوب شوي*

له ۱۱۰۰۲ ملکي تلفاتو د جملې څخه چې یوناما مستند کړي ۴۹۳ ملکي مړه او ۱۳۹۲ ټپیان (۱۸۸۵ ملکي وګړو مرګ ژوبله)- ۱۷ سلنه یوې خوا ته هم نه شي منسوب کیدای. ددغو تلفاتو ډیری یې د حکومت پلوه ځواکونو او حکومت ضد عناصرو ترمنځ د ځمکنیو نښتو په پایله کې رامنځ ته شوي.

دغه شمیر د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۹۰ سلنه زیاتوالی څرګندوي او تر زیاته بریده په کندز ښار کې د سپتمبر د ۲۸ او اکتوبر تر ۱۳ پورې د جګړو په پایله کې رامنځ ته شوي[۱۳] چې یوناما نه شو کولای دغه تلفات د ښکېلو خواو کوم معلوم لورې ته منسوب کړای شي.


**ځمکنۍ نښتې**

ځمکنۍ نښتې د ملکی مرګ ژوبلو مخکښ لامل دی چې له امله یې په ۲۰۱۵ کې ۴۱۳۷ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله (۱۱۱۶ مړه او ۳۰۲۱ ژوبل) اړولې چې دا ۱۵ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. د دغو تلفاتو نیما یې- ۴۴ سلنه (۱۸۳۴ تلفات ، ۴۷۲ مړه او ۱۳۶۲ ژوبل) د ځمکنیو نښتو له امله راپېښ شوي. په عمده ډول له دواړو خواوو د ډزو په نتیجه کې چې د حکومتي ځواکونو او حکومت ضد عناصرو ترمنځ کیدلې خو هیڅ لورې ته نه شي منسوب کیدای.[۱٤]

لکه څنګه چې وویل شول د ځمکنیو نښتو له امله دولت ضد عناصرو ته په منسوب شویو مرګ ژوبلو کې کموالی او په هغو تلفاتو کې چې حکومت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي زیاتوالی تر سترګو کیږي.[۱٥]

---

[۱۳] په ۲۲ پاڼه کې د کندز په اړه متن وګورئ.
[۱٤] په ۲۰۱۴ کې یوناما د ۹۹۴ ملکی وګړو مرګ ژوبله (۲۹۷ مړینې او ۶۹۷ ژوبلې) مستند کړي چې د ځمکنیو نښتو به ترڅ کې رامنځ ته شوي او هیڅ لورې ته نه دي منسوب شوې.
[۱٥] د زیان د تفصیل لپاره د ځمکنیو نښتو برخه وګورئ.




## کتنې

په ۲۰۱۵ کال کې د جګړې ښکیلې غاړې د نظامي ، ځمکني قلمرو او یا نورو سیاسي ګټو د ترلاسه کولو په موخه په دې کې پاتې راغلل چې د ملکي وګړو د ژوند ساتنه وکړي. طالبان او د دولت نور وسله وال مخالفین یو ځل بیا د ملکي وګړو د مرګ-ژوبلې د زیاتې اندازې مسوولیت پرغاړه لري. یوناما د دولت د مخالفو وسله والو ډلو له لورې دځای پر ځای شوو چاودیدونکو توکو او ځکمنیو نښتو په ګډون د نورو تاکلو تاکتیکونو څخه د ګټې اخیستنې له امله د ملکي مرګ-ژوبلې په کچه کې کموالې ثبت کړی. د دولت وسله والو مخالفینو د پخوا په څیر په وګړنیزو او کڼ میشتو سیمو کې ، پرته له دې چې د خپلو هدفونو شاوخوا کې د ملکي وګړو ژوند ته پاملرنه وکړي خپلو ډله‌یزو او ځانمرګو بریدونو ته دوام ورکړی دی ، ان تر دې چې په ډیری مواردو کې په خپلو هدفونو کې هغه د ملکیتوب اصل هم نه دی رعایت کړی.

په ۲۰۱۵ کال کې ، د دولت مخالفو وسله والو ډلو (طالبان او نورو وسله والو ډلو) خپل پام دې ته اړولی ؤ ، ترڅو د واک لاندې سیمو کې په ځینو برخو کې د دولت حضور وننګوي. هغوي وکولای شول چې د دولت څخه د ډیری ولسوالیو ودانۍ ترخپلې ولکې لاندې راولې او حتاهغوي وکولای شول چې یادې ولسوالۍ د تیرو کلونو پرخلاف د یو څه زیات وخت لپاره د ځان سره وساتي. هغوي د لنډ وخت په موده کې وکولای شو چې د کندز ښار ونیسي. دا په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو د رژیم د راپرځیدو وروسته لمړنې مرکزي ښار ؤ چې د طالبانو لاسو ته ولوید. د دولت مخالفو وسله والو خپل پام ګڼ میشته ښارونو (ښارونو ، بازارونو او لویو کلیو) ته اړولې ؤ ترڅو په دغه ځایونو کې ، په ځانګړې توګه

په کابل ښار کې د خپلو ځانمرګو او نورو مرګونو حملو په ترسره کولو د دولت حضور او ولکه وننګوي. طالبانو د نیمایې څخه د زیاتو ځانمرګو او ډله ایزو بریدونو پړه پرغاړه واخیسته چې د ډیرو ملکي وګړو د مرګ-ژوبلې لامل شوی دی.[۱۶]

د ۲۰۱۵ کال په اوږدو کې ، طالبانو په بار بار څرګنده کړې وه چې د ملکي وګړو ساتنه د دوی له بنسټیزو موخو څخه شمیرل کیږي ، خو بیا هم دوی د ډیری ملکي مرګ ژوبلې لامل شوي دي او په داسې ځایونو کې یې بریدونه ترسره کړي چې ملکي وګړو ته د زیان اوښتو شونتیا په کې زیاته وي. که څه هم دوی په عامه توګه په دوو پیښو کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې ادعاوې منلې دي ، خو په ملکي وګړو یې واقعي اغیز نه دی څرګند کړي. طالبانو ادعا کړې چې یوازې یو څو ملکیان برسیرن ټپیان شوي دي ، خو په دوو بریدونو کې څلور ملکي وګړي وژل شوي دي او ۴۲ نور ټپیان شوی دي (د لا زیاتو مالوماتو لپاره لاندې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د طالبانو د څرګندونو څپرکی وګورئ).

حکومت په داسې وخت کې چې هیواد هم مهاله د څو سیاسي ، امنیتي او اقتصادي لیږدونو څخه تیر شو ، هڅه کړې چې خپل قلمرو او وګړي په مناسبه توګه خوندي کړي. د پیښو پورتنۍ بیلګې چې د نوموړو لیږدونو سره یو ځای شول ، ملکي وګړي یې په زیاتیدونکي توګه په خطر کې واچول. په ۲۰۱۵ کال کې طالب ځواکونو د ۲۴[۱۷] ولسوالیو مقامونه ونیول چې دا شمیره په ۲۰۱۴ کال کې څلور وه ، چې افغان ځواکونه یې اړ کړل ترڅو په څو جبهو کې هم مهاله جګړه وکړي. د ۲۴ ولسوالیو څخه څلور د ۲۰۱۵ کال په اخر کې د طالبانو په ولکه کې پاتې شوې. د افغان ځواکونو تلفات ددې لامل شول چې د ملکي وګړو په ساتنه کې د دوی وړتیا کمزورې شي ، او دې په حکومت باندې د عامه اعتماد له منځه تلو ته لاره هواره کړه.

د دولت وسله والو مخالفینو له خوا د بریدونو زور اخیستو ته په ځواب کې ، افغان امنیتي ځواکونه او نړیوال نظامي ځواکونه دواړه ملکي وګړو ته د زیاتیدونکي زیان لامل ګرځیدلي دي. یوناما اندیښنه لري چې افغان امنیتي ځواکونه زیاتره وخت په درنو او چاودیدونکو وسلو باندې په دفاعي توګه او یا د لومړنۍ درجې وسلې په توګه تکیه کوي.

وروسته له هغې چې د جګړې په ډګر کې د افغان امنیتي ځواکونو تلفات زیات شول (په ۲۰۱۵ کال کې له ۱۲۰۰۰ څخه زیات)[۱۸] حکومت په داسې وخت کې د دولت پلوه وسله والو ډلو او د ملي پاځونونو او خوځښتونو څخه ملاتړ پیل کړ چې دوی هم مهاله د داسې ډلو بې وسلې کولو وعدې کولې[۱۹] ، او دا په ۲۰۱۶ کال او له هغې وروسته د بشري حقونو د خوندیتوب په اړه جدي اندیښنې راپورته کړې. همدارنګه ۲۰۱۵ کال د داعش ډلې په ګډون د عملیاتو په ډګر

[۱۶] د ۷۴ ځانمرګو او ډله ایزو بریدونو څخه چې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې لامل ګرځیدلي ، طالبانو د ۴۱ بریدونو پړه پر غاړه اخیستې. دا یوازې هغه بریدونه دي چې طالبانو په خپله ویب پاڼه او یا ټویټر کې یې پړه پر غاړه اخیستې ده. هغه ملکي مرګ ژوبله چې یوناما طالبانو ته منسوب کړې ده او طالبانو یې په اړه څه نه دي ویلي ، د وسله والو مخالفینو تر چتر لاندې شامل شوي دي.

[۱۷] د ۲۰۱۶ کال د جنورۍ په ۱۴مه نیټه د ملګرو ملتونو د امنیت او مصونیت څانګې سره د یوناما کتنه. د هغو ولسوالیو مرکزونه چې طالبانو نیولي دي: جوند ، یمګان ، چاردره ، دشت ارچي ، وایګل ، کوهستانات ، نوزاد ، موسی قلعه ، راغستان ، وردوج ، بهارک ، خاک سفید ، خواجه غار ، امام صاحب ، کندز ښار ، تله وبرفک ، خام اب ، ګرزیوان ، غورک ، بالا بلوک ، غورماچ ، درقد او ریګ ولسوالۍ. په ۱۴ کال کې طالبانو د یمګان ، دوا ـ ب ، چارسده او کوران و مونجان ولسوالۍ نیولې وې.

[۱۸] د ۲۰۱۶ کال د جنورۍ په ۱۷ مه نیټه د ملګرو ملتونو د امنیت او مصونیت د څانګې بریښنا لیک. یو ان ډي ایس ایس په افغان امنیتي ځواکونو کې ۱۲،۱۶۹ مرګ ژوبله (۴،۵۴۱ مړه او ۷،۶۲۸ ټپیان) ثبت کړې ده چې د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۲۰ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي. یو این ډی ایس ایس نوټ کړې ده چې د ۲۰۱۵ کال د نومبر او ډسمبر په میاشتو کې د افغان ځواکونو تلفات ترلاسه نشول ، ځکه چې حکومت د ۲۰۱۵ کال په پای کې محدودیتونه وضع کړي وو.

[۱۹] د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر په ۱۶مه نیټه ، د افغانستان ولسمشر کندز ولایت څخه د لیدنې په ترځ کې ټینګار وکړ چې : په هیڅ صورت سره به ملیشه ځواکونه جوړ نشي او د افرادو مسؤلیتونه به په رسمي چوکاټ کې تحویل شي. د ۲۰۱۶ کال د جنورۍ په ۱۶ مه نیټه د ولسمشرۍ دفتر مطبوعاتي اعلامیه وګورۍ: http://president.gov.gov.af/en/news/54437


کې د نويو افراطي دولت ضد ډلو د راڅرګندېدو شاهد و ، کومو چې د ملکي وګړو لپاره نوی ، خطرناکه او په جغرافيوي لحاظ محدود تهديد له ځانه سره راوړ.

د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ په لومړۍ نيټه ، نړيوال نظامي ځواکونه د جګړې ماموريت څخه د روزنې ، مرستې او مشورې ماموريت ته وليږديدل. د ناټو/ يساف د رسمي ماموريت د پای ته رسيدو سربيره ، نړيوالو نظامي ځواکونو له خپلو افغان سيالانو څخه خپل مستقيم نظامي ملاتړ ته ادامه ورکړه ، لکه څنګه چې جګړې زور واخيستو ، نړيوال نظامي ځواکونه هم د مستقيمې جګړې په حالاتو کې راکاږل شول. سربيره پردې ، د داعش سره د تړلو وسله والو مخالفينو نويو ډلو په رامنځته کيدو او د ملا عمر د مرګ له څرګنديدو څخه وروسته په مختلفو ډلو د طالبانو د ډلې ويشل کيدل او همدارنګه د هيواد په مختلفو سيمو کې د دولت پلوه وسله والو ډلو رامنځته کيدلو د ملکي وګړو خونديتوب هڅې لا پيچلې کړې.

د ۲۰۱۵ کال په اوږدو کې د ملکي مرګ ژوبلې زياتوالی په دوو زونونو شمال ختيځ او مرکزي افغانستان کې متمرکزه وه. که څه هم په ځينو ټاکلو بيلګو کې ، لکه د ملکي وګړو هدفي او قصدي وژنو کې زياتوالی او يا د هوايي بريدونو په پايله کې ملکي وګړو د مرګ ژوبلې لوړوالی په ټول هيواد کې ثابت پاتې شوی دی ، خو يوناما په نورو زونونو کې په ملکي مرګ ژوبله کې کموالی ثبت‌کړی دی ، چې په دې ډله کې په جنوبي زون کې ۶ سلنه کموالی راغلی دی ، خو د دې سره بيا هم هلته تر ټولو زيات د ملکي وګړو تلفات رامنځ ته شوي چې بيا ورپسې د شمال ختيځ او مرکزي زونونو کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې کچه لوړه وه.

**په سيمه ييزه کچه د ملکي وګړو مرګ او ژوبله**

**جنوری - دسمبر : ۲۰۰۹ - ۲۰۱۵**




| | مرکز | مرکزي لوړه سيمه | ختيځ | شمال ختيځ | شمال | جنوب شرق | جنوب | لويديځ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2009 | 942 | 27 | 785 | 262 | 188 | 959 | 2440 | 365 |
| 2010 | 641 | 8 | 975 | 479 | 381 | 1387 | 2940 | 351 |
| 2011 | 1242 | 3 | 1262 | 606 | 369 | 1775 | 2057 | 528 |
| 2012 | 1183 | 14 | 1183 | 376 | 848 | 1442 | 2021 | 523 |
| 2013 | 1255 | 53 | 1606 | 573 | 667 | 1624 | 2050 | 810 |
| 2014 | 1488 | 67 | 1813 | 929 | 1060 | 1677 | 2686 | 814 |
| 2015 | 1753 | 58 | 1646 | 1978 | 858 | 1470 | 2537 | 702 |

په ۲۰۱۵ کال کې د ۲۰۱۴ کال په پرتله په شمال شرق کې ملکي تلفات دوه برابره وه ،دليل يې په کندوز ښار اواړونده پرتو سيمو کې جګړې وې.

د ۲۰۱۵ کال د اپریل او جون د پرمختګونو په تعقیب ،په ۲۸ د سپتمبر طالبانو په کندز حمله وکړه او کندز یې ونیوه. له دوو اونیو زیات یې په ښاری سیمو کې جګړه روانه وه چې تر ۱۳ داکتوبر یې‌دوام وکړ. کله چې دوي د ښار څخه د وتلو اعلان وکړ ،افغان امنیتي ځواکونو بیرته ښار په خپله ولکه کې راوست ، ډیری ملکي تلفات د افغان امنیتي ځواکونو او طالب جنګیالیو په څمکنۍ جګړه کې رامنځ ته شول. په داسې حال کې چې یوناما یو لړ ملکي تلفات د هدفی یا قصدي وژنو ،صحرائی محاکمې ،هوائی عملیات ، پر بې پولې ډاکټرانو(ایم اس ایف) باندې د اکتوبر پر ۳ نېټه د متحده ایالاتو د هوائي برید په ګډون ثبت کړي دي.

د مرکزي زون ، په خاص ډول د کابل په ښار کې ۱۸ سلنه ملکي تلفات د ډله ییز او ځان وژنکو حملو په نتیجه کې زیات شوی. د مثال په ډول په ۷ د اګست دوو ځانمرګو بریدونو ۳۵۵ ملکي‌تلفات رامنځ ته کړل ( چې ۴۳ مړه او ۳۱۲ ژوبل) چې دا د ۲۰۰۹ کال راپدیخوا له کومه چې یوناما په سیستماتیک ډول د ملکي تلفاتو د ثبت پروسه پیل کړي تر ټولو لوړ ملکي تلفات په یوه ورځ کې شمیرل کیږي.

د یوناما د ۲۰۱۴ م کال په جنګ کې د ملکي تلفاتود ساتنې د لومړنی شپږ میاشتني او کلني راپور په تعقیب د عامو وګړو په نسبت دښځو او ماشومانو تلفات زیات وو. چې د ټولو ملکي تلفاتو څخه ۱۱ سلنه یې د ښځو تلفات تشکیلوی (دا په ۲۰۱۴ م کال ۹ سلنه وه )، او د ماشومانو تلفات د د ټولو ملکي تلفاتو ۲۶ تشکیلوی ( دا په ۲۰۱۴ کال ۲۴ وه).

په ۲۰۱۵ م کال کې د جنګونوله وجې د ملکي وګړو په زرګونه مړینه او ټپي کیدل دا په ډاګه کوي چې د جنګ ماهیت او بڼه تغیرشوی او په جنګ کې د ملکي وګړو د تلفاتو په ژغورنه کې د جنګ ښکیلی ډلې پاتې راغلی. یوناما یو ځل بیا ټینګار کوي چې د بشرپالنې نړیوال قانون په جګړه کې له ټولو ښکیلو خواوو غواړي ، چې د جګړې له زیان څخه د ملکي وګړو د ساتنې لپاره مهم اقدامات تر سره کړي ، لکه د بشرپالنې او بشري حقونو د نړیوالو قوانینو څخه د سرغړونې په صورت کې د احتساب او د زیانمن شویو وګړو لپاره د خساري جبران او مرستې یقیني کړي.

په دې اړه یوناما یو ځل بیا د جنګ په ښکیلو ډلو غږ کوي چې د بشرپالنې د نړیوالو قوانینو د مسولیت پر اساس د ملکي تلفاتو په مخنیوي کې اساسی اقدامات ترسره کړي څو په ۲۰۱۶ کال کې ملکي تلفات کم شي ، ددولت مخالفی ډلې د عامو وګړو په وړاندې د ډلېزوبریدونو او ځان وژنکوحملو څخه باید لاس پر سر شي او په ځانګړي ډول د عام میشت ځایونو کې د د هر ډول چاودیدونکو توکو استعمال ودروي.ددولت ضد عناصر باید د ملکي وګړو قصدي وژنې او په غیر قانوني او بې توپیره‌توګه د فشاري ماینونو ځای پرځای کولو څخه سملاسي ډډه وکړي.

د افغان امنیتي ځواکونو په شمول ټولی ښکېلی ډلې په خپلو نظامي عملیاتو کې د ملکي تلفاتو د مخنیوی لپاره بایدعملی احتیاطی تدابیر ونیسي.او په عام میشته ځایونو کې د درندو وسلو کارول ، غیر مستقیم نښه کول او د چاډیدونکو توکو له کارولو څخه ډډه وکړي.

یوناما په دی خبره بیا هم ټینګار کوي چې د جنګ ټولې ښکېلی ډلې د هغو وسله والو ځواکونو حساب ورکونه یقیني کړي ، چې قصدي ، تعصبي او غافلانه ملکي وژنې او ټپي کیدنې کوي.

د جنګ ښکیلو ډلو ته یوناما لاندې سپارښتنې کوي تر څو د ملکي وګړو او ټولنو په وړاندې او د ملکي تلفاتو د مخنیوی لپاره خپلې هڅې د بشرپالنې او د بشري حقونو نړیوالو قوانینو ته په مسؤلییت لرلو کې ترسره کړي.

## سپارښتنې:

### د دولت ضد عناصر:

د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې مسولیتونه:

- د ملکیانو او د ملکي وکړو د ځایونو نه په نښه کول په ځانګړي ډول مرستندویه کارکونکی ،ددولت ملکي کارکونکی ،ژورنالستان ،د بشري حقوقو مدافعین ،قاضیان ،څارنوالان ،د عبادت ځایونه او کلتوری مراکز او د بشرپالنې د نړیوال قانون سره مطابقت کې د ملکي وګړو تعریف پلی کړئ .
- د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د ماینونو د استعمال په خاص ډول د غیر متناسبو ډله ییزو او ځان وژنکو حملو ودرول ، په ټولو هغو ځایونو کې چې د ملکي کسانو له خوا ډیر تګ راتګ ورته کیږي او د غیر قانوني فشار په ذریعه چاودیدونکو توکو له کارونې څخه ډډه کول.
- په عام میشته ځایونو او د عام میشته ځایونو څخه د راکیټونو ، لاسي بمونو ، د هاوان د ګولیو د استعمال مخنیوی وکړئ.
- د طالبانو د مشرتابه د هغو بیانیو نافذول چې پر ملکیانو او دملکیانو په میشت ځایونو د حملو مخنیوی کوي. د هغو لارښونو پلی کول چې طالبانو ته امر کوي چې د ملکي تلفاتو مخه ونیسي.او د هغو خلکو څخه حساب وغواړئ چې ملکي کسان د هدف لاندې نیسی ،وژنې یې یا یې ژوبلوی.
- د طالبانو د رهبرۍ لخوا د هغو اعلامیو تقویه کول کوم چې د ښځو او نجونو بشري حقونه تقویه کوي ، په تېره بیا په هغو ځایونو کې چې د طالبانو په ولکه کې دي: چې د نجونو په تعلیم ،استادانو او په تعلیمی سکتور بریدونه او تهدیدونه ودروي.
- دا یقیني کړي چې جنګیالی به ښوونځي ،روغتونونه او کلینیکونه د نظامي هدفونو لپاره نه کاروي. او د پولیو واکسین د کمپاین او د پولیو د واکسیناتورانو په وړاندې د تهدیدونه او بریدونه ودروي.

### د افغانستان دولت:

- په عام میشته ځایونو کې د راکټ ،لاسی بمونو د هاوان د ګولیو او هوائی بریدونو څخه مخنیوی وکړي. د چاودیدونکو وسلو او جنګي الوتکو لپاره د خاصو تاکتکونو او طرز العملونو رامنځ ته او پلي کړي.
- په جنګ کې د ملکي تلفاتو د کمولو په خاطر دیوی ملي پالیسی رامنځ ته کول او د هغی د عملی کولو لپاره د کړنلارې شتون چې جګړو کې د ملکي وګړو د تلفاتو د مخنیوي په اړه څرګند اهداف ولري ، او په دولت کې د داسې‌یو ار ګان رامنځ ته کول تر څو په جګړه کې د زیانمن شویو ملکیانو د ټولو پیښو څیړنه وکړي.
- ټولې وسله والی ډلې ،ملیشی او د ملي پاځون حرکتونه باید ژر ترژره بې وسلی او منحل شي .
- د افغان ملي امنیتي ځواکونه او ددولت ملاتړو ډلو لخوا د نړیوالو بشري قوانینو او د بشرپالنې د نړیوال قانون د سرغړونو څیړل. او د نړیوال او ملي قوانینو د غوښتنې سره سم مقصر پېژندل شوي کسان محاکمه او مجازات شي ، او د هغو حمایتي شبکو رسوا کول چې د معافیت کلتور ته وده ورکوي.


- د تاوتریخوالی د قربانیانو د جبیرې د پاره د یوې‌موثرې چارې برابرول او یقیني کول ، او د جګړې په نتیجه کې د وژل شویو او ټپیان شویو د ښځو او فامیلونو لپاره د خسارې د جبران د پروسی غښتلی کول ، او د خسارې‌د جبیر ان د ترلاسه کولو او خدماتو ته د لاس رسی په برخه کې د عامه پوهاوی لوړل.
- د افغان ملي امنیتي ځواکونو ظرفیت لوړلو ته لومړیتوب ورکول ترڅو وشی کولای چې په اغیزناک ډول د چاودیدونکی توکو د پیداکولو ، خنثی کولو او د استعمال د چارو قومانده او کنترول په خپله غاړه ولري. د چادیدونکو توکو پر ضد د ملي‌ستر اتیژی د تطبیق لپاره د تولو اړینو منابعو په اختیار کې ورکړل شي.
- په سمدستي توګه د ښوونځیو ، روغتونونو او کلینیکونو څخه د پوځی مقاصدو په خاطر د ګټې اخیستنې بندول او د دې داډ ورکړل شي چې روغیتایی‌مر کزونه د بې طرفه ځایونه په حیث درناوې کیږي.

## نړیوال نظامي ځواکونه:[20]

- د بې پوله ډاکټرانو(ایم اس ایف) پر روغتون د برید خپلواکه ، بې طرفه ،رڼې او واقعی څیړنې تر سره کړئ او خلکو ته په عمومي ډول د نتایجو اعلانول او څوک چې د دې پیښې مسؤل دي‌باید حساب ور کړي. دولتونه باید د دوی تر قضاوت لاندې له هغو کسانو څخه چې په داسې پیښو کې ښکیل وي ، د یوې عاجلې ،موثرې ، خپلواکې ، ناپیلې او رڼې پروسې په اساس د هغو اشخاصو څخه تحقیق او څیړنه وکړي چا چې د دې برید امر کړی او هغه چې دا برید یې تر سره کړي.په جنګي جرایمو تورن او مشکوک افراد باید په نافذه محاکمو کې محاکمه شي البته د متهمینو د حقوقو په نظر کې نیولو سره ، د خسارې د جبران د ورکولو لپاره باید لازم ګامونه واخستل شي.
- د هدف نیونې اوسنی پروتوکولونه ،عملیاتي پالیسی او د هدف نیونی نه دمخه معیارونه باید وارزول شي ترڅو په راتلونکی کې په ملکي ځایونو او روغتونو د برید مخه ونیول شي.
- د نړیوالو امنیتي او استخباراتي قواو د عملیاتو په نتیجه کې د ملکي تلفاتو د ادعاو په تړاو باید تر عملیاتو وروسته ارزونه او تحقیق تر سره شي په ځانګړي ډول د بې پیلوټه الوتکو بریدونو او تلاشۍ په عملیاتو کې لازم اقدامات باید تر سره شي.تر څو حساب ورکونه ،د خسارې جبران ورکول او د بهترو عملیاتي ګامونو اخستل یقیني شي.
- د جنګ جګړو په وخت کې د ملکي تلفاتو د کمولو د ملي پالیسی د جوړونې او تطبیق په برخه کې د افغانستان حکومت ملاتړ وکړئ.
- د پالیسي او عملیاتو په کچه د ۲۰۱۶ کال وروسته افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د روزنی ،منابعو او نورو اړوندو برخو کې مرستې ته ادامه ورکول چې دا تر تکتیکی کچې پراخه شي .د غیر مستقیمو وسلو او جنګي الوتکو د کارولو په تړاو د مناسب پروتوکولونو ، روزنې او د ملکي تلفاتو کمولو ته دې ځانګړ ی پاملرنه وشي.
- په ۲۰۱۶ کال کې او تر هغه وروسته د ملي امنیتي ځواکونو ملاتړ کول تر څو وشی کولای په ښه توګه د چاودیونکو توکو د پیداکولو ،خنثی کولو او استعمال د چارو قومانده او کنترول په خپله غاړه ولري.

---

[20] یوناما پوهیری چی د ناتو د غوڅ ملاتړ ماموریت د وراندیزونو د پلي کولو په اړه تازه معلومات د سوابقو په یو لیک کې د ۲۰۱۶ کال د فبروري میاشت په ۳ نیته وړاندې کړي .ددې راپور ۳ ضمیمه وګورئ.


په سیمه ییزه کچه د ملکي وګړو مرګ او ژوبله
د ۲۰۱۵ د جنوری څخه تر دسمبر پوری
وژل شوي کسان
ټپیان
ټول
3000
2500
2000
1500
1000
500
0
408
1345
1753
30
28
58
483
1163
1646
637
1341
1978
294
564
858
514
956
1470
891
1646
2537
288
414
702
مرکز
مرکزي لوړه سیمه
ختیځ
شمال ختیځ
شمال
جنوب شرق
جنوب
لویدیځ

## ۱. په جنګ ځپلو سیمو کې د بشري حقونو ساتنه


### ښځې او وسله والې شخړې[۲۱]

*"اوخته و، چې د دولتي ځواکونو او د داعش جنګیالیو ترمنځ جګړه پیل شوه او زما مور پلار پریکړه وکړه چې موږ باید کور پریږدو. کله چې مارکو کلی ته ورسیدو، زموږ پر موټر د سړک غاړې ځای پر ځای شوی بم واولوت او زه بې هوښه شوم. زه په ریښتیا نه پوهیږم، چې دا هر څه څرنګه رامنځ ته شول. زه په روغتون کې بیرته په هوښ شوم او ومې ومونده چې زما د کورنی نور غړي هم ټپي شوي وو."*[۲۲]

-- د ۲۰۱۵ کال د سپټمبر پر ۳۰ د ننګرهار ولایت د اچین ولسوالی د ملازم تالاو په سیمه کې د سړک د غاړې د ځای پر ځای شوی بم چاودنې په پیښه کې یوه ۲۰ کلنه میرمن؛ په دغې پیښه کې د څلورو هلکانو او دوو نجونو په ګډون، یو ملکي نارینه ووژل او ۷ نور ټپیان شول.

د ۲۰۱۵ په اوږدو کې، یوناما پر هغو ښځو چې په مستقیم او غیر مستقیم ډول اغیزمنې کیږي، د جګړې پراخې اغیزې مستندې کړې دي. د ۲۰۱۵ کال د جنوري او ډسمبر ترمنځ، یوناما د ښځو ۱۲۴۶ مرګ ژوبله (۳۳۳ مړه او ۹۱۳ ژوبل) مستنده کړې، چې د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۳۷ سلنه لوړوالی ښیي.[۲۳] دغه زیاتوالی په وسله والو جګړو کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۴ کال په شپږمیاشتني او کلني راپورونو کې مستند شوي تمایلات تعقیبوي، کوم چې پر ښځو د جګړې زیاتیدونکی اغیز په ډاګه کوي. په ۲۰۱۵ کې د ټولې ملکي مرګ ژوبل ۱۱ سلنه د ښځو تلفات جوړوي، کومه چې په ۲۰۱۴ کال په ورته موده کې ۹ سلنه وه. په منځنی کچه، د ۲۰۱۵ په هره اوونی کې د جګړې د تاوتریخوالي له امله تر ۲۴ زیاتې ښځې ژوبل یا وژل شوي.

[۲۱] یوناما/د بشري حقونو د عالي کمیشنر دفتر به په افغانستان کې پر ښځو د شخړو د اغیزو په اړه د یوې جلا څیړنې موندنې د ۲۰۱۶ کال په مارچ کې خپرې کړي.
[۲۲] له یوه قرباني سره د یوناما مرکه، د جلال اباد روغتون، ۴ اکتوبر ۲۰۱۵.
[۲۳] په ۲۰۱۴ کال کې یوناما د ښځو ۹۰۹ مرګ ژوبله (۲۹۸ مړینه او ۶۱۱ ژوبله) مستنده کړې.




په ۲۰۱۵ کال کې ، دولت ضد عناصرو د ښځینه پولیسو ، پارلمان غړو او دغه راز د هغو میرمنو په ګډون چې خپلوان یې په امنیتي ځواکونو کې دنده ترسره کوي ، د بشري حقونو د ښځینه نامي مدافعینو او په عامه خدمتونو کې د ښځینه کارکوونکو په نښه کول جاري ساتلي.

د وسله والي شخړې اړوند د ښځو د لوړ شمیر مرګ ژوبل تر څنګ ، دولت ضد عناصرو په زیاترو هغو سیمو کې چې د دوي تر ولکې لاندې دي ، په زیاتیدونکی ډول له بنسټیزو بشري حقونو څخه د ښځو او نجونو د برخمن کیدو مخه نیولې. د ۲۰۱۵ په اوږدو کې ، یوناما د دولت ضد عناصرو داسې پیښې مستندې کړې ، چې په قصدي ډول یې د ښځو او نجونو خوځښت محدود کړی ، روغتیایي خدمتونو ته یې د هغوي لاس رسی او تر لومړنیو زده کړو ها خوا یې د نجونو زده کړې منع کړې. له بل پلوه حکومت خپلې هڅې رواني ساتلې ، څو له هغو کورنیو سره مرسته وکړي ، چې د جګړې له امله یې روزي ګټوونکي له لاسه ورکړي او مشري یې د ښځو له خوا کیږي.[24]

د ۲۰۱۵ کال د جنوري د لومړۍ نیټې او د ډسمبر د ۳۱ ترمنځ په یوه نوي نا ارامونکی جریان کې ، یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا پر "اخلاقي جرمونو" د تورنو میرمنو اته د موازي عدالت جزاګانې[25] مستندې کړي ، چې د پنځو میرمنو او

[24] پر ښځو د شخړو د مخ په زیاتیدونکي مستقیمې اغیزې سربیره ، یوناما د دې یادونه کوي ، هغه میرمنې چې په شخړو کې د خپلو خاوندانو تر مړهیا ژوبل وروسته د خپلې کورنۍ لپاره د عاید یوازیني برابرونکې دي ، له اوږد مهاله منفي ټولنیزو او اقتصادي اغیزو څخه رنځ وړي او په ځانګړي ډول د تاوتریخوالي او سرغړونو د نورو بڼو په وړاندې زیانمنیدونکې دي. یوناما اړوندو حکومتي ادارو ته د دې اړتیا بیا یادونه کوي ، څو د هغو ښځو او ماشومانو چې د شخړې اړوند تاوتریخوالي امله کونډې شوي ، د بنسټیزو اړتیاوو د پوره کولو لپاره بیړني ګامونه پورته کړي. په وسله واله شخړه کې د ملکیانو د ساتنې په اړه د یوناما/د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر د ۲۰۱۴ کال کلني راپور ۱۴-۱۶ پاڼې وګورئ.

[25] د یوناما له خوا ثبت شوې د موازي عدالت د سیسټم د جزاګانو په پایله کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبل ټولې پیښې د دولت ضد عناصرو له خوا رامنځ ته شوي. یوناما له دغو لارو چارو د مړینو او ژوبلو پیښې ثبت کړې ، چیرې چې جزا په مستقیم ډول له شخړو سره تړوا درلود (لکه د افغان ملي اردو د یوه سرتیري د پلار اعدامول) یا له شخړې سره د تړاو پرته د یوه تخلف لپاره د دولت ضد عناصرو له خوا د یوه ملکي وګړي په وړاندې ترسره شوي ، لکه په عامه محضر کې د بدلمنۍ په تور په دورو وهل. د ژنیو د کنوانسیونونو درییمه مشترکه ماده په واضح ډول د قتل ، تاوتریخوالي ، د مجازاتو تصویبول ، او د منصفانه محاکمې د معیارونو له درناوي پرته د اعدامونو ترسره کول منع کوي ، په افغانستان کې د دریيمې مشترکې مادې د تطبیق لپاره د نور تفصیل په موخه د دې راپور د قانوني چوکاټ برخه وګورئ. یوناما د موازي قضایي تشکیلاتو له لارې اعدامونه په عمدي ډول د یو کس له وړاندې څخه پلان شوې او ارادي وژنه بولي چې هغه د مجرم په فزیکي حراست/ولکه کې وي (او لکه چې دا د هدفي وژنې سره توپیر لري

یوې نجلۍ په وژنه او د دوو میرمنو او یوې نجلۍ پر فیزیکي مجازاتو تمامې شوې.[۲۶] یوناما همدارنګه د دولت ضد عناصرو له خوا پر بدلمنۍ د یوې تورنې امیندوارې میرمنې هدفي وژنه مستنده کړې ، دغه پېښه د "موازې عدالت" د پروسې له کومو شواهدو پرته ترسره شوې. په ۲۰۱۴ کې ، یوناما په مقایسه وې ډول دغه شان ډېرې کمې پېښې مستندې کړې ، د "اخلاقي جرمونو" په تور د موازې عدالت د یوې میرمن او یوه نارینه (دطالبانو غړی) وژنه تاییدوي.[۲۷]

څرنګه چې د شخړې د ښکیلې خواوو ترمنځ جګړه د ملکي وګړو ګڼ میشتو سیمو ته خوځېدلې ، ښځې یې په زیاتیدونکې ډول اغیزې ګالي. په ۲۰۱۵ کال کې ځمکنیو نښتو د بل هر تاکتیک پرتله زیاتې ښځې ژوبل کړې یا وژلې ، چې د ښځو د مرګ ژوبل د ټولو تلفاتو د جملې نه یې د نیمای زیاته له همدې امله رامنځ ته شوي . د ۲۰۱۵ کال د جنوري له لومړۍ نېټې د ډسمبر تر ۳۱ پورې ، یوناما د ځمکنۍ نښتو له امله رامنځ ته شوې د ښځو ۶۵۵ مرګ ژوبله (۱۵۲ مړه او ۵۰۳ ژوبل) مستنده کړې ، چې د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۲۴ سلنه لوړوالی ښیي.[۲۸]

د ملکي وګړو په ګڼ میشتو سیمو کې د دولت ضد عناصرو له خوا ډله ییز او ځانمرګي بریدونه د ښځو د مرګ ژوبل دویم مخکښ لامل و ، چې د ۲۱۹ مرګ ژوبل (۲۶ مړه او ۱۹۳ ژوبل) سبب شوی ، چې د ۲۰۱۴ کال په پرتله په دغه ډول تاکتیکونو د ژوبلو او وژل شویو میرمنو شمیر نږدې درې برابره کوي.[۲۹] یوازې د مئ میاشت کې ، طالبانو په قصدي ډول د عدلیې وزارت او د لوی څارنوال د دفتر کارکونکي په دریو جلا جلا پېښو کې په نښه کړل ، چې د حقوقي چارو ۷ مسلکي ښځینه کارکونکې یې ووژلې (څلور څارنوالان او درې د عدلیې وزارت کاکونکې ) - په عدلي سکتور کې پر کار بوختې د ښځو د یوې کوچنۍ برخې په پام کې نیولو سره ، دا یوه ستره ضایع ګڼل کیږي.[۳۰]

د ځای پر ځای شویو چاودیدنکو توکو له امله د ښځو مرګه ژوبله د نورو عامو وګړو په پرتله لوړه ده. دغه تاکتیک د ښځو د ۲۰۲ مرګ ژوبل (۸۴ مړه او ۱۱۸ ژوبل) لامل شوی ، چې د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۲۰ سلنه لوړوالي په ډاګه کوي.[۳۱] په زیاته کچه د دغه بې توپیره تاکتیک د کارونې په پایله کې ، د زیاتره ښځو مرګ ژوبله د ځای پر ځای شویو فشاري چاودیدونکو توکو له امله رامنځ ته شوې چې – له ۲۰۲ څخه د ۱۲۵- تلفاتو لامل شوي (د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په اړه برخه وګورئ). د کال په دویمه نیمایې کې پر ښځو د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو اغیز هغه کموالی بیرته معکوس کړی ، کوم چې د یوناما د ۲۰۱۵ کال په وسله واله شخړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په نیم

---

چیرته چې قرباني د مجرم په فزیکي حراست کې نه وي) کله چې وژنه د مجازاتو لپاره تحمیل شوې ده ، دبیلګې په توګه د هغه مذهبي مشر وژنه چاچې د افغان امنیتي ځواکونو د یوه غړي د جنازې مراسم د اخطارونو باوجود تر سره کړي. یوناما دغه ډول پیښې په " قتل" کې شمیري او همدارنګه د بشر پالنې نړیوال قانون په افغانستان د افغانستان په داخلي وسلواله شخړه کې د پلي کولو وړ دی.

[۲۶] په دغو پیښو کې د دولت ضد عناصرو همدارنګه یو سړی اعدام او یوه بل سړي او هلک ته یې فیزیکي سزاګانې ورکړې. یوناما همدارنګه د "اخلاقي جرمونو"لپاره د موازي عدالت دوه نورې پیښې مستندې کړي ، چې په یوې پیښه کې یو شل کلن سړی چې له خپلې تره لور سره د نامشروع اړیکو په درلودلو تورن و اعدام او پر دوو نورو سړیو او یوه هلک یې د لواطت په تور دیوال را وغورځاوه ، چې له امله یې دوه سړي مړه او یو ۱۷ کلن ماشوم ژوبل شول. د لا زیاتو معلوماتو لپاره د موازې عدالت برخې ته مراجعه وکړئ.

[۲۷] یوناما همدارنګه په ۲۰۱۴ کال کې د اخلاقي جرم په تور د موؤي عدالت د یوه سړي د اعدامولو پیښه مستنده کړې ، قرباني شخص په دې وروستیو کې له یوې طلاق شوې میرمن سره واده کړی و.

[۲۸] یوناما په ۲۰۱۴ کال کې د ځمکنیو نښتو له امله رامنځ ته شوې د ښځو ۵۲۷ مرګ ژوبله (۱۵۳مړه او ۳۷۴ ژوبل) مستنده کړې.

۲۹ یوناما په ۲۰۱۴ کال کې د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو په پایله کې د ښځو ۷۹ مرګ ژوبله (۲۰ مړه او ۵۹ ژوبل) مستنده کړې.

۳۰ په وسله واله شخړه کې د ملکی وګړو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۱۰۵ کال د نیم کلن راپور ۱۶- ۱۸ مخونه وګورئ. طالبانو د ۲۰۱۵ کال په مئ کې پر قاضیانو ، څارنوالانو او عدلي سکتور پر کارکونکي د شپږو بریدونو مسوولیت واخیست ، چې د دریو بریدونو په پایله کې مرګ ژوبله رامنځ ته شوې ، چې ترمنځ یې د حقوقي چارو مسلکي ښځینه کارکونکې موجود وې. دغه ټول بریدونه په کابل کې ترسره شوي.

[۳۱] یوناما په ۲۰۱۴ کال کې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په پایله کې د ښځو ۱۶۹ مرګ ژوبله (۶۲ مړه او ۱۰۷ ژوبل)مستنده کړې.

کلن راپور کې ملاحظه شوی و ، او له هغه شل سلنه کموالی سره په مطلق مغایرت کې دی ، کوم چې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو له امله د ملکي وګړو په ټوله مرګ ژوبله کې د یوناما له خوا مستند شوی و. د دې لامل د ملکي وګړو ګڼ میشتو سیمو ته څیرمه د زیاتره جګړو رامنځ ته کیدل او د جګړو سیمې د پرېښودو یا په بل ځای کې د میشت کیدو پرمهال د ښځو د مرګ ژوبل زیاتیدونکی شمیر دی. د بیلګې په توګه ، د جون پر ۲۰ نېټه ، د هلمند په مارجه کې یوه شخصي نقلیه وسیله ، چې درې کورنۍ یې خپل کلي ته وروسته له هغې لیږدولې کله چې دوي د جګړې له امله په موقت ډول د خپلو کورونو پرېښودو ته اړې شوې وې ، د سړک د غاړې پر ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو ور برابره شوه ، چې د چاودنې له امله ۲۳ ملکي مرګ ژوبله (د ۱۱ ښځو او یوې نجلۍ په ګډون۱۶ مړه او د یوې نجلۍ په ګډون ۷ ژوبل شوې) رامنځ ته شوه.

دولت ضد عناصر د ښځو د مرګ ژوبل له نیمایي څخه د زیاتې (۵۵ سلنه) او دولت پلوه ځواکونه د ښځو د ټولې مرګ ژوبل د ۲۷ سلنه لامل شوي.

د ښځو پاتې مرګ ژوبله د دولت پلوه ځواکونو او د دولت ضد عناصرو ترمنځ یو پر بل د ډزو په پایله کې رامنځ ته شوې ، چیرې چې یوناما یوه لوري ته هم مسوولیت منسوبولای نشي (۱۷ سلنه)، پاتې یوه سلنه د پولې پورې بلې خوا ډزو او د نا څرګنده لوري د پیښو ترمنځ ویشل شوي ، چې زیاتره یې د جګړو څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو په نتیجه کې رامنځ ته شوې.

د ملکي وګړو په ګڼ میشتو سیمو کې د هاوانونو او نورو چاودیدونکو وسلو د کارونې له امله ، په ۲۰۱۵ کال[۳۲] کې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب د ښځو ملکي مرګ ژوبله ۳۶ سلنه لوړه شوې.

**ماشومان او وسله واله شخړه**

*"د جمعې ورځ ماسپښین وخت و. د لمانځه لپاره جومات ته لاړم او له نورو ماشومانو سره یو ځای د صف په پای کې کیناستم. ناڅاپي یو هاوان پر جومات ولګید او موږ ته نږدې وچاودید. ما پر خپلې شا د سوځیدو احساس وکړ ، چېرې چې د هاوان یوه پرچه لګیدلې وه او بې هوښه شوم. کله چې په هوښ شوم ، زه له خپلو دریو نورو ملګرو سره د جلال اباد په روغتون کې وم. دغو خلکو ته وواياست ، چې پر ماشومانو بریدونه مه کوئ. زه غواړم درس ووایم ، نه چې ومرم."*[۳۳]


-- د ۲۰۱۵ د اکتوبر پر ۳۰ ، د ننګرهار ولایت ، د اچین ولسوالۍ په روسکي کلي کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو او داعش جنګیالیو ترمنځ د وسله والې جګړې پر مهال د یوه غورځول شوي هاوان له امله یو ۱۲ کلن ژوبل شوی ماشوم. د هاوان د برید له امله څلور ماشومان ووژل شول او د پنځو ماشومانو په ګډون اته نور ملکي وګړي ژوبل شول.

[۳۲] په ۲۰۱۴ کال کې حکومت پلوه خواکونه د ۲۴۳ ښځینه مرګ ژوبل (۹۱ مړه او ۱۵۲ ژوبل)مسوول وو. په ۲۰۱۵ دوي د ۳۳۱ ښځینه مرګ ژوبل لامل ګرځیدلي (۷۶ مړه او ۲۵۵ ژوبل).

[۳۳] له یوه قرباني سره د یوناما مرکه ، د جلال اباد روغتون ، ۱ نومبر ۲۰۱۵.

### د ماشومانو د مرګ ژوبلې مخکښ لاملونه

یوناما یو ځل بیا پر ماشومانو د جګړې ویجاړونکی اغیز مستند کړی. د ملکي مرګ ژوبل د څلورو نه یو یې ماشوم دی. د جنوري د لومړۍ او د ډسمبر د ۳۱ ترمنځ ، یوناما د جګړې پورې تاوتریخوالي له امله د ماشومانو ۲۸۲۹ مرګ ژوبله (۷۳۳ مړه او ۲۰۹۶ ژوبل) مستنده کړې ، چې د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۱۴ سلنه لوړوالی ښيي.[٣٤]




ځمکنی نښتي لا اوس هم د ماشومانو د لوړ شمېر مرګ ژوبلې لامل دي ، چې یوناما د دغه تاکتیک له امله د ماشومانو ۱۴۲۷مرګ ژوبله (۲۹۳ مړه او ۱۱۳۴ ژوبل) مستنده کړې ، چې ۳۴ سلنه لوړوالي په ډاګه کوي.[٣٥] ځمکنۍ نښتې د ماشومانو د ټولې مرګ ژوبل نیما یې جوړوي.

د یوناما د ۲۰۱۵ کال په شپږ میاشتني راپور کې له خرګند شویو تمایلاتو سره سم ، یوناما د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو له امله د ماشومانو په مرګ ژوبله کې د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۱۴ سلنه کموالی چې د ماشومانو ۵۳۱ مرګ ژوبله (۱۵۸ مړه او ۳۷۳ ژوبل) یې مستند کړې.[٣٦] خو له دې سره سره ، ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي د ماشومانو د مرګ ژوبلې دویم ستر لامل دی ، چې د ۲۰۱۵ په اوږدو کې یې له امله د ټولو وژل شویو ماشومانو ۱۹ سلنه رامنځ ته شوي.

له اوسنیو او پخوانیو جګړو پاتې شوي چاودیدونکي توکي لا اوس هم ماشومانو ته د سخت زیان لامل دي. د ناچاوده توکو د ګواښ په اړه د ماشومانو د پوهې د نشتوالي ، بې وزلي او پر اجناسو د پوهې د ذاتي لیوالتیا له امله ، له جګړې

[٣٤] یوناما په ۲۰۱۴ کې د ماشومانو ۲۴۷۶ مرګ ژوبله (۷۱۵ مړه او ۱۷۶۱ ژوبل) مستنده کړې وه.
[٣٥] د ځمکنیو نښتو له امله یوناما په ۲۰۱۴ کې د ماشومانو ۱۰۶۳ مرګ ژوبله (۲۵۹ مړه او ۸۰۴ ژوبل) مستنده کړې وه.
[٣٦] د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو له امله یوناما په ۲۰۱۴ کې د ماشومانو ۶۱۶ مرګ ژوبله (۱۹۲ مړه او ۴۲۴ ژوبل) مستنده کړې وه.

ښځه پاتې شوي چاودیدونکي توکي د هغوي ژوند له ځانګړي ګواښ سره مخ کوي.[۳۷] د مثال په ډول ، د نومبر په ۲۴ نېټه ، یوې ډلې ماشومانو چې د کابل ښار په یوه ویجاړ شوي کور کې یې لوبې کولې ، له جګړې ښځه پاتې شوی چاودیدونکی توکي وموند او پر دیوال یې وویشت. ناچاوده توکي و چاود ، چې له امله یې اوه هلکان او یوه نجلۍ ووژل او درې نور ټپیان شول.

له جګړې ښځه پاتې شوي چاودیدونکي توکي د ماشومانو د ۳۶۵ مرګ ژوبلې (۱۱۳ مړه او ۲۵۲ ژوبل) لامل شوي ، چې د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۱۰ سلنه زیاتوالي په ډاګه کوي.[۳۸] دغو توکو د ۲۰۱۵کال په هره اونۍ کې په منځنۍ کچه دوه ماشومان وژلي او پنځه یې ژوبل کړي. له ځمکنیو نښتو او ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو وروسته ، له جګړې ښځه پاتې شوي چاودیدونکي توکي د ماشومانو د مرګ ژوبلې دریم مخکښ لامل و ، چې د ټولې مرګ ژوبل ۱۳ سلنه جوړوي.

د یوناما د ۲۰۱۵ کال په شپږ میاشتني راپور کې له ځرګند شویو تمایلاتو سره سم ، په ۲۰۱۵ کال کې د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو له امله د ماشومانو مرګ ژوبله درې سلنه لوړه شوې.[۳۹] یوناما د دغه تاکتیک په پایله کې د ۲۲۵ ماشومانو مرګ ژوبله (۵۰ مړه او ۱۷۵ ژوبل) مستنده کړې.

په ۲۰۱۵ کال کې د هدفي او قصدي وژنو د پېښو له امله د ماشومانو مرګ ژوبله د پام وړ لوړه شوې ، چې یوناما د ۱۲۷ ماشومانو مرګ ژوبله (۵۸ مړه او ۶۹ ژوبل) مستنده کړې ، کوم چې د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۶۷ سلنه لوړوالي په ډاګه کوي.[٤٠] په شخصي موټرونو پورې د مقناطیسي بمونو د کارونې په ګډون ، په زیاتره قضیو کې ، دولت ضد عناصرو د ماشومانو میندې او پلرونه یا د هغوي خپلوان په نښه کړي. د بیلګې په توګه ، د جنورې په ۷ نېټه ، طالبانو د لغمان ولایت د استیناف د ولایتي محکمې رئیس په شخصي موټر پورې نښلول شوي مقناطیسي بم هغه مهال وچاوه ، کله چې هغه په جلال اباد ښار کې خپلې لونې ښوونځي ته رسولې ، چې له امله یې قاضي ووژل شو او دوې لونې یې ژوبل شوې. طالبانو د خپلې ویب پاڼې له لارې د دغه برید مسوولیت منلی.[٤١]

یوناما همدارنګه په ۲۰۱۵ کې د هوایي عملیاتو په پایله کې د ماشومانو په مرګ ژوبله کې د ۶۹ سلنه زیاتوالي د اندېښنې یادونه کوي ، چې په نتیجه کې یې د ۹۱ ماشومانو مرګ ژوبله (۳۶ مړه او ۵۵ ژوبل) رامنځ ته شوې. یوناما مستنده کړې ، چې د هوایي عملیاتو په پایله کې له۹۱ رامنځ ته شوې مرګ ژوبلې ښځه ۴۹ یې د افغانستان امنیتي ځواکونو ته منسوب دي ده. یوناما په دې اړه اندېښمنه ده ، چې ښایي په دغه جریان کې په ۲۰۱۶ کې د افغان هوایي ځواکونه له خوا د نورو جنګي الوتکو په ترلاسه کولو زیاتوالی راشي.

یوناما همدارنګه د جګړې اړوند تښتونو له امله د ماشومانو په مرګ ژوبله کې کم زیاتوال مستند کړی.

---

[۳۷] زیاتره له ماشومانو غوښتل کیږي ، چې د وسپنیزو ټوټو د راټولولو او د ښارویو د پیولو له لارې له خپلو کورنیو سره مرسته وکړي ، چې دغه کار له جګړې ښځه په پاتې شویو چاودیدونکو توکو ککړو ساحو سره د هغوي د مخ کیدو ګواښ زیاتوي.

[۳۸] له جګړې ښځه د پاتې شویو چاودیدونکو توکو له امله یوناما په ۲۰۱۴ کې د ۳۳۳ ماشومانو مرګ ژوبله (۹۷ مړه او ۲۳۶ ژوبل) مستنده کړې وه.

[۳۹] د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو له امله یوناما په ۲۰۱۴ کې د ۲۱۹ ماشومانو مرګ ژوبله( ۶۱ مړه او ۱۵۸ ژوبل) مستنده کړې وه.

[٤٠] د ۲۰۱۴ کال د جنورې د لومړۍ نېټې او د ډسمبر د ۳۱ ترمنځ ، د هدفي او قصدي وژنو له امله یوناما د۷۶ ماشومانو مرګ ژوبله (۲۸ مړه او ۴۸ ژوبل) مستنده کړې.

[٤١] طالبانو په اعلامیه کې د دې ادعا کړې ، چې چاودنې قاضي وژلی او د هغه دوه ساتونکي یې ټپیان کړي. نوموړې بیانیه پر دې ویب پاڼې د لاس رسي وړ ده: http://alemara1.org/index.php/news/61490

## په ښوونځیو او پوهنې پورې اړوند پېښې[٤٢]

که څه هم په ۲۰۱۵ کال کې د هغو پېښو له امله ، چې پر ښوونې او د ښوونیزو چارو پر کارکونکو اغیز کوي د ملکي وګړو مرګ ژوبله ۳۲ سلنه راکمه شوې ، چې په پایله کې ۲۵ملکي مر ګ ژوبله (۱۱ مړه او ۱۴ ژوبل)[٤٣] رامنځ ته شوې ، خو په عام ډول په دې برخه کې پېښې ۵۶ سلنه زیاتې شوې دي. د ۲۰۱۵ کال د جنوري د لومړۍ او د ډسمبر د ۳۱ نېټې ترمنځ ، یوناما د ۲۰۱۴ کال د ۷۱ پېښو په پرتله د جګړې پورې تړلې ۱۱۱ داسې پېښې مستندې کړي ، چې پر ښوونه اغیز کوي.

په ۲۰۱۴ کې د ښوونې د اړوندو کارکونکیکارکونکو په وړاندې د تهدیدونو او ګواښونو[٤٤] له ۲۶ څخه په ۲۰۱۵ کې ۶۸ پېښو ته لوړیدل ، په دغه ډول پېښو کې د پام وړ زیاتوالي په ډاګه کوي. د ښوونکو او د ښوونیزو چارو کارکونکو کارکونکي په وړاندې د تهدیدونو او ګواښونو له امله د افغانستان له اتو حوزو څخه په اوو هغو کې له ۲۲۲ څخه زیات ښوونځي په مختلفو وختونو کې تړل شوي ، چې په پایله کې یې لږ تر لږه د ۶۸۲۹۱ نجونو په ګډون ۱۲۴۲۱۸ زده کوونکي اغیزمن شوي.

**د ننګرهار ولایت په ده بالا ولسوالۍ کې ښوونې ته پر لاس رسي د داعش ډلې اغیز**

یوناما تاییدوي ، چې د ۲۰۱۵ په اګست کې داعش جنګیالیو په ده بالا ولسوالۍ کې ۲۵ ښوونیزې ادارې په زور تړلې ، چې ۱۴۱۰۲ (د ۴۹۰۰ نجونو په ګډون) زده کوونکي یې ښوونې ته له لاس رسي او ۳۴۱ ښوونکي یې د کار له حق څخه محروم کړي. د داعش ډلې له خوا په تنظیم شویو عامه غونډو کې ، جنګیالیو ښوونکي په سختو مجازاتو وګواښل که چیرې یې د ښوونځیو د تړلو له امر څخه سرغړواي وکړ. سرچینو راپور ورکړی ، چې یو شمیر ښوونکي په مرګ ګواښل شوي ، که چیرې د داعش ډلې د تهدیدونو په اړه چارواکو ته خبر ورکړ ، په داسې حال کې چې دغې ډلې له یو شمیر نورو د یوې میاشتې معاش غوښتنه کړې. دغو تهدیدونو د میندو پلرونو ، ښوونکو او زده کوونکو په منځ کې د نا امنۍ او ویرې ژور احساس رامنځ ته کړي ، او د ښوونځي پر حاضرۍ یې د پام وړ منفي اغیز کړی. د ۲۰۱۵ کال د ډسمبر تر ۳۱ نېټې پورې ، په ده بالا ولسوالۍ کې ۱۰ ښوونیزې ادارې تړلې پاتې شوي ، چې له امله یې ۷۰۸۷ زده کوونکي اغیزمن شوي.

[٤٢] د یوناما/یونیسف/ په افغانستان کې څوک د شخړې زیان / فشار ګالي: په وسله شخړه کې د ماشومانو په وړاندې د شپږو سختو سرغړونو څلور کلن تحلیل ګوزځ (سپټمبر ۲۰۱۰- ډسمبر ۲۰۱۴) ، په لاندنۍ ویب پاڼه د لاس رسي وړ دی:
http://unama.unmissions.org/sites/default/files/dashboard_on_violations_against_children_affected_by_armed_conflict_in_afghanistan_from_september_2010_to_december_2014.pdf.

[٤٣] په ۲۰۱۴ کال کې یوناما د ښوونیزو جوړښتونو یا کارکونکي د په نښه کولو پېښو کې ۳۷ د ملکي وګړو مرګ ژوبله (۲۳ مړه او ۱۴ ژوبل) مستنده کړې.

[٤٤] ګواښونه ، تهدیدونه او ځورونه هغه کټګوري ده ، چې د یوناما له خوا د مرګ یا زیان د ګواښونو ، تهدیدونو او ځورونې د ثبت لپاره کارول شوې ، کوم چې د شخړې د ښکیلو خواوو له خوا د ملکي وګړو په وړاندې ترسره شوي او له بشري حقونو څخه سرغړونه یا تیری ګڼل کیږي. دغه کټګوري د خوځښت ناقانونه محدودیتونه یا د بیان د ازادي مخنیوی ، او له ملکیت ناقانونه محرومیت رانغاړي. دغه راز نومورې کټګوري د فیزیکي تاوتریخوالي هغه پېښې رانغاړي ، چې موخه یې د ملکي وګړو ګواښل ، تهدیدول یا ځورول وي ، لکه مجازات ، غچ یا د قصدي یرغل نورې بڼې ، کله چې موخه د ملکي وګړو ګواښل ، تهدیدول یا ځورول وي.

***د جګړې د ښکېلو خواوو له لوري د نظامي موخو لپاره د ښوونځیو کارول***

د جنوري له لومړۍ نېټې راهیسې د ډسمبر تر ۳۱ پورې ، یوناما د جګړې د ښکېلو خواوو د لوري د نظامي موخو لپاره د ښوونځیو د کارولو ۲۰ جلا جلا پېښې مستندې کړې. یوناما ۱۵ داسې پېښې مستندې کړې ، چیرې چې د افغان سیمه ییز پولیسو ، افغان ملي پولیسو (د عامه نظم او سرحدي پولیسو په ګډون) او افغان ملي اردو په ګډون افغان ملي امنیتي ځواکونه او په یوې بله پېښه کې دولت پلوه وسله واله ډله د نظامي موخو لپاره د ښوونځیو په کارونه کې ښکېل وو.

راپور شوې زیاتره پېښې په کندز کې رامنځ ته شوې ، خو سربېره پر دې ، یوناما په بدخشان ، بغلان ، ننګرهار او کنړ کې هم د افغان امنیتي ځواکونو له خوا د نظامي موخو لپاره د ښوونځیو کارول مستند کړي.

دغه راز یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د نظامي موخو لپاره د ښوونځیو کارولو پنځه پېښې مستندې کړې ، د طالبانو له خوا په کندز کې دوه او نورستان کې یوه او په ننګرهار کې د داعش ډلې له خوا دوه ښوونځي کارول شوي.

د ښوونځي اسانتیاوو ته د ماشومانو د لاس رسي پر ردولو سربېره ، د جګړې د ښکېلو خواوو له لورې د نظامي موخو لپاره د ښوونځیو کارول ښایي د جګړې پر مهال د ښوونځیو په نښه کولو او زیان لامل شي.[45] د نظامي موخو لپاره د ښوونځیو د کاروني له امله رامنځ ته شوی زیان او ورانی ښووني ته منځ مهالي تر اوږد مهالي لاس رسی له ګواښ سره مخ کوي. یوناما د جګړې له ټولو ښکېلو خواوو ، په تېره بیا له افغان حکومت غوښتنه کوي ، چې د نظامي موخو لپاره د ښوونځیو کارونه پای ته ورسوي.

### د روغتیا پالنې اړوند پېښې[46]

په ۲۰۱۵ کال کې یوناما د جګړې اړوند په هغو پېښو کې د پام وړ زیاتوالی مشاهده کړی ، چې په قصدي ډول روغتونونه ، کلینیکونه او د روغتیایي چارو کارمندان په نښه کوي ، چې دې کې د هلمند او لوګر ولایتونو کې د افغان امنیتي ځواکونو له خوا د کلینیکونو د تلاشیو په ګډون چې د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا یې ملاتړ کیده شامل دي.[47] دغه راز یوناما د اکتوبر پر دریمې نېټې په کندز ښار کې د بې پولې ډاکټرانو پر روغتون د امریکایي ځواکونو هوایي برید مستند کړی ، چې له امله یې د ۴۹ روغتیایي کارکونکیکارکونکو په ګډون ، ۸۵ کسانو ته مرګ ژوبله (۴۲ مړه او ۴۳ ژوبل) واوښته. دغه برید په ولایت کې پر روغتیایي چارو خورا ویجاړونکی اغیز درلود ، چې د ۲۰۱۵ کال تر پایه یې دوام درلود. د امریکا د متحده ایالاتو او ناتو چارواکي ادعا کوي ، چې په خپله روغتون د دوي په نښه شوی هدف نه و.

---

[45] د بېلګې په ډول ، په وسله واله شخړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما/د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر شپږ میاشتنی راپور وګورئ ۳۰ مخ ، چې په کندز کې د ۲۰۱۵د اپریل او مۍ میاشتو ترمنځ د ښوونځیو د نیونې په اړه ده ، چې له امله یې څلورو ښوونځیو ته تاوان واوښت.

[46] همدا ماخذ په ۲۲ شمیره لمن لیک کې وګورئ.

[47] په دې اړه د افغان امنیتي ځواکونو او نړیوالو نظامي ځواکونو د ګډو عملیاتو برخه وګورئ.

یوناما همدارنګه د دولت ضد عناصرو له خوا د روغتیایي چارو د کارکونکو کارکونکي او ادارو په وړاندې زیات شوي تهدیدونه او ګواښونه مستند کړي- چې د ۲۰۱۴ کال د ۱۴ پیښو په پرتله ۲۰۱۵ کې هغه ۳۱ پیښو ته لوړ شوی . دغه ګواښونه د یو شمیر روغتیایي مرکزونو د تړلو او د ښځینه ډاکټرانو د استعفا لامل شوي ، کوم څه چې ملکي وګړي روغتیا ته د لاس رسي له حق څخه محرومويْ.

د مثال په ډول ، د سپتمبر په ۱۲ ، د ننګرهار ولایت په کوټ ولسوالۍ کې داعش جنګیالي دوو روغتیایي کلینیکونو ته ، چې د یوې غیر دولتي موسسې ( این جي او )له خوا پرمخ بیول کیدل ، ننوتل او ټول درمل او توکي یې ولوټل. د راپورونو له مخې ، له دغې پیښې یوه ورځ مخکې ، داعش غړیو د روغتیایي چارو کارکونکي او ښوونکي راټول کړي وو او له حکومت سره د کار کولو د سزا په څیر یې له هغوي د یوې میاشتې معاش غوښتنه وکړه. کلینیکونه د نومبر تر ۲۹ پورې تړلي پاتې وو ، چې له امله یې ځایي خلک اړ وو ، څو د روغتیایي مرستو ترلاسه کولو لپاره ګاونډیو ولسوالیو ته سفر وکړي.

یوناما ۶۳ داسې پیښې مستندې کړي ، چیرې چې د دولت ضد عناصرو له خوا روغتونونه او د روغتیایي چارو کارکونکي په نښه شوي ، چې د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۴۷ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. له دغو پیښو څخه ۳۶ طالبانو او ۱۲ داعش جنګیالو (۱۱ د تهدیدونو او ګواښونو پیښې او یوه د تښتونې) له خوا ترسره شوي. یوه پیښه د تحریک طالبان پاکستان له خوا ترسره شوې ، په داسې حال کې چې یوناما و نه کولای شو په ۱۴ قضیو کې کوم لوري ته مسوولیت منسوب کړي.

د مئ پر لسمه په کونړ ولایت کې ، طالبانو څلور روغتیایي کارکونکي چې په یوه شخصي موټر کې یې سفر کاوه ، په زور له موټره راښکته کړل ، او مخکې له دې چې یې وتښتوي د هغوي د واکسینو بکسې یې له منځه یوړې. که څه هم طالبانو وروسته دغه کارکونکي راخوشې کړل ، خو داسې برېښي چې دغه پېښه د هغه پراخ جریان یوه برخه ده ، چې موخه یې د پولیو واکسین د کمپاینونو مخنیوی او وګړو ته د پولیو کارکوونکو په لاس رسي کې خنډ رامنځ ته کول دي.[48]

یوناما په ۲۰۱۵ کال کې د دولت ضد عناصرو له خوا د روغتیایي چارو د کارکونکي د تښتونې ۱۸ پیښې ثبت کړي ، چې اوه یې د طالبانو تر ولکې لاندې سیمو کې رامنځ ته شوي- داسې برېښي چې پنځه یې د طالبانو د واکسینو کمپاینونو ته د اجازې له ردونې سره تړاو لري. په اوو جلا جلا پیښو کې ، طالبانو د روغتیایي چارو ۲۰ کارکونکي تښتولي. له اوو څخه شپږو طالبانو د وګړو او حکومت د ګواښلو په موخه تښتونې ترسره کړي. د نورو ډلو په تېره بیا د داعش جنګیالیو له خوا د تښتونو او ګواښونو د دلیل رېښه ښایي د نورو فکتورونو تر څنګ دا عقیده چې واکسین ګوندې د "اسلام ضد" دي شامل وي.

[48] افغانستان یو له هغو دوو هیوادونو څخه دی ، چیرې چې لا اوس هم پولیو شتون لري. په افغانستان کې د ۲۰۱۴ کال د ۲۸ پیښو په پرتله په ۲۰۱۵ کې د پولیو د ۱۹ پیښو راپور ورکړل شوی. د دغه پروګرام په وړاندې امنیت او لاس رسی له سترو ننګونو شمیرل کیږي. د ۲۰۱۵ کال د ډسمبر پر مهال به ۸۹۸۷۳ ماشومان بې واکسینو پاتې شي ، دغه ماشومان (۱۲۶۳۸) له کونړ ، (۵۹۶۵۰) له ننګرهار او (۱۳۴۹۳) له هلمند څخه دي. د ننګرهار هغه ولسوالۍ چې د لاس رسي له سترو ننګونو مخ دي په دې ډول دي: چپرهار ، ده بالا ، کوټ ، بټي کوټ او ا - چین. دغه معلومات له یونیسف څخه د بریښنالیک له لارې تر لاسه شوي ، ۲ فبروري ۲۰۱۶.

**هغه پېښې چې په ننګرهار ولایت کې یې روغتیا پالنه اغیزمنه کړې**

په ننګرهار ولایت کې د هغو پېښو شمیر نږدې دوه برابره شوې ، چیرې چې روغتونونه او د روغتیایي چارو کارمندان په نښه شوي: یوناما د ۲۰۱۴ کا د ۱۱ پېښو په پرتله په ۲۰۱۵ کې ۲۱ پېښې مستندې کړې. په دغه ولایت کې د پېښو شمیر په ۲۰۱۵ کال کې د ډاکټرانو او د روغتیایي چارو اړوند کارکونکي په وړاندې د مستندو شویو بریدونو دریمه برخه جوړوي.

یوناما د روغتیایي چارو د کارکونکو په وړاندې د تهدیدونو او ګواښونو د پېښو په شمیر کې د زیات لوړوالي یادونه کوي ، چې دا شمېر په ۲۰۱۴ کال له څلورو پېښو[۴۹] په ۲۰۱۵ کال کې ۱۵ ته لوړ شوی. یوناما په ننګرهار کې له ۱۵ پېښو څخه ۱۱ داعش ، یوه طالبانو ، دوه نامعلومو دولت ضد عناصرو او یوه افغان ملي پولیسو ته منسوب کړې. د داعش ډلې له خوا ترسره شوي تهدیدونه او ګواښونه د طبي سامان الاتو لوټل (اوه پېښې)او د روغتیایي چارو د یوې میاشتې معاش باج (درې پېښې)رانغاړي. د دغو پېښو له امله په نوموړي ولایت کې ۱۱ روغتیایي کلینیکونه تړلي.

یوناما بیا د دې یادونه کوي ، چې په روانه جګړه کې پر ښوونیزو ادارو ، روغتونونو او د دې په کارکونکو ترسره شوي قصدي بریدونه د بشري حقونو له نړیوال قانون څخه سرغړونه او تیری او د بشرپالنې د نړیوال قانون تر پښو لاندې کول ګڼل کیږي ، او دغه راز د افغانستان د اسلامي جمهوریت له اساسي قانون سره په ټکر کې دي. د جګړې ټولې ښکیلې خواوې اړې دي ، چې په بریدونو کې د بشرپالنې د نړیوال قانون د توپیر او احتیاط اصول په پام کې ونیسي ، او ملکي وګړي او ملکي اهداف له زیان څخه وژغوري. په پای کې ، یوناما یو وار بیا په دې ټینګار کوي ، چې پر ښوونځیو او روغتونو بریدونه له نړیوال قانون څخه سرغړونه شمیرل کیږي ،[۵۰] او د شخړو له ټولو ښکېلو خواوو څخه غوښتنه کوي ، چې د ښوونځیو او روغتونو په نښه کولو ډډه وکړي او د هغوی د کارکونکو په منځ کې د ملکي مرګ ژوبلې د مخنیوي لپاره ټول ممکنه تدابیر په پام کې ونیسي.


## له جګړې څخه پاتې شوني چاودیدونکي

*"تېره سه شنبه زه له خپل ملګري سره د کلي په یوې هتۍ کې وم ، چې بل ملګري مو له لاسي بم سره راورسید. هغه ویل ، چې لاسي بم یې له کلي بهر موندلی او غوښتل یې ویې سوځوي ، خو وګوري څخه پېښیږي. له هتۍ څخه د وتو په حال کې وو ، چې له لاسي بم سره لوبې وکړو ، بم مې د ملګري له لاسه پرېوت او وچاودید. موږ ټول له یو بل سره نږدې ولاړ وو. چاودنې زه او زما هغه ملګري چې لاسي بم یې راوړی و ، ژوبل کړو ، خو زموږ بل ملګری له څو دقیقو وروسته ومړ."*[۵۱]

-- د ډسمبر پر لومړۍ د هرات ولایت په شینډنډ ولسوالۍ له جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو ۱۲ کلن قرباني ، چې د توکو د چاودنې له امله یو هلک مړ او دوه نور ژوبل شول.

[۴۹] دواړه پېښې دولت ضد عناصرو ته منسوبې شوې وې ، یوه یې طالبانو ته او بله یې نامعلومه وه.
[۵۰] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۱۹۹۸ (۲۰۱۱)شمیره پریکړه لیک وګورئ.
[۵۱] له یوه قربانی سره د یوناما مرکه ، د هرات ولایتي روغتون ، ۹ ډسمبر ۲۰۱۵.

یوناما په ۲۰۱۵ کې د جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو[٥٢] د چاودنې ۱۶۸ جلا جلا پېښې مستندې کړې ، چې د ۴۳۱ تنه ملکي وګړو ته یې مرګ ژوبله (۱۲۷ مړه او ۳۰۴ ژوبل) اړولې ، چې د تېر کال[٥٣] په پرتله یوه سلنه زیاتوالی[٥٤] په ډاګه کوي.




یوناما پر ماشومانو له جګړې څخه د پاتې شویو چاودیدونکو توکو د سخت اغیز په اړه اندېښمنه ده. د دغو توکو د ملکي وګړو د ۴۳۱ مرګ ژوبلې څخه ۳۶۵ تنه چې د ټولو تلفاتو ۸۵ سلنه کیږي- ماشومان وو. تر څمکنۍ نښتو او ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو وروسته ، له جګړې څخه پاتې شویو چاودیدونکو توکو د بلې هرې پېښې په پرتله زیات ماشومان ژوبل کړي او وژلي.

د مستندو شویو څخه نږدې نیما یې پېښو کې ، له جګړې څخه د پاتې شویو چاودیدونکو توکو تر موندلو او پر هغوی تر لوبو کولو وروسته ، ماشومانو دغه توکي چولي. د ډسمبر پر لومړۍ نېټه ، د بغلان ولایت په پلخمري ولسوالۍ کې ، یوې ډلې ماشومانو چې له جګړې څخه د پاتې شویو چاودیدونکو توکو سره په میدان کې یې لوبې کولې ، وچاودول ، چې پنځه هلکان ، یوه نجلۍ او یو سړی یې ووژل او نهه هلکان او دوې نجونې یې ژوبل کړې. که څه هم د دغو توکو د چاودنې له امله د ملکي وګړو په مرګ ژوبله کې په عام ډول یوه سلنه زیاتوالی راغلی ، خو د ماشومانو په مرګ ژوبله کې یې له امله د ۲۰۱۴ کال په پرتله لس سلنه زیاتوالی رامنځ ته شوی.

[٥٢] له جګړو څخه پاتې شوي چاودیدونکي توکي ، نا چاودو وسلو او پرېښودل شویو چاودیدونکو توکو ته راجع کیږي.
[٥٣] یوناما په ۲۰۱۴ کې له جګړې څخه د پاتې شویو چاودیدونکو له امله د ملکي وګړو ۴۲۵ مرګ ژوبله (۱۲۴ مړه او ۳۰۱ ژوبل مستنده کړې.
[٥٤] یوناما او د افغانستان د ماین پاکي د همغږي مرکز مشاهده کړې چې په جنګي تمرین ځایونو کې له جګړو څخه د پاتې چاودیدونکو توکو د پاک کولو له امله د ملکي وګړو په مرګ ژوبله کې کمښت راغلی چې د افغان امنیتي ځواکونو او ایتلاف د ځواکونو له خوا ترسره شوي. د دغه مرکز احصاییې د کموالی جریان څرګندوي ، چې په ۲۰۱۳ کې د لوړو جنګي تمرین ځایونو څخه ۵۰ سلنه په ملکي مرګ ژوبله کې کموالی ښیي او دغه کموالي په ۲۰۱۴ کې ۱۹ سلنه او د ۲۰۱۵ په اوږدو کې ۲ سلنه و.

له نښتو څخه د پاتې شويو چاودېدونکو توکو له امله د وژل کېدو او ژوبلېدو ګواښ په هغو ټولنو کې پر ځای پاتې دی ، چېرې چې نښتې ترسره شوي او ښکېلو خواوو داسې وسلې کارولې وي ، چې ناچاودي توکي پرېښودي [٥٥] او وروسته بيا په دې نه وي توانيدلي ، چې پر ناچاودو توکو د نښتو ککړې سيمې په نښه يا پاکې کړي. د مثال په ډول ، د جولای پر ۱۸ نېټه ، دريو ماشومانو د بدخشان په وردوج کې د هاوان يوه ناچاوده سرګولوله پيدا کړه ، چې وروسته بيا وچاودېده ، چې يو هلک يې وواژه او دوه نورې ژوبل کړل. د محلي ټولنې د سرچينو د راپور له مخې د هاوان دغه سرګولوله د طالبانو او د افغان ملي اردو ترمنځ د تېرې ورځې له څمکنۍ نښتې پاتې وه.

دغه راز ماشومان او لويان د ناچاودو توکو له امله هغه مهال له مرګ ژوبل سره مخ کيږي ، کله چې هغوي د اوسپنې ټوټې ټولوي ، خپل څاروي بيايي يا په کرنيزو کارونو بوخت وي.

په وسله واله شخړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د يوناما د ۲۰۱۴ کال شپږ مياشتنی  او کلنی راپورنو د افغان ملي امنيتي ځواکونو او دولت ضد عناصرو ترمنځ د ځمکنيو نښتو پر مهال د هاوانونو ، راکټونو او لاسي بمونو د کارونې له امله په چاودېدونکو توکو د سيمو د پوتينشل  ککړتيا يادونه کړې. يوناما يو ځل بيا د هغې مخ پر زياتېدونکې اندېښنې يادونه کوي ، چې ښايي افغان امنيتي ځواکونه لا اوس هم داسې کومه تګلار يا عملياتي اقدامات نه وي ترسره کړې ، کوم چې له دوې څخه د هغو سيمو  په نښه کولو او پاکولو غوښتنه کوي ، چې د ځمکنيو نښتو له امله پر چاودېدونکو توکو ککړې شوې وي.[٥٦]

د بشرپالنې نړيوال قانون په ډاګه کوي ، چې د نظامي عملياتو د ترسره کولو پر مهال ، بايد هڅه وشي چې ملکي وګړي د جګړې له زيانونو وژغورل شي ، او ټول احتياطي تدابير بايد په پام کې ونيول شي ، څو د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې ،  او تاوان مخه ونيول شي.[٥٧] يوناما له ټولو ښکېلو خواوو په ټينګه غوښتنه کوي ، چې له جګړې څخه پر پاتې شونو چاودېدونکو توکو د ککړو سيمو معلومولو او پاکولو لپاره ګامونه پورته کړي.

## د جګړې له امله د ملکي وګړو بې ځايه کېدنه: داخلي بې ځايه شوي وګړي

د ۲۰۱۵ په اوږدو کې جګړو د هيواد په دننه کې په اټکلي ډول ۳۳۵۴۰۰ وګړي له خپلو اصلي کورونو بې ځايه کړي ، چې د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۷۸ سلنه زياتوالی په ډاګه کوي.[٥٨] د ۲۰۱۵ کال په پای کې ، افغانستان د جګړې له امله له ۱.۱۷ ميليونو څخه د زياتو داخلي بې ځايه شويو وګړو کوربه و.

د ۲۰۱۵ کال په سپتمبر/اکتوبر کې د کندز ښار په څير په ځينو حالاتو کې ، د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ترمنځ د جګړې تر پای ته رسيدو وروسته ، داخلي بې ځايه شوي وګړي ژر خپلو اصلي ميشت ځايونو ته ستانه

---

[٥٥] د وسلو هغه سيستم چې د کاره لويدلې  وسلې توليديږي لکه هاوانونه ، راکټونه ، لاسي بمونه له هوا څخه اورول کيدونکې ګولۍ ، او نورې  هغه جوړې شوې وسلې چې په افغانستان کې ورڅخه کار اخيستل شوي.

[٥٦] د ۲۰۱۵ د مۍ پر ۱۲ په کابل کې د دفاع وزارت له چارواکو سره ناسته. د يوناما له خوا د ملکي وګړو د مرګ ژوبل د مخنيوي او کمونې په کتل شوې تګلارې طرح کې دغه ډول شرط شامل دی ، خو ددغه راپور تر ليکلو پورې نه وه نهايي شوې. لاندې د ملکي مرګ ژوبل د راکمونې د تګلارې د جوړولو برخه وګورئ.

[٥٧] ۱۳ ماده د ژنيو د توافقاتو د ۱۲ اګست ۱۹۴۹کال د ژنيو د کنوانسيونونو دوهم الحاقيه پروتوکول او په داخلي وسله واله جګړو کې د قربانيانو د ساتنې (II پروتوکول) ۸ جون ، ۱۹۷۷ وګورئ.

[٥٨] دغه ارقام د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنري له خوا د ۲۰۱۶ کال د فبروري پر څلورمه نېټه د بريښناليک له لارې ترلاسه شوي.

شوي ، په داسې حال کې چې په نورو سيمو کې د شخړې د ښکيلو خواوو په دې کې پاتې راتلل چې سيمه ييز کنترول ټينګ کړي ، د دې لامل شوي چې ملکي وګړي خپل اصلي ميشت ځايونه پريږدي. د کندز ، بدخشان ، بغلان او تخار په ګډون په شمال ختيځه سيمه کې جګړه په لوړه کچه د بې ځايه کيدنې لامل شوې ، چې له امله يې په ۲۰۱۵ کال کې ۹۰۷۰۰ نفر بې ځايه شوي. سربيره پر دې ، په ۲۰۱۵ کې د داعش له خوا د سختو وضع شويو محدوديتونو سره يو ځای ، د طالبانو او داعش جنګياليو ترمنځ جګړه د ننګرهار له يو شمير ولسواليو څخه د ۴۰۰۰۰ وګړو د بې ځايه کيدو لامل شوې ، په داسې حال کې چې د هيواد په لويديځ او او سهيل کې هم د جګړې له امله په لوړه کچه بې ځايه کيدنه ثبت شوې. د دغه راپور تر خپريدو پورې ، زياتره دغه وګړي له خپلو اصلي ميشت ځايونو بې ځايه وو. د ۲۰۱۵ کال تر پايه ، د افغانستان له ۳۴ ولايتونو څخه په ۳۱ کې يا خلک بې ځايه شوي يا نور ور کډه شوي.

## د پولې په اوږدو کې نښتې

د ۲۰۱۵ کال د جنوري له لومړۍ د ډسمبر تر ۳۱ پورې ، يوناما د پاکستان له لورې د افغانستان پر خاوره د توپونو ويشتلو ۱۹ پېښې مستندې کړې ، چې له امله يې د ۳۲ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله (۱۰ مړه او ۲۲ ژوبل) ، چې د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۶۱ سلنه کموالی په ډاګه کوي.[59]

يوناما په کنړ ، خوست ، پکتيکا او ننګرهار ولايتونو کې د پولې پورې غاړې څخه د ډزو له امله د ملکي وګړو مرګ ژوبله مستنده کړې. د مثال په توګه ، د اګست پر اتمه نېټه پاکستاني نظامي ځواکونو د کنړ ولايت د سرکاڼي پر ولسوالۍ ۲۵ هاوان ګولۍ وويشتلې ، چې ملکي سيمې ته يې زيان واړاوه ، يو سړی يې وواژه او د هغه ځوان زوی يې ژوبل کړ.

يوناما د ننګرهار ولايت په نازيانو ولسوالي کې د جولای د ۲۰ او ۲۴ نېټو ترمنځ درې نورې پېښې مستندې کړې ، چې له امله يې ملکي وګړو ته کوم زيان نه دی اوختی ، خو څاروي يې وژلي ، ملکي شتمني يې زيانمنې کړې او نږدې د ۱۰۰ کورنيو د بې ځايه کيدنې لامل شوي.


[59] په ۲۰۱۴ کال کې ، يوناما د پاکستان له خوا د افغانستان پر خاوره د توپونو د ويشتلو له امله د ملکي وګړو ۸۲ مرګ ژوبله (۱۱ مړه او ۷۱ ژوبل) مستنده کړې.

## ۲. ځمکنی نښتې- د ډزو په تبادله کې راګیر ملکي وګړي

*" سهار نږدې لس بجې وې او ما د خپلې دوه کلنې لور سره لوبې کولې چې هاوان زموږ په کور را پریوت او وچاودید. ما ذهني ټکان ولید. د بمې ګولی یوه وړه ټوټه زما د لور د بدن په شاتنۍ برخه ولګیده او زما ښځه په جدي ډول ټپي شوه- د بمې ګولی دوه ټوټې د نوموړې په ښې پښه کله چې هغه په پخلنځي کې د خوړو په پخولو لګیا وه ،ولګیدې. څه موده وروسته د هاوان یوه بله ګولی زموږ په ګاونډ کې په کوم ځای کې ولګیده. ډاکټر یوه ورځ وروسته زما لور له روغتون څخه رخصت کړه خو زما ښځې نه شوای کولای خپلې پښبې ته حرکت ورکړي او باید عملیات شي."* [٦٠]

-- د ۲۰۱۵ کال د مې په ۱۱ ، د جوزجان ولایټ د قچې په ولسوالي کې د افغان امنیتي ځواکونو او طالبانو تر منځ د ډزو د تبادلې پر مهال د دوو تپې شویو قربانیانو خپلوان. د ډزو په تبادله کې د دوو نجونو او یوه هلک په شمول یو هلک ووژل شو او ۱۱ نور ملکیان ټپیان شول.

د ۲۰۱۵ کال د جنوری د ۱ نه د ډسمبر تر ۳۱ نیټې پورې ، یوناما د ځمکنیو نښتو په پایله کې تولټال ۴۱۳۷ ملکي مرګ ژوبله(۱۱۱۶ مړه ۳۰۲۱ ژوبل) مستندې کړې ، دا د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۱۵ سلنه زیاتوالی ښیې. په ۲۰۱۵ کال کې ځمکنی نښتې د ملکي مرګ ژوبلې مخکښه لامل پاتې شوی او په روان کال کې د تولومرګ ژوبلو د ۳۸ سلنې لامل و.





[٦٠] د یوه شاهد سره د یوناما تلیفوني مرکه ، مزار شریف ښار ، د مې ۱۳ ، ۲۰۱۵ کال.

د ۲۰۱۵ کال په دوهمه نيمايي موده کې ، د هيواد په کچه د ځمکنيو جګړو زياتوالی ، او په خاص ډول [61] د ۲۰۱۵ کال په اکتوبر او سپتمبر مياشتو کې په کندز ولايت کې د طالبانو يرغل ، د ځمکنيو نښتو په نتيجه کې د ملکي مرګ ژوبلې په برخه کې ۶۰سلنه زياتوالی را منځ ته کړ ، دې د روان کال په لومړۍ نيمايي موده کې د ملکي وګړو په برخه کې هغه ۱۹ سلنه کموالی کوم چې د دغه ډول تاکتيکونو په نتيجه کې را منځ ته شوی ، او يوناما مستند کړی ، په شا تمبولی.

په داسې حال کې چې يوناما نه شي کولای د ځمکنيو نښتو د ۴۴ سلنو را منځ ته شويو ملکي مرګ ژوبلې مرتکبين مشخص کړي ، د ځمکنيو نښتو [62] په پايله کې دولت پلوه ځواکونو د ټولو ملکي مرګ ژوبلو ۳۰ سلنه او دولت ضد عناصرو ۲۵ سلنه مرګ ژوبله را منځ ته کړې. پاتې يو سلنه د ملکي وګړو مرګ ژوبله د پاکستان لخوا څخه د افغانستان لور ته د ډزو په نتيجه کې را منځ ته شوې.

په ۲۰۱۵ کال کې دولتي ځواکونو ته د ابتدايي امنيتي مسوليتونو د ليږد په تعقيب ، يوناما د ځمکنيو نښتو په نتيجه کې د ملکي وګړو د تلفاتو په برخه کې د پام وړ زياتوالی مشاهده کړی او د ا زياتوالی د دولت پلوه ځواکونو لخوا د عملياتو او بريدونو د ترسره کولو له امله را منځ ته شوی. لکه څنګه چې دوی د ياغيتوب په وړاندې د عملياتو د مبارزې لپاره مسوليتونه په غاړه واخيستل او د دولت ضد عناصرو د بريدونو د ترسره کولو په مقابل کې ځواب وايي ، يوناما تر زياتې اندازې دا په ۲۰۱۵ کال کې د افغان امنيتي ځواکونو لخوا د ځمکنيو نښتو په برخه کې زياتوالي ته منسوبوي.

د ملکي وګړو مرګ ژوبله: د جګړې د ښکېلو خواو تر منځ ځکمنۍ نښتې
جنوري- دسمبر ۲۰۱۵




[61] د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر ۲۱ ، په کندز ولايت کې په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو او بشري حقونو د ساتنې په اړه UNAMA/OHCHR ځانګړی راپور وګورئ. په لاندې پته د لاسرسي وړ ده:
.http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/civcas/Special%20Report%20on%20Kunduz%20province_12%20December%202015.pdf

[62] ، د دولت ضد عناصرو له خوا د ۳۲ سلنې او د د ډزو د تبادلې په پيښو کې د ۶ سلنې په پرتله ، د دې علاوه ، په ۲۰۱۵ کال کې دولت پلوه ځواکونه د ځمکنيو نښتو پر مهال د توپونو ، هاوانونو ،راکيټونو او لاسي بمونو د کارولو له امله د ټولې ملکي مرګ ژوبلې د ۶۰ سلنې د پيښيدو لامل شوې. پاته دوه سلنه د پولې په شاخواه کې د ډزو په نتيجه کې را منځ ته شوې.

**د طالبانو لخوا د کندز ښار د نیونې په پایله کې  دخوندي ساتنې په اړه را ولاړې شوې اندیښنې**

د ۲۰۱۵ کال په ډسمبر کې ، په کندز ولایت[٦٣] کې په پوځې شخړه کې د بشري حقونو او  ملکي وګړو د ساتنې په اړه یوناما/د بشری حقونو لپاره د عالي کمشنری د دفتر یو ځانګړی راپور خپور کړ چې د ۲۰۱۵ کال د سپټمبر د ۲۸ نه د اکتوبر تر ۱۳ پورې موده را نغاړي. دا موده د طالبانو لخوا په کندز ښار د برید او د ښار د کنټرول ، د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ښار د نیولو د ابتدایې پړاو او هغې مودې سره چې دولتي ځواکونو د ښار کنټرول بیا ترلاسه کړ ، برابره ده.

یوناما په کندز ښار او شا خوا ولسوالیو کې د پیښو په ترځ کې ټولټال د ۸۹۶ ملکي وګړو مرګ ژوبله (۳۱۸ مړه  او ۵۷۸ ژوبل)[٦٤] مستندهکړې. د اکتوبر په دریمه د بې پولې ډاکټرانو پر روغتون د هوایې برید په نتیجه کې د را منځ ته شویو ټولټال ۸۵ ملکي وګړو مرګ ژوبلې (۴۲ مړه  او ۴۳ ژوبل ) په شمول چې د هوایې برید په نتیجه کې را منځ ته شوه ، یوناما د هدفي یا عمدي وژنو ،موازي عدلي مجازاتو او هوایې بریدونو په نتیجه کې  ملکي تلفات مستند کړي.

یوناما تصدیق کړې چې افغان امنیتي ځواکونو هغه طبي کارکونکي چا چې د بې پولې ډاکټرانو د روغتون څخه تېیان ایستل تهدید او ګواښلي ، افغان امنیتي ځواکونه د ملکي طبي کارکونکو د خوندي ساتلو په برخه کې پاتې راغلي چې موخه یې د ټپي  ملکي  وګړو او همدارنګه د شخړې د ښکیلو خواوو د جنګیالو درملنه وه.

د کندز ښار نېونې طالبانو ته دا فرصت ورکړ چې د بشري حقونو د مدافعینو ، په خاص ډول د ښځو ، دولتي کارکونکو ، د انجوګانو د کارکونکو ، خبریالانو او یوناما د کارکونکو د لټون په موخه سیستماتیکې تلاشې ګانې ترسره او په دې توګه یې د ډار یو چاپیریال را منځ ته کړ او په دې سره یې په ښار کې د بشري حقونو د مدافعینو د سمدستي بې ځایه کیدنې لپاره لار هواره کړه. یوناما همدارنګه د دولتي ، انجوګانو ، ملګرو ملتونو او نورو ملکي سازمانونو د فترونو او شتمنیو ویجاړی او لوټل هم مستند کړی.

په دغه موده کې د حکومتولۍ نه شتون ، په کندز کې د قانون د واکمنۍ بشپړ له منځه تګ او د طالبانو لخوا د ولایتي زندان څخه له ۶۰۰ تنو څخه د زیاتو زندانیانو خوشې کیدو دې ته زمینه برابره کړه تر څو د اساسي بشري حقونو ساتنه له منځه ولاړه شي. اوسیدونکو د اوبو ، بریښنا له نشتوالي او خوراکي توکو له کموالي شکایتونه وکړل. دغې ګډوډۍ یو داسي چاپیریال را منځ ته کړ چیرې چې په پوره معافیت سره په خپل سر وژنې ، فرصت طلبه جنایت او تخریب ترسره شو. یوناما تصدیق کوي چې د وسله والو  وګړو او فرصت طلبه جنایتکارانو لخوا د جندر پر اساس د تاوتریخوالي ویره چې د نا تصدیق شویو راپورونو څخه سرچینه اخلي له ښار څخه د ښځو د کتلوي بې ځایه کیدنې یو کلیدي فاکتور و.

[٦٣] په کندز ولایت کې په وسله واله شخړه کې د بشري حقونو او ملکي کسانو د ساتنې په هکله د یوناما او د بشري حقونو لپاره د عالي کمشنر راپور وګورئ ، د ۲۰۱۵ کال د ډسمبر ۱۲ ، په لاندې پته د لاسرسي وړ ده:
http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/civcas/Special%20Report%20on%20Kunduz%20province_12%20December%202015.pdf


[٦٤] همدا ماخذ وګورئ.د هغه په ځانګړې راپور کې ، یوناما او د بشري حقونو لپاره عالي کمشنرۍ د دې مودې پر مهال د کندز د نښتو څخه د ۸۴۸ ملکي مرګ ژوبلې د ابتدایې ارقامو(۲۸۹ وژنو او ۵۵۹ ټپي کیدنو )راپور ورکړی.

د طالبانو د بیرته وتلو په تعقیب ، که څه هم چې د بشري حقونو مدافعین ، په ځانګړې ډول ښځې ښار ته راستنې نه شوې ، خو په کندز ښار کې ټولیز وضعیت په چټکۍ سره د عادي کیدو لور ته لاړ.

یوناما داسې ابتدایي راپورونه تر لاسه کړي چې ګویا دولتي چارواکو د هغو ملکي قربانیانو او د هغوی د کورنیو لپاره د خسارو او تادیاتو په ورکولو پیل کړی کوم چې د کندز د ښار د اشغال پر مهال متاثره شوې. د بې پولې ډاکټرانو په روغتون هم د برید قربانیانو ته د امریکا د متحده ایالتونو لخوا د خسارو د ورکولو په هکله هم راپورونه ورکړل شوي.

د دې سربیره ، د دندې څخه د کوښه کیدو تر څنګ ، چې د هرې ډلې له خوا د سرغړونو یا د دې مودې پر مهال د تیریو د ارتکاب په موخه اخیستل شوې ، د متحده ایالتونو لخوا د بې پولې ډاکټرانو د روغتون په باندې د هوایي برید په شمول ، یوناما لا هم د احتساب په هکله د هر ډول تدبیرونو په اړه د معلوماتو تر لاسه کولو ته انتظار باسي.[٦٥]

**د ملکي وګړو مرګ ژوبله: په سیمه ییزه کچه ټولې ځمکنۍ نښتې**
**جنوري- دسمبر: ۲۰۰۹-۲۰۱۵**




| | مرکزی سیمه | مرکزی لوړه سیمه | ختیځ | شمال ختیځ | شمال | جنوب ختیځ | جنوب | لویدیځ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2009 | 139 | 0 | 430 | 68 | 100 | 289 | 375 | 28 |
| 2010 | 192 | 8 | 535 | 128 | 125 | 496 | 543 | 83 |
| 2011 | 276 | 1 | 578 | 51 | 60 | 549 | 470 | 77 |
| 2012 | 325 | 3 | 507 | 56 | 181 | 348 | 127 | 85 |
| 2013 | 358 | 12 | 727 | 129 | 196 | 392 | 368 | 152 |
| 2014 | 415 | 18 | 770 | 352 | 435 | 413 | 925 | 276 |
| 2015 | 351 | 22 | 686 | 1265 | 259 | 406 | 927 | 221 |

[٦٥] یوناما زیاتوي چې په افغانستان کې د امریکا د متحده ایالاتو د ځواکونو قومندان وایي: "هغه کسان ې له دې پیښې سره یې ډیره نږدې اړیکه درلوده له خپلو دندو څخه اوس د اداري او دسپلیني اقدماتو تر ملاحظې پورې د تعلیق په حالت کې دي." د دې راپور د لیکلو تر وخت پورې په افغانستان کې د امریکا د متحده ایالاتو ځواکونو په دې پیښې پورې تړلې د هیڅ ډول اداري ، دسپلیني یا قانوني اقداماتو په اړه راپور نه دی ورکړي. وګورئ: "په کندز کې د بې پولې ډاکټرانو د روغتون د څیړنو په اړه بیانیه" د غوڅ ملاتړ ماموریت ، نومبر ۲۸، ۲۰۱۵: http://www.rs.nato.int/article/press-releases/statement-on-the-kunduz-msf-hospital-investigation.html, last accessed 31 January 2016

## په ځمکنیو نښتو کې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب شوې ملکي مرګ ژوبله

*"د سهار نږدې ۸ بجې وې ، موږ په کور کې سهارنۍ خوړلې وه چې کله ما د چاودنې اواز واورید. کله چې ما د کړکۍ څخه د باندې وکتل نو ما یو سړی چې ما د مخه هم پیژانده ولید چې د جومات په لور یې منډې وهلې. زما ځوان زوی ما ته وویل چې زما بل زوی وار د مخه جومات ته نږدې تللی. په کلې کې ټولو د جومات په لور منډې کړې. کله چې زه را ورسیدم نو ما یو ټپي شخص او ډیر جسدونه ولیدل. بیا ما خپل زوی وموند. هغه د خپل ژوند په وروستیو شیبو کې و او خپله وروستی ساه یې ایستله. زه په شوک کې وم. ما حتی نه شوای کولای د هغه وجود لمس او د هغه جسد بې ځایه کړم. د چاودنې په نتیجه کې ۸ وګړي وژل شوي او بل ټپي وو. ولې هغوي وژل شول؟ هیڅ جګړه نه وه. ولې هغوي راکټ وتوغاوه؟ ایا د دې اړتیا وه؟ زه په قهر او بیا غمجن شوم. زه په هغه شخص چې دا ګولۍ یې توغولې او دا تلفات یې را منځ ته کړي په غوصه وم. د ګولۍ د اصابت ځای زما د کور څخه یواځې د سلو میترو په واټن کې و. د نوموړي مور او خویندو ټولو ژړل. ایا تاسو تصور کولای شي؟ ایا تاسو تصور کولای شي چې کله ستاسو زوی په خپلو وینو کې سور پروت وي او تاسو د هغه د پاسه ژاړۍ څومره ستونزمن کار دی؟"* [66]

-- د وردکو د ولایت د سید اباد د ولسوالي په اوتاري کلي کې د افغان ملي اردو په ډزو کې د وژل شوې شخص پلار ، د ۲۰۱۵ کال د ډسمبر ۴. د ډزو په نتیجه کې ۹ تنه ملکي وګړي ووژل شول او بل ټپي شو.

په ۲۰۱۵ کال کې ، د افغان ملي امنیتي ځواکونو په تصفیوي عملیاتو کې چې موخه یې د ګڼ میشته سیمو کنترول او د دولت ضد عناصرو د بریدونو په شا تمبول وو ، د ملکي ګڼ میشتو سیمو په شاخوا کې جګړو زور واخیست. د ځمکنیو نښتو پر مهال د ګڼې ګوڼې په ملکي ګڼ میشتو سیمو کې د چاودیدونکو توکو د دوامداره کارولو په نتیجه کې ملکي وګړو ته زیاته مرګ ژوبله اوښتې چې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوې.

یوناما د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ۱۲۵۶ ملکي وګړو تلفات (۳۴۱ مړه او ۹۱۵ ژوبل ) دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړې ، دا د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۴۰ سلنه زیاتوالي ښیې ، او دا په ټوله کې د ځمکنیو نښتو په نتیجه کې د ملکي وګړو د تلفاتو ۳۰ سلنه جوړوي.

د ملکي تلفاتو په برخه کې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوی زیاتوالی تر زیاتې اندازې د ملکي وګړو په ګڼ میشته سیمو کې دولت پلوه ځواکونو له خوا د توپونو ، هاوانونو ، راکیټونو ، پس لغته ټوپک او بمونو په شمول د چاودیدونکو توکو د کارولو په نتیجه کې را منځ ته شوی. یوناما مشاهده کړې چې د ملکي تلفاتو ټوټال ۸۵ سلنه د ځمکنیو نښتو پر مهال د دولت پلوه ځواکونو له خوا د جګړې پر مهال د غیر مستقیمو[67] او چاودیدونکو توکو د کارولو له امله را منځ ته شوي. دا د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۶۰ سلنه زیاتوالی ښیې.

---

[66] د یوه قرباني شخص سره د یوناما مرکه ، کندز ښار ، د ۲۰۱۵ کال د ډسمبر ۹.

[67] غیر مستقیمې وسلې ، د بیلګې په توګه ، هاوانونه ، راکیټونه او بمونه دي ، دا د لوړې کچې د چاودیدونکو توکو سیستمونه دي او په هدف باندې د یوه موقعیت په لور د څرنګوالې او لیدو پرته د چاودیدونکو توکو ګولۍ توغوي. د یوه خاص هدف د ویشتلو لپاره هاوانونه نه شي رهبري کیدلای او د اصابت کولو پراخه سیمه لري. کله چې په ملکي ګڼ میشته سیمو کې وکارول شي نو د ملکي مرګ ژوبلې خطر ډیر لوړوي.

دغه موندنې د افغانستان د دولت لپاره هغه مهمې اړتیاووې په ډاګه کوي تر څو د افغان امنیتي ځواکونو لخوا د چاودیدونکو توکو د کارولو په برخه کې د ملکي تلفاتو د را کمولو په هدف قوي او عملي تدبیرونه معرفي کړي او د هغو کارکونکو لپاره چې د بې احتیاطي او په عمدي توګه ملکیانو ته د زیان اړولو مسول دي ، د احتساب څخه ډاډ حاصل کړي.

لاندې یواځې هغه څو بیلګې دي کومې چې د افغان امنیتي ځواکونو له خوا د ځمکنیو عملیاتو پر مهال پیښې شوې دي:

- د اپریل په ۲۴ ، دولت ضد عناصرو د لغمان ولایت د الینګار په ولسوالي کې د افغان ملي اردو پر یوې پوستې د هاوانونو د توغولو په شمول د درنو وسلو په واسطه برید وکړ. د افغان ملي پولیسو په ځوابي ډزو کې ، د هاوان یوه ګولۍ په یوه ملکي کور را پریوته چې په نتیجه کې یې ۱۵ ملکي وګړو ته (۷ مړه ، د ۴ ماشومانو په شمول ، او ۸ ټپیان ، د ۶ ماشومانو په شمول ) تلفات واړول.
- د نومبر په ۱۶ ، افغان ملي اردو د فاریاب ولایت د غورماچ په ولسوالي کې د دولت ضد عناصرو د موقعیتونو په وړاندې د هاوانونو متعددي ګولۍ وتوغولې. د هاوان دوه ګولې په یوه ملکي کور را پریوتې چې په نتیجه کې یې دوه ماشومان ووژل او یوه ښځه ټپي شوه.

### په ځمکنیو نښتو کې دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي د ملکي وګړو مرګ ژوبله

یوناما د ځمکنیو نښتو په پایله کې دولت ضد عناصرو ته ۱۰۱۵ ملکي تلفات (۲۹۳ مړه او ۷۲۲ ژوبل ) منسوب کړي- چې دا ۳۸ سلنه کموالی ښیي ، دا د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ټولو ملکي تلفاتو د ۲۵ سلنې لپاره ارقام جوړوي. یوناما مشاهده کړې چې د ملکي تلفاتو ۵۷ سلنه د دولت ضد عناصرو له خوا د ځمکنیو نښتو پر مهال د چاودیدونکو توکو د غیر مستقیمو کارولو له امله را منځ ته شوې.

د دولت ضد عناصرو لخوا د ځمکنیو عملیاتو په پایله کې د ملکي تلفاتو بیلګې:

- د سپتبر په ۵ ، طالبانو د کنړ ولایت په چپه دره ولسوالي کې د افغان امنیتي ځواکونو په پوستو بریدونه ترسره کړل. د طالبانو لخوا د هاوان یوه توغول شوې ګولۍ د چپه درې د ولسوالي اداري تعمیر ته څیرمه په یوه ملکي کور را پریوته چې په نتیجه کې یې دوه نجونې ، دوه هلکان او یوه ښځه ووژل شول او دوه نورې نجونې ټپیانې شوې. طالبانو په کنړ کې د نهو پوستو په وړاندې د برید مسولیت منلی او ادعا یې کړې چې په برید کې یې ۱۷افغان امنیتي ځواکونه وژلي او نهه نور ټپیان کړ ي دي.[٦٨]
- د اکتوبر په ۱۶ ، د وردکو ولایت د سید اباد په ولسوالي کې د طالبانو او افغان امنیتي ځواکونو تر منځ په نښته کې طالبانو د هاوان یوه ګولۍ وتوغوله چې د کابل- غزني په لویه لار کې ولګیده او په نتیجه کې یې دوه ملکیان ووژل او نور نهه تنه ملکیان چې کله دوي د سړک په ا وږدو کې په بسونو کې سفر کاوه ، ټپیان شول. طالبانو یو لړ بیانونه خپاره کړل او ادعا یې کړې چې د کابل- غزني لویه لار یې د ترافیکو پر مخ تړلې او د

[٦٨] د طالبانو بیانیه وکورئ ، د هیواد په شرق کې ۲۲ کسان مړه او ۱۱ پوځې پوستې نیول شوې ، په لاندې پته د لاسرسي ور ده: -http://shahamat-english.com/22 .killed-11-military-posts-seized-in-countrys-eas/, last accessed 16 January 2016

افغان امنيتي ځواکونو سره په جګړه کې ښکيل وو ، او د پيښې پړه يې په دولتي ځواکونو[۶۹] اچولې. محلي سرچينو پيښه طالبانو ته منسوب کړې.

## په هغو ځمکنيو نښتو کې ، چې ملکي وګړو ته يې مرګ ژوبله اړولې خو تلفات کومې ځانګړې ډلې ته ممکن نه و

*"نومورې زما په ګرځنده موبايل زنګ وواهه او ويې ويل ، ګوره وروره... زه يې په ګيده کې په ډزو ويشتلی يم...زه نه پوهيږم چې چا وويشتم...زما تيپونه جدي دي...زه د خپلو کولمو ټوټې په موټرسايکل سپور ليدلای شم ، له هغه وروسته تليفون قطع شو. ما په کراتو کوښښ وکړ څو هغه ته بيا زنګ ووهم خو د هغه تليفون خاموش و او هيچا هم نه شوای کولای د جګړو له امله د پيښې ځای ته ځان ورسوي. يوه ورځ وروسته ما د نومورې جسد او د هغه موټرسايکل په تلويزون باندې وليدل. د نومورې جسد د دريو ورځو لپاره په کوڅو کې پروت و تر هغو چې زما خپلوانو جسد تر لاسه او خښ کړ. کله چې ما د نومورې جسد وليد تليفون لا هم د نومورې په لاس کې و... او د ډوډې کوچنی ټوټه د نومورې په خوله کې و ، د نومورې بدن په بشپړه توګه سوځلی او تور اوښتی و."* [۷۰]

-- د اکتوبر په ۱ ، د کندز په ښار کې د ډزو له امله د يوه وژل شوې ملکي شخص ورور. په داسې حال کې چې د طالبانو د اشغال پر مهال د کورونو د اوبو جريان قطع شوی و ، قرباني شخص د خپلې کورنۍ لپاره د اوبو د برابرولو په موخه د کور څخه د باندې وتلی و.

يوناما ۱۸۳۴ ملکي تلفات(۴۷۲ مړه او ۱۳۶۲ ژوبل ) دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ته منسوب کړې- د ځمکنيو نښتو د ټولو ملکي مړينو او ټپي کيدنو ۴۴ سلنه ، دا د ځمکنيو نښتو څخه د دواړو ښکيلو ډلو د منسوب شويو تلفاتو په برخه کې زياتوالي وړاندې کوي. د ډزو د تبادلې په داسې پيښو کې د ځمکنيو نښتو پر مهال د ملکي تلفاتو په برخه کې زياتوالي د سپټمبر د ۲۸ نه د اکتوبر تر ۱۳ نيټې پورې په کندز کې د نښتو څخه سرچينه اخلي. د دې مودې پرمهال ، په ښارې جګړو کې د ډزو د تبادلې په نتيجه کې ۷۱۶ ملکيانو ته تلفات اوښتې (۲۳۴ مړه او ۴۸۲ ژوبل )- چې دا په ۲۰۱۵ کال کې د ځمکنيو نښتو په پايله ۱۷ سلنه ملکي تلفات دي.

د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو تر منځ د ځمکنيو نښتو پر مهال د ملکي مرګ ژوبلو څو بيلګې:

- د نومبر په ۲۴ ، د غور ولايت د چغچران په ولسوالي کې د دولت ضد عناصرو ، افغان ملي اردو او افغان ملي پوليسو د يوې وسله والې نښتې د ډزو د تبادلې په پايله کې د يوه ماشوم په ګډون ۵ ملکيان ووژل شول.

---

[۶۹] د طالبانو بيانيه وګورئ ، د کابل- غزني لويه لار پرانيستل شوې ، په لاندې پته د لاسرسي وړ ده: -http://shahamat-english.com/22-killed-11-military-posts seized-in-countrys-eas/, last accessed 16 January 2016.

همدارنګه وګورئ ، مجاهدينو د کابل- غزني لويه لار تړلې ، په لاندې پته د لاسرسي وړ ده: -http://shahamat-english.com/mujahideen-close-off-kabul-ghazni highway/, and "Kabul-Bamyan highway blocked off", available at http://shahamat-english.com/kabul-bamyan-highway-blocked-off/, last accessed 16 January 2016.

[۷۰] د قرباني شخص د ورور سره د يوناما مرکه ، کابل ښار ، د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر ۱۰.

- د سپټمبر په ۵ ، دولت ضد عناصرو د هلمند ولایت په موسی کلا ولسوالي کې د افغان ملي پوځ په یوه پوسته برید وکړ چې په نتیجه کې یې  څلور ملکي وګړي ووژل او یو بل یې ټپي کړ. پېښه هغه وخت رامنځ ته شوه  چې  خلکو کوښښ کولو چې د هغه کس جسد راواخلي کوم چې د نښتې  نیم ساعت د مخه ځای په ځای شوي چاودیدونکي توکو د چاودیدو په نتیجه کې ووژل شوی و.

## د ملکي وګړو په ګڼ میشتو سیمو کې چاودیدونکي وسلې

*موږ په جومات کې ناست وو او د ملا انتظار مو یوست تر څو د جمعې د لمانځه خطبه پیل کړي. په داسې حال کې چې مشران په اول صف کې دریږي ، او هلکان معمولاً د لمانځه په اخر صف کې کښیني زه هم په اخر کې کښیناستم. کله چې د هاوان ګولۍ ولګیده نو د لمانځه د اخر صف هلکان یې و وژل او ټپیان کړل. زه لږ څه ها خوا وم او د بم ټوټو پر شا ټپي کړم. ما په جومات کې هر لور ته وینې ولیدي او بیا بې هوښه شوم."* [۷۱]

-- د اکتوبر پر ۳۰ ، د ننګرهار ولایت د اچین په ولسوالي کې په یوه جومات کې د هاوان د لګیدو له امله یو ۱۲ کلن هلک ټپي شو. په پیښه کې د ۵ هلکانو په شمول ، ۵ هلکان ووژل شول او نور ۸ تنه ټپیان شول. د افغان امنیتي ځواکونو او داعشیانو تر منځ د یوې ځمکنۍ نښتې پر مهال د هاوان یوه ګولۍ په جومات ولګیده.

د ځمکنیو نښتو په نتیجه کې د ۴۱۳۷ ملکي تلفاتو له جملې څخه چې د ۲۰۱۵ کال د جنوري د ۱ نه د ډسمبر تر ۳۱ پورې مستند شوي ، یوناما یادونه کوي چې د شخړې د ښکیلو خواوو لخوا د هاوانونو ،راکیټونو ، بمونو او نورو چاودیدونکو توکو د کارولو په پایله کې ۱۷۸۱ ملکي تلفات(۴۱۷ مړه او ۱۳۶۴ ژوبل ) را منځ ته شوې. یوناما په ګڼ میشتو سیمو کې د غیر مستقیمو وسلو د کارولو له امله داسې موارد مستند کړي کومو چې په  ملکي وګړو بې توپیره او جدي بشري اغیزې درلودلې دي. د ملګرو ملتونو  سر منشي د شخړې د ښکیلو خواوو څخه غوښتنه کړې څو د داسې چاودیدونکو وسلو د کارولو څخه ډډه وکړي چې  په ګڼ میشتو سیمو [۷۲] کې پراخ ناوړه  اغیز او پایلې لري .

د طالبانو په شمول ، نه افغان ملي امنیتي ځواکونو او نه د دولت ضد عناصرو کومې ډلې چې ملکیانو ته د زیان د پیښیدو د مخنیوي لپاره کافي احتیاطي تدبیرونو ونیسي  او یا که چیرې  ملکیان په مستقیم ډول په نښه شوي وي ، د بې توپیره برید له امله هغوی ته زیان اوښتی وي ، یا چیرې چې د چاودیدونکو توکو یا غیر مستقیمو ډزو د کارولو له لارې ځواکونه په دې کې پاته راغلي وي ، نو په دې اړه د حساب ورکونې کوم ځانګړی مورد نه دی وړاندې کړی.

د ملکي وګړو په ګڼ میشتو سیمو کې د چاودیدونکو توکو له لارې د  ملکي تلفاتو یواځې دوه بیلګې په لاندې ډول دي:

- د اګسټ په ۳۰ ، دولت ضد عناصرو د افغان ملي اردو پر یوه کاروان هغه مهال غلچکی برید ترسره کړ چې کله د وردکو ولایت د سید اباد ولسوالي د کړوخیلو او یوسف خیلو د کلیو څخه تیریده. په تعقیبي برید کې ،

[۷۱] د یوه قرباني شخص سره د یوناما مرکه ، د ننګرهار عامه روغتون ، د نومبر ۱ ، ۲۰۱۵ کال.
[۷۲] په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د ملګرو ملتونو د عمومي سر منشي راپور وګورئ ، S/2012/376.

د هاوان دوو ګولیو په ملکي کورونو اصابت وکړ چې په نتیجه کې یې د ۶ هلکانو ، دوو نجونو او ۶ ښځو په شمول یو نجلی ووژله او نور ۱۶ ملکیان یې ټپیان کړل.


- د ډسمبر په ۱۳ ، د هلمند ولایت د مارجې ولسوالي په مرکز کې ، افغان ملي اردو د دولت ضد عناصرو پر یوې ډلې چې غوښتل یې یوه ملکي کور ته نږدې شي د هاوان یوه ګولی وتوغوله چې په نتیجه کې یې ۵ ښځې او ۶ ماشومان ټپیان شول او کور ته زیان واوښت.

## ۳. دولت ضد عناصر

دولت ضد عناصر[۷۳]، د شخړې سره د ترلو اکثرو زیانونو مسول پاته شوې او په ۲۰۱۵ کال کې یې ۶۲ سلنه ملکي تلفات اړولي. د جنورې د ۱ نه د دسمبر تر ۳۱ پورې، د عملیاتو په نتیجه او د دولت ضد عناصرو له خوا[۷۴] د ترسره شویو بریدونو په پایله کې یوناما ۶۸۵۹ ملکي تلفات (۲۳۱۵ مړه او ۴۵۴۴ ژوبل) مستند کړي، چې د ۲۰۱۴ په پرتله لس سلنه کموالی ښیې.

یوناما په لاندې ډول مسولیت منسوبوي:

| | |
|---|---|
| د هغو پیښو په پایله کې را منځ ته شوې ملکي تلفات چې طالبانو یې په عام ډول مسولیت منلی | 1,490 |
| د هغو پیښو په پایله کې را منځ ته شوې ملکي تلفات چې سرچینو یې مسولیت طالب پلوه قومندانانو ته منسوب کړي خو په عام ډول یې مسولیت نه دی منلی. | 2,549 |
| د هغو پیښو په پایله کې را منځ ته شوې ملکي تلفات چې داعش یې په عام ډول مسولیت منلی | 18 |
| د هغو پیښو په پایله کې را منځ ته شوې ملکي تلفات چې سرچینو یې مسولیت داعش پلوه قومندانانو ته منسوب کړي خو په عام ډول یې مسولیت نه دی منلی. | 64 |
| دولت ضد وسله والو ډلو ته منسوب شوې ملکي تلفات د کومو لپاره چې د مسولیت ادعا نه ده شوې او منسوبول یې کومې خاصې ډلې[۷۵] ته ممکن نه و. | 2,738 |
| **دولت ضد عناصرو ته ټولټال منسوب شوې ملکي مرګ ژوبله** | **6,859** |





[۷۳] په دې ډله کې ټول هغه اشخاص او ډلې راځي چې اوس مهال د افغانستان د دولت او نړیوالو نظامي ځواکونو پر ضد په وسله واله جګړه کې ښکیل دي. هغه وګړي چې د طالبانو په نامه پیژندل شوي او هغه اشخاص او بیلا بیلې ډلې چې په جګړه کې فعاله برخه اخلي، او تر مختلفو نومونو لاندې لکه د حقاني شبکه، حزب اسلامي، د ازبکستان اسلامي حرکت، د اسلامي جهاد اتحاد، لشکر طیبه او جیش محمد او هغه نورې ډلې چې ځانونه د داعش او نورو ملیشو او وسله والو ډلو چې سیاسي، ایدیالوژیکي او اقتصادي اهداف تعقیبوي یا نورې جرایم پیشه ډلې چې په جګړه کې د یوې ښکېلې خوا په استازیتوب ګډون کوي، په دغو عناصرو کې راځي.
[۷۴] په ۲۰۱۴ کال کې، یوناما ۷۶۴۳ ملکي مرګ ژوبله (۲۶۷۷ مړه او ۴۹۶۶ ژوبل) ټولو دولت ضد عناصرو ډلو ته منسوب کړې.
[۷۵] یوناما د ۲۰۱۵ کال په جریان کې د ۱۰ تنو څخه کم ملکي مرګ ژوبله لاندې ډلو ته منسوب کړې: د حقاني شبکه، اسلامي ګوند او تحریک طالبان پاکستان.

## هغه تاکتیکونه او د پېښو نمونې کومو چې ملکیانو ته زیات زیان اړوي

په ۲۰۱۵ کال کې د دولت ضد عناصرو له خوا تر ټولو ډېر ضررلرونکی کارول شوی تاکتیک د تعبیه شوېو چاودیدونکو توکو کارول و ، دې تاکتیک ۳۵ سلنه ملکي تلفات را منځ ته کړی چې دې ډلو ته منسوب شوي. په دې پسې ځانمرګې او ډله ییز بریدونه راځي چې ۲۷ سلنه ملکي تلفات یې اړولې او دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي. د داسې بریدونو لپاره د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د کارولو په شمول ، د دولت ضد عناصرو لخوا هدفي وژنو د ملکي تلفاتو دریم لوړ ارقام چې دغو ډلو ته منسوب شوي ، را منځ ته کړې ، چې ۲۱ سلنه مرګ ژوبله دغو ډلو ته منسوب شوي. په ځمکنیو نښتو کې چیرې چې ملکي تلفات یواځې دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي د ملکي وګړو څلورم لوړ ارقام ښیې کوم چې دولت ضد عناصرو ته منسوب دي- د ټولو تلفاتو ۱۵ سلنه دي. پاته دوه سلنه تلفات د شخړې سره د مرتبطو ښېټونو ،موازي عدلي مجازاتو او فزیکي ټپونو په نتیجه کې را منځ ته شوي چې د ګواښ ، تهدید او ځورونې[۷۶] پر مهال ملکي وګړو ته اوښتي.

په خاص ډول د یادونې وړ ده ، د ۲۰۱۵ کال د جنوري د ۱ نه بیا د ډسمبر تر ۳۱ پورې ، د دولت ضد عناصرو لخوا د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د ګډو تاکتیکونو په پایله کې (عنعنوي تعبیه شوي چاودیدونکوتوکو ، ځانمرګي او ډله ییز بریدونو[۷۷] او په هدفي وژنو کې کارول شویو تعبیه شویو چاودیدونکو توکو) ۴۵۲۰ ملکي وګړو ته تلفات (۱۱۰۸ مړه او ۳۴۱۲ ژوبل ) اړولي چې دا د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي وګړو ۶۶ سلنه تلفات ښیې ، په ۲۰۱۵ کال کې د وسله واله شخړې سره د تړلو ټولو ملکي وژنو او ټپي کیدنو ۴۱ سلنه د ټولو تعبیه شویو چاودیدونو توکو ګډو تاکتیکونو په نتیجه کې را منځ ته شوي.




**د تاکتیک په اساس د ملکي وګړو مړینه: دولت ضد عناصر**
**جنوري - دسمبر : ۲۰۰۹- ۲۰۱۵**

---

[۷۶] ګواښونه ، تهدیدونه او ځورونه هغه کټګوري ده ، چې د یوناما له خوا د مرګ یا زیان د ګواښونو ، تهدیدونو او ځورونې د ثبت لپاره کارول شوې ، کوم چې د شخړې د ښکیلو خواوو له خوا د ملکي وګړو په وړاندې ترسره شوي او له بشري حقونو څخه سرغړونه یا تیری ګڼل کیږي. دغه کټګوري د خوځښت ناقانونه محدودیتونه یا د بیانیه د ازادي مخنیوی ، او له ملکیت ناقانونه محرومیت رانغاړي. دغه راز نوموړې کټګوري د فیزیکي تاوتریخوالي هغه پېښې رانغاړي ، چې موخه یې د ملکي وګړو ګواښل ، تهدیدول یا ځورول وي ، لکه مجازات ، غچ یا د قصدي یرغل نورې بڼې ، کله چې موخه د ملکي وګړو ګواښل ، تهدیدول یا ځورول وي.

[۷۷] د یوناما ډله ییزو بریدونو نه هغه عمدي او همغږي بریدونه ته وایی په کوم کې چې د ځانمرګې اله شامله وي (i.e., BBIED, VBIED) ، له یوه بریدګر او یوې الې څخه زیات (i.e., BBIED and mortars). ډله ییز برید یواځې هغه وخت ډله ییز برید ویل کیږي چې دا دربې واړه عناصر پکې شتون ولري.

## ځای پر ځای شوې چاودیدونکې توکي

د هغه تمایل په تعقیب چې په وسله واله شخړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د ۲۰۱۵ کال په خپل شپږمیاشتنې راپور کې مستند کړی ، یوناما د ځای پر ځای شوېو چاودیدونکو توکو په واسطه د ملکي تلفاتو په برخه کې کموالی ثبت کړې دی. د ۲۰۱۵ کال د جنوري د ۱ نه د ډسمبر تر ۳۱ پورې ، یوناما د ځای پر ځای شوېو چاودیدونکو توکو په نتیجه کې ټولټال ۲۳۶۸ ملکي تلفات(۷۱۳ مړه او ۱۶۵۵ ژوبل) مستند کړیدي ، چې دا د۲۰۱۴ کال په پرتله[۷۸] د ځای پر ځای شوېو چاودیدونکو توکو په نتیجه کې د ټولو ملکې تلفاتو په برخه کې ۲۰ سلنه زیاتوالی[۷۹] ښیې. ځای پر ځای شوې چاودیدونکي توکي د ملکي تلفاتو مخکښنه لامل پاتې شوی چې په یواځې سر دولت ضد عناصرو ته منسوبیږي او د ملکي وګړو د تلفاتو دوهم ستر لامل پاته شوې چې د ۲۲ ملکي تلفات یې اړولې - کوم چې په ۲۰۱۵ کال کې د ټولو ډلو لخوا د ټولو تاکتیکونو په نتیجه کې رامنځ ته شوي .


یوناما یادونه کوي چې د ځای پر ځای شوي چاودیدونوکو توکو له امله ملکي تلفاتو کې کموالی په دې مانا نه ده چې دولت ضد عناصرو کم ځای پر ځای شوې چاودیدونکي توکي کارولې. د ځای پر ځای شوېو چاودیدونکو توکو په نتیجه کې د را منځ ته شویو ملکي تلفاتو په برخه کې کموالی ښایې د دولت ضد عناصرو له خوا دې برخه کې د هدف نښه کولو تحرکاتو پوټینشل کې پرمختګ او هم د افغان امنیتي ځواکونو د مخ پر زیاتیدونکو کشفي مهارتونو او د ځای پر ځای شوېو چاودیدونکو توکو خنثی کولو مهارت کې پرمختګ ته منسوب کیدای شي.

په ۲۰۱۵ کال کې ، د ځای پر ځای شوېو چاودیدونکو توکو له امله کندهار ، هلمند ، ننګرهار ا و غزني ولایتونه زیات متاثره شوي.

[۷۸] یوناما یادونه کوي چې په دغو ارقامو کې هغه ملکي مرګ ژوبل نه دې شامل کوم چی د ځای پر ځای شوېو چاودیدونکو توکو ، ځانمرګي او پیچلو بریدونو په نتیجه کې یا هغو ځای پر ځای شوېو چاودیدونکو توکو چې په هدفي وژنو کې کارول کیږي ، را منځ ته کیږي ، هغه د دغو تاکتیکونو د خاص ماهیت د درلودلو له امله په جلا ډول ثبت شوې. د یو ځای شمیرلو په صورت کې ، د ځای پر ځای شوېو چاودیدونکو توکو مختلفو تاکتیکونو له لارې په ۲۰۱۵ کال کې ۴۱ سلنه ملکي مرګ ژوبله را منځ ته شوې. مخکینۍ برخه وګورئ.

[۷۹] په ۲۰۱۴ کال کې ، یوناما د ځای پر ځای شوېو چاودیدونکو توکو په پایله کې ۲۹۵۴ د ملکي وګړو مرګ ژوبله (۹۲۵ مړه او ۲۰۲۹ ټپي کیدنې)مستنده کړې.

**د ملکي وګړو مرګ ژوبله : په سیمه ییز ډول د ځای په ځای شوي چاودیدونکي توکي**
**جنوري - دسمبر ۲۰۰۹-۲۰۱۵**




| | مرکزي سیمه | مرکزي لوره سیمه | ختیځ | شمال ختیځ | شمال | جنوب ختیځ | جنوب | لویدیځ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2009 | 90 | 0 | 101 | 52 | 47 | 383 | 1079 | 125 |
| 2010 | 108 | 0 | 233 | 199 | 129 | 554 | 1316 | 207 |
| 2011 | 106 | 0 | 234 | 176 | 149 | 597 | 906 | 292 |
| 2012 | 179 | 0 | 181 | 151 | 230 | 653 | 876 | 261 |
| 2013 | 138 | 39 | 288 | 137 | 254 | 675 | 1109 | 253 |
| 2014 | 204 | 7 | 437 | 288 | 329 | 451 | 1017 | 221 |
| 2015 | 213 | 15 | 286 | 263 | 221 | 419 | 743 | 208 |

د یوناما له اړخه د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د پیښو د تصدیق کولو پر مهال ، یوناما د ولسوالی ، ولایت او مرکز په کچو کې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو سره د مبارزې او د چاودیدونکو توکو د خنثی کولو د کارپوهانو په شمول ، د افغان او نړیوالو امنیتي سازمانونو[۸۰] سره سلامشورې ترسره کړې څو د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو هغه نومونې چې په خاصو بریدونو کې کارول شوې ، معلومې کړي. یوناما ځای پر ځای شویې چاودیدونکي توکي د هغه اساسي میتود په اساس ډله بندي کړې چې په چاودنه[۸۱] کې کارول کیږي ،چې په دې کې د قرباني شخص د تماس سره فعالیدونکي ځای پر ځای شویو چاودیدونکي توکي ، د ریموټ کنټرول/رادیو او قوماندې د لارې فعالیدونکي ځای پر ځای شویو چاودیدونکي او د ځانمرګي[۸۲] چاودیدونکي وسیلې شامل دي. په افغانستان کې تر ټولو عام ځای پر ځای شوې چاودیدونکي توکي د فشار سره فعالیدونکي[۸۳] ځای پر ځای شوې چاودیدونکي توکي دي. په داسي حال کې چې


[۸۰] د نورو جلسو تر څنګ ، د کابل ولایت په کابل ښار کې د افغان ملي اردو د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په وړاندې د مبارزې د مشر سره د یوناما مرکه ، د جون ۴ ، ۲۰۱۵ کال.

[۸۱] د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د نمونو د تعریفونو او تشریح لپاره اصطلاحات وګورئ.

[۸۲] یو ځاي پرځاي شوی چاودېدونکی توکی د فعالونکي سیستم له لارې چول کیږي او یا یې هم ماشه فعالیږي ، چې هغه کېدلای شي د فشار تخته ، موبایل ټیلیفون ، رادیو ، ټایمر ، او یا هم هغه سیم وي چې په فزیکي لحاظ ددغه توکي سره وصل شوی وی ، وي. د کنټرول شویوځاي پرځاي شویو چاودیدونکو توکو د پوهېدنې لپاره تنظیمونکی ، د ملکی-نظامي فیوژن مرکز (سي ایف سي) ، د ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو د اساساتو پوهېدنه ، سپټمبر ۲۰۱۱ ، په دې لیکه وګورئ : http:// www.cimicweb.org?counterIED/20110912_C-IED_Topical _Report_Introduction_to_IEDs20-%20draft%20final%5B1%5D.pdf, accessed .8 June 2014

[۸۳] د فشار په ذریعه فعالیدونکي ځاي پر ځای شوي چاودیدونکي توکي په عمومي صورت د قرباني د تماس په ذریعه فعالیدونکي بمونه دي او هغه مهال چوي کله چې یو شخص او یا هم یوه نقلیه وسیله وربانديې تیره شي. دغه ډول د فشار د تختې په ذریعه فعالیدونکي ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي بې توپیره او ناقانونه وسلې دي. د فشار په ذریعه فعالیدونکي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي په عمومي صورت په افغانستان کې داسې عیار شوي دي او هغه مهال چوي کله چې پرې یو شخص او یا وربانديې کومه نقلیه وسیله تیرېږي او زیاتره یې نږدې د ۲۵-۲۰ کلو ګرامو پورې چاودېدونکي مواد لري( په عمومي صورت په کورونو کې جوړېږي )؛ چې د ټانک ضد عادي ماین څخه دوه برابره زیات مواد لري ، خو د ماشې حساسیت یې د پرسونل ضد ماین تر اندازې دی. دا په دې مانا ده چې د فشار د تختې په ذریعه فعالیدونکي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي په اغیزمن ډول د پرسونل ضد د یوه کټله ییز ځمکنی ماین په توګه فعالیت کوي( چې دا یوه ناقانونه وسله ده نه یواځې د دې له امله چې افغانستان د پرسونل ضد ماینونو د منع د کنوانسیون غړیتوب لري ) او دومره توان لري چې پرسونل او نقلیه وسیلو ته ډېر شدید ، د فاجعې ډک زیان اړوي. ملکي وګړي کله

یوناما مقناطیسي ځای پر ځای شویې چاودیدونکي توکي په جلا توکه ثبت کړې ، هغه په تخنیکي لحاظ د لرې واټن له لارې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو فرعي کتګورې ده. د ماشې په واسطه فعالیدونکي ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د هرې نمونې د تعریف لپاره د اصطلاحاتو برخه‌وګورئ.




## د تماس/فشار سره فعالیدونکي ځای پر ځای شوي چاودېدونکي توکي

*"په هغه ورځ ، زه او زما ۱۵کلن زوی مې د خپل موقت کور څخه خپل کلي ته ولاړو تر څو د هغه ځایه یوه اندازه کالي او خواړه را واخلو. د نا امنې له امله زما کورنۍ د خپل کور څخه لا د مخه بې ځایه شوي وه. موږ خپل ټول شته په یوه لاسي کراچۍ کې واچول او کله چې زما زوی دخپلې دروازې څخه د باندې د کور په لور قدم کښیښود نو د فشار په ذریعه فعالیدونکي ځای پر ځای شوي چاودېدونکي توکي وچاودید او هغه یې ټپي کړ. کله چې موږ څو دقیقې وړاندې د همدغه دروازې څخه دننه شوو نو هیڅ هم واقع نه شول ، خو کله چې مو د بار شوې لاسي کراچۍ سره د باندې را ووتلو نو د فشار په ذریعه فعالیدونکي ځای پرځای شوي چاودېدونکي توکي وچاودید او علت یې هم ښایي دا وي چې کراچۍ بار وه. زه نه پوهیږم موږ ولې کړیږو او رنځیږو؟ موږ د خوړو لپاره هیڅ نه لرو ، موږ هر یو یوه جوړه کالي لرو او د ژوند کولو لپاره هیڅ ځای نه لرو."*

-- د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر په ۲۹ ، د هلمند ولایت په موسی کلا ولسوالي کې د فشار په ذریعه د فعالیدونکي ځای پر ځای شوي چاودېدونکي توکي د چولو له امله د یوه ۱۵ ټپي شوي هلک پلار.[٨٤]

---

چې په دغو ځاي پر ځاي کړاي شويو چاودېدونکو توکو پښې کښیږدي او یا هم په دغو چاودېدونکو توکو باندې په عادي نقلیه وسیله کې( د زرهي پرته ) تیریږي نو د هغو په وړاندې دفاع نه لري او د ځان ساتنې ډیر لږ موقع ورسره وي. په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۵ کال شپږ میاشتنی راپور وګورئ ، ۴۷ پاڼه.

[٨٤] د یوناما تلیفوني مرکه ، کندهار ښار ، د نومبر ۱ ، ۲۰۱۵ کال

په داسې حال کې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د را منځ ته شویو ملکي تلفاتو په برخه کې ټولیز کموالی موجود و ، یوناما په ۲۰۱۵ کال[۸۵] کې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو او نا قانونه د فشار سره چاودیدونکي توکو[۸٦] د کارولو له امله د مخ پر زیاتیدونکو ملکي وګړو مرګ ژوبلې په اړه جدی اندېښنه ښودلې. د فشار په ذریعه فعالیدونکي ځای پر ځای شوې چاودېدونکې توکي د قرباني شخص په واسطه فعالیدونکې الې دي. دا بې توپیره وسله داسې جوړې شوي او هغه مهال چوي چې کله یو شخص یا کومه نقلیه وسیله د چاودیدونکو توکو د چولو الې ماشه کښې کړي یا د پښې د ایښودلو یا په هغه باندی د نقلیه وسیلې د پاسه تیریدلو له امله چوي. یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د داسې الو د کارولو په نتیجه کې ۱۰۵۱ ملکي تلفات (۴۵۹ مړه او ۵۹۲ ټپې کیدنې) مستند کړي ، چې دا د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۳۵ سلنه زیاتوالې ښیې.

د فشار په ذریعه د فعالیدونکو ځای پر ځای شوېو چاودېدونکو توکو له امله را منځ ته شویو ملکي تلفاتو کې زیاتوالی د دې سره تړاو لري چې د دولت ضد وسلوال عناصر د ځمکنیو نښتو پر وخت او له عملیاتو وروسته او مخکې موده کې دا د یوې دفاعي وسلې په حیث د افغان امنیتي ځواکونو د پرمختګ د مخنیوي او سوکه کولو په موخه مخ پر زیاتیدونکي ډول کارول کیږي. یوناما په ملکي کرهنیزو سیمو ، پیاده رونو اوعامه سړکونو کې چیرې چې ملکي وګړي تګ او راتګ کوي د فشار په ذریعه د فعالیدونکو ځای پر ځای شوېو چاودېدونکو توکو د چاودنو متعددې پیښې[۸۷] مستندې کړي دي. په داسې حال کې چې هغوی د ژوند ورځنۍ چارې پر مخ وړي او د خپلو کورونو او حیواناتو د څړځایونو تر منځ یې سفر کاوه ، دغو ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اړولې. د فشار په ذریعه د فعالیدونکو ځای پر ځای شوېو چاودېدونکو توکو دغه ډول کارونه په افغانستان[۸۸] کې نا قانونه ده او ښایې د نړیوال بشر دوستانه قانون په سرغړونو کې وشمیرل شي ، ځکه دا د نړیوال بشر دوستانه قانون د غوښتنو سره سم د دغو ا - لو تاثیرات محدود کیدای نشي.

د فشار په ذریعه د فعالیدونکو ځای پر ځای شوېو چاودېدونکو توکو څخه د را منځ ته شویو ملکي تلفاتو بیلګې په لاندې ډول دي:

[۸۵] د ۲۰۱۴ کال د جنوري د ۱ نه د ډسمبر تر ۳۱ پورې ، یوناما د ۷۷۵ ملکي وګړو مرګ ژوبله (۴۱۷مړه او ۳۵۸ ژوبل) مستنده کړې ، دا د ۲۰۱۳ کال په پرتله د فشار په ذریعه د فعالیدونکو ځای پر ځای شوېو چاودېدونکو توکو په نتیجه کې د ملکي مرګ ژوبل په برخه کې ۳۹ سلنه زیاتوالې ښیې.

[۸٦] افغانستان د پرسونل ضد ماینونو د منع ، کارونې ، زیرمه کولو ، تولید او لیږدولو او د هغو د تخریبولو د ۱۹۹۷ کال کنوانسیون ( د ماینونو د منع د اتاوا کنوانسیون) لاسلیک کړی دی. دغه تړون په کارخانه کې د جوړ شوی پرسونل ضد ماینونو او د قرباني په ذریعه د فعالیدونکو ځاي پرځای شویو چاودېدونکو توکو لکه د فشار په ذریعه د فعالیدونکو ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو کارول منع کوي. په کنوانسیون کې د (ماین) تعریف هغه ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي دي کوم چې داسې ډیزاین شوي دي چې د ځمکې د لاندې او یا هم پرځمکه ایخودل کیږي چې د شخص او یا نقلیه وسیله تېریدلو ، نږدې کیدو او یا هم تماس سره چوي.

[۸۷] د دولت ضد عناصرو ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي په تیره بیا د فشار په ذریعه فعالیدونکي چاودېدونکي توکي په ترانزیتي لارو چې د پلیو د کوچنیو لارو څخه واخله تر سترو لارو پورې دي ځاي پرځاي کړي چې په پایله کې یې هغه ملکیان چې پرې ختلي دي او یا هم پر بایسکلونو ، بسونو او یا موټرو کې تیر شوي دي وژل شوي او یا هم ژوبل شوي دي.

[۸۸] افغانستان د پرسونل ضد ماینونو د منع ، کارونې ، زیرمه کولو ، تولید او لیږدولو او د هغو د تخریبولو د ۱۹۹۷ کال کنوانسیون ( د ماینونو د منع د اتاوا کنوانسیون) لاسلیک کړی دی. دغه تړون په کارخانه کې د جوړ شوی پرسونل ضد ماینونو او د قرباني په ذریعه د فعالیدونکو ځاي پرځای شویو چاودېدونکو توکو لکه د فشارد تختې په ذریعه د فعالیدونکو ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو کارول منع کوي. په کنوانسیون کې د (ماین) تعریف هغه ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي دي کوم چې داسې ډیزاین شوي دي چې د ځمکې لاندې او یا هم پرځمکه ځاي پرځاي کیږي چې د شخص او یا نقلیه وسیلې په شتون ، نږدې کیدو او یا هم تماس سره چوي.

- د نومبر په ۲۰ ، د هلمند ولایت په مارجه ولسوالي کې یو موټر سایکل چې څلور ملکیان پرې سپاره و د فشار په ذریعه د فعالیدونکو ځای پر ځای شوېو چاودېدونکو توکو پر یوه اله ور پیښ شو. په چاودنه کې دوه تنه ځوان ملکیان( میره او ښځه ) و وژل شول او دوه نور ماشومان ټپیان شول.
- د جولای په ۱۳ ، یوه نقلیه وسیله چې خپلو کورونو ته یې ۵ تنه ملکي وګړي لیږدول د وردګو ولایت د سید اباد په ولسوالي کې د فشار په ذریعه د فعالیدونکو ځای پر ځای شوېو چاودېدونکو توکو په یوې الې ور برابره شوه چې په نتیجه کې یې دوه ملکیان ووژل شول او د یوې کورنۍ شخه درې نور وګړي یې ټپیان کړل.

## له لېرې واټن څخه کنترول شوې ځای پر ځای شوې چاودېدونکې توکي

*"د سهار نږدې ۶ بجې وې چې ما خپله هټې پاکوله. ما د خپل دوکان په وړاندې د سړک پر سر یوه بوشکه ولیدله ، خو پاملرنه مې ورته و نه کړه. یو هلک د خپل مشر ورور سره د خپل نانوای دوکان پر طرف په لار روان وو چې د بوشکې د لیدلو په موخه ودریدل. کله چې هلک بوشکې ته حرکت ورکړ ، نو وچودله. په چاودنه کې هلک ووژل شو او د هغه د مشر ورور تېول بدن ټپي شو. ما د نورو خلکو سره یو ځای هغوی ته ور منډه کړه او د فراه ولایتي روغتون ته مې ټپیان ولیږدول. دغې پیښې زه خواشینی کړم او د ځایې خلکو په منځ کې یې ویره خپره کړه."* [89]

-- د یوې پیښې شاهد چې کله له لېرې واټن څخه کنترول شوې ځای پر ځای شوې چاودېدونکې توکي وچاودیدل ، فراه ښار ، فراه ولایت ، د اپریل ۵ ، ۲۰۱۵ کال. په چاودنه کې یو هلک ووژل شو او یو بل ملکي وګړی ټپي شو.

د جنوري د ۱ نه د ډسمبر تر ۳۱ پورې ، یوناما له لېرې واټن څخه د کنترول شوېو ځای پر ځای شوېو چاودېدونکو توکو په نتیجه کې د ۷۶۳ ملکي وګړو تلفات (۱۴۴ مړه او ۶۱۹ ژوبل) مستند کړي چې دا د ۲۰۱۴ کال [90] په پرتله ۳۰ سلنه کموالی ښیې. د پام وړ کموالي سربیره ، د لېرې واټن څخه کنترول شوې ځای پر ځای شوې چاودېدونکې توکي یواځې د نورو ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو ترڅنګ د ملکي تلفاتو ۳۲ سلنه جوړوي چې دا په ۲۰۱۵ کال [91] کې د ټولو ملکي تلفاتو ۷ سلنه جوړوي.

د لېرې واټن څخه کنترول شوي ځای پر ځای شوې چاودېدونکې توکي د دستور /قوماندې په واسطه فعالیدونکې چاودیدونکي توکي دي او فعالونکي ته دا امکان ورکوي چې په ټاکل شوې دقیق وخت کې توکي وچوي. په ملکي ګڼ میشتو سیمو کې د دې ډول وسایلو دوامداره کارول د ملکي وګړو او ملکي موخو ته ډیر زیان اړوي. د دې په خاطر چې د نړیوال بشر دوستانه قانون د ژمنو سره مطابقت اجرات وکړي ، نو په دې اساس دې ته د پای ټکی کیښودل شي او د دې لپاره دې ټول لازم تدابیر [92] ونیسي چې د عملیاتو پر مهال د تصادفي زیان (ضمني زیان) مخنیوي وکړي او یا

[89] د یوه شاهد سره د یوناما مرکه ، فراه ښار ،د اپریل ۱۲ ، ۲۰۱۵ کال.

[90] په ۲۰۱۴ کال کې ، یوناما له لېرې واټن څخه د کنترول شوېو ځای پر ځای شوېو چاودېدونکو توکو په نتیجه کې ۱۰۹۱ ملکي مرګ ژوبله (۲۳۳ مړه او ۸۵۸ ټپي کیدنې) مستنده کړي.

[91] له لېرې واټن څخه کنترول شوې ځای پر ځای شوې چاودېدونکې توکي د یوې هدفي وژنې د یوه میتود په حیث کارول کیږي ، د هغو مواردو په شمول چې کله د هدف لاندې شخص یو ملکي شخص وي ، دا د قتل د جنګې جرمونو په برخه کې تر پوښښ لاندې نیول شوې: چې د ملکي کسانو عمدي وژن لاندې ذکر دي.

[92] د ا ـ ي سي ا ـ ر سي د عرفي قانون د مطالعې ۱۵ قاعده وګورئ. د نظامي عملیاتو په سلوک کې باید همیشه دې ته پاملرنه وشي چې ملکي وګړي ، ملکیان او ملکي تاسیساتو ساتنه وشي. ټول ممکنه احتیاط باید ترسره شي څو په هره پیښه کې د ملکیانو د ژوند ، ژوبل او ملکي تاسیساتو ته د تاوان مخنیوی وشي او یا هم را ټیټ شي.

هم لږ تر لږه هغه حد اقل ته راټیټ کړي ، او د هغو بریدونو څخه ډډه وکړي چې ملکي وګړو ته په غیر نا متناسبه ډول زیان اړوي .

له لېرې واټن څخه د کنترول شوېو ځای پر ځای شوېو چاودېدونکو توکو د بریدونو په پایله کې د را منځ ته شویو ملکي تلفاتو په بیلګو کې لاندې پېښې شامل دي:

- د جنوري په ۲۹ ، دولت ضد عناصرو د لغمان ولایت په مهترلام ولسوالي کې د افغان سیمه ییزو پولیسو د یوه قومندان د شخصي نقلیه وسیلې په وړاندې له لېرې واټن څخه د کنترول شویو ځای شویو چاودېدونکو توکو وسیله وچوله. په چاودنه کې د یوه هلک په شمول درې ملکي وګړي ووژل شول او یو ملکي شخص ټپي شو.
- د جولای په ۱۵ ، دولت ضد عناصرو د فاریاب ولایت د میمنې په ښار کې په یوه موټر سایکل کې ځای پر ځای شوې له لېرې واټن څخه کنترول شوې ځای پر ځای شوې چاودېدونکې توکې وچول چې موخه یې د افغان پولیسو نقلیه وسیله وه. چاودنې د یوه هکلک او یوې نجلۍ په شمول ۲۳ ملکي وګړي ټپیان کړل.

## مقناطیسي ځای پر ځای شوې چاودېدونکې توکې

*"پرون سهار ، ما خپل موټر را واخیست او د سپړلیو د وړلو په موخه مې د روغتون په لور حرکت وکړ چې هلته یوه چاودنه وشوه او زه بې هوشه شوم. کله چې زه په هوش راغلم نو زه په روغتون کې وم. شپه وړاندې ما خپل موټر د خپل کور مخ ته ودراوه خو زه په دې نه پوهیږم چې چا به په شپه کې په موټر کې څه ځای پر ځای کړي وي. د چاودنې پر مهال زه یواځې وم. زه نه پوهیږم دا څنګه واقع شوه. ما د هیچا سره کومه ستونزه نه درلوده. زه لا هم د درد څخه رنځ وړم."*[93]

-- د یوه مقناطیسي ځاي پر ځاي شوې چاودېدونکې توکې د برید په پایله کې یو قرباني شخص ، د برید موخه په کندز ولایت کې د افغان سیمه ییزو پولیسو په نښه کول و ، د جولای ۲۹. چاودنې دوه ملکي وګړي ووژل او د دوو هلکانو په شمول یې ۹ تنه ټپیان کړل.


یوناما په ۲۰۱۵ کال کې د مقناطیسي ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو په پایله کې ۱۵۷ ملکي تلفات (۱۴ مړه او ۱۴۳ ژوبل) مستند کړي چې د ۲۰۱۴ کال[94] د ورته مودې په پرتله ۳۵ سلنه کموالی ښیي. په ډېری داسي پېښو کې چې د افغان امنیتي ځواکونو په نقلیه وسیلو کې د مقناطیسي چاودېدونکو توکو ایخودل کیږي د دولت ضد عناصرو ته په ډیر شمیر پیښو کې د ښکلیتیا ګوته نیوله کیږي ، او یوناما د دې ډول بریدونو په پایله کې د را منځ ته شویو ملکي تلفات په دوامدار ډول مستند کړي.

[93] د قرباني شخص سره د یوناما مرکه ، کندز ښار ، د جولای ۳۰ ، ۲۰۱۵ کال.
[94] په ۲۰۱۴ کال کې ، یوناما د مقناطیسي ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو په پایله کې ۲۴۱ ملکي مرګ ژوبله (۲۰ مړه او ۲۲۱ ټپي کیدنې) مستنده کړي.

د مقناطیسي ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو د بریدونو په پایله کې د را منځ ته شویو ملکې تلفاتو بیلګې په لاندې دول دي:

- د سپتمبر په ۲۰ ، دولت ضد عناصرو د کنړ ولایت د اسعد اباد په ښار کې د افغان ملي پولیسو د جلب جذب مرکز ته څیرمه د مقناطیسي چاودېدونکو توکو وسیله وچوله. په چاودنه کې د څلور و ماشومانو په ګدون ۳۴ ملکیان ټپیان شول.

د اکتوبر په ۱۵ ، دولت ضد عناصرو په یوه کرولا موټر کې مقناطیسي چاودېدونکې توکي ځای پر ځای او په کابل کې یې د یوه دوکان په مخ کې وچول. په چاودنه کې یو ملکي شخص ووژل شو او ۶ نور ټپیان شول.



## ځانمرګي او ډله ییز بریدونه[۹۵]

*"د ماښام اووه بجې وي ، زه په خپل دوکان کې وم چې دیوې چاودنې اواز مې واورید. یو شمیر زیاتو وګړو د امام باړه جومات سیمې ته منډې کړې. زه هم هلته لاړم. دا هغه سیمه ده چیرې چې ډیری د افغان ملي پولیسو نقلیه وسیلې تم کیږي ، لکه د افغان ملي پولیسو یوه پوسته. ما د افغان ملي پولیسو په تخریب شوې نقلیه وسیله کې ښځې ، نارینه او د افغان ملي پولیسو کارکوونکي ولیدل او د موټر شخه لوګي پورته کیدل. وینې په کوڅه کې بهیدلې. زه غمجن وم. د دغو بې ګناه خلکو د وژلو لپاره ولې موټر سایکل سپاره کس خپل ځان والوزاوه. د هغوي د بیا ستنولو لپاره زما په توان کې هیڅ هم نه و. د افغان ملي پولیسو یوې نقلیه وسیلې او دوو شخصې موټرونو ژوبل روغتون ته ولیږدول."* [۹۶]

-- د جولای ۵ مه نیټه ، د کندهار په ښار کې د افغان ملي پولیسو په وړاندې د یو ځانمرګي برید شاهد . چاودنې ۵ ملکي وګړي ووژل او ۲۲ نور یې ژوبل کړل.

په ۲۰۱۵ کال کې ځانمرګي او پیچلو بریدونو ملکی وګړو ته زیات تلفات اړولي ، د دغو بریدونو په نتیجه کې ۱۸۴۰ ملکی تلفات (۳۰۸مړه او ۱۵۳۲ ژوبل) را منځ ته شوي چې دا د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۱۶ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. طالبانو د ۷۴ [۹۷] مستند شویو ځانمرګي او پیچلو بریدونو له جملې څخه د ۴۱ هغو مسؤلیت منلی ، چې په نتیجه کې یې ۷۰۶ ملکي تلفات (۱۱۰مړه او ۵۹۶ ژوبل) را منځ ته شوي- دا د طالبانو له خوا د ادعا شویو ځانمرګي او پیچلو بریدونو[۹۸] په پایله کې د را منځ ته شویو ملکي تلفاتو ۱۴ سلنه کموالی په ډاګه کوي.

ځانمرګي او پیچلو بریدونو په خاص ډول په ښاري سیمو او په ځانګړي ډول په کابل ښار ، د هلمند ولایت په لښکرګاه ښار او د ننګرهار ولایت په جلال اباد ښار کې زیات زیان اړولی. د ۲۰۱۵ کال د اګست په ۷مه نیټه ، په کابل ښار کې دوو ځانمرګو بریدونو ۳۵۵ ملکي تلفات (۴۲مړه او ۳۱۳ ژوبل) واړول ، چې دا د ۲۰۰۹ کال راهیسې چې کله یوناما د ملکي وګړو په سیستماتیک ډول مستند کول پیل کړي ، په یوه ورځ کې د وژل شویو او ټپي شویو ملکي وګړو تر ټولو لوړ ثبت شوي ارقام دي. د دغو بریدونو څخه په یوه هغه کې ، د کابل ښار د شاه شهید په سیمه کې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو یو موټر بم وچاودید چې پایله- یله کې یې ۱۵ ملکي وګړي ووژل شول او نور ۲۸۳ ژوبل شول. طالبانو په خپله ویب پاڼه کې بیانیه خپره کړه او د شاه شهید په سیمه کې د برید په تړاو یې په ښکاره توګه د مسؤلیت د منلو څخه ډډه وکړه.

د ملکي وګړو په وړاندې ترسره شوي بریدونه ، او همدارنګه د ځای پر ځای شویو چاوېدونکو توکو د ځانمر ګو بریدونو د تاکتیکونو بې توپیره کارول ، د نړیوال بشر دوستانه قانون څخه چې په افغانستان کې د وسله والې شخړې ټول اړخونه د هغه په رعایت کولو مکلف دي ، جدي سرغړونې دي او ممکن په جنګې جرمونو کې وشمیرل شي. د دې سربیره ،

---

[۹۵] د (ډله ییز برید) په اړه د یوناما تعریف د هغه قصدي او همغږي شوي برید څخه دی چې په کې ځان مرګي وسیله ( د مثال په ډول په بدن پورې تړل شوي ځاي پرځای شوی چاودیدونکي توکي ، په موټر کې ځاي پر ځای شوي چاودیدونکي توکي) د یوه څخه زیات بریدګر او د یوې وسیلې څخه زیاتې وسیلې ( لکه په بدن پورې تړل شوي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي او هاوانونه ) شامل وي. دغه ټول درې واړه عناصر باید په یوه برید کې شامل وي چې هغه پیچلي برید وګڼل شي.

[۹۶] د یوه قرباني سره د یوناما مرکه ، کندهار ښار ، د جولای ۵ ، ۲۰۱۵ کال.

[۹۷] په ۷۴ بریدونو کې یواځې هغه بریدونه کومو چې ملکي کسانو ته مرګ ژوبله اړولې ، شامل دي.

[۹۸] په ۲۰۱۴ کال کې ، طالبانو د ۵۶ د ځانمرګي او پیچلو بریدونو مسولیت منلی ، په دې بریدونو کې ۸۱۷ ملکي کسانو ته مرګ ژوبله (۱۷۲ مړینې او ۶۴۵ ټپي کیدنې) اوښتي.

نړیوال بشر دوستانه قانون هغه بریدونه منع کوي کوم چې ممکن د ملکي وګړو د مړه ، ټپي کیدو او یا ملکي موخو ته د ضمني زیان د اوښتو لامل شي ، یا په هغه پورې د ټولو تړلو شیانو ترکیب ، کوم چې ښايي د وړاندوينې د ریښتینو او مستقیم پوځي پرمختګ په حواله وي.[۹۹]

د ځانمرګو او پیچلو بریدونو څخه د را منځ ته شویو ملکي تلفاتو بیلګې په لاندې ډول دي:

- د جولای په ۱۲مه نیټه ، یوه ځانمرګي بریدګر د خوست ولایت د متون ولسوالۍ د کاروان سرای په کلي کې د چېمن کمپ د باندې بازار ته نږدې د خوست د ساتندویه ځواک د پوستې په وړاندې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو خپل موټر بم وسیله وچوله. چاودنې د دریو ښځو او ۱۲ ماشومانو په ګډون ۲۸ تنه ملکي وګړي ووژل او ملکي جایدادونو ته د پام وړ زیان اړولو تر څنګ ، ۹تنه نور ملکي وګړي ژوبل کړل. په برید کې د خوست د ساتندویه ځواک ۶ کسان ووژل شول او نور ۱۲ تنه ژوبل شول.
- د ډسمبر په ۲۸ ، یو طالب ځانمرګي بریدګر د کابل ښار د هوايي میدان څلور لارې ته نږدې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو یو موټر بم وسیله وچوله چې په نتیجه کې یې یو ملکي کس ووژل شو او د دوو ښځو او ۱۹ ماشومانو په ګډون یې ۳۲ تنه نور ژوبل کړل. طالبانو په خپله ویب پاڼه د برید مسولیت منلی او په خبر کې یې ویلي چې په برید کې یې ډیر خارجي اشغالګر وژلي دي.[۱۰۰]

## د قتل جنګي جرم: د ملکي وګړو هدفي وژنې

*"د پیښې په ورځ ، ما کار پرینښود او په بایسیکل د ښار مرکز ته ولاړم. ما بایسیکل ودراوه او پیاده شوم تر څو د یوه زده کونکي سره خبرې وکړم چې چاودنه وشوه. فکر کوم دا له لېرې واټن څخه د کنترول شوېو ځای پر ځای شوېو چاودېدونکو توکو چاودنه وه چې چا زما د بایسیکل د سیټ لاندې ځای پر ځای کړې و. چاودنې زما ګیډه ،چپه پښه او زما مخ ټپي کړ. چاودنې زده کوونکی هم ټپي کړ. زه فکر کوم چې د دې پېښې مسول طالبان و ځکه چې د طالبانو یوه تن خواخوږي زده کونکي څه موده وړاندې زه په دې خاطر چې د انجو سره کار کوم ، ګواښلی وم. زه یې و نه ویرولم او ما خپل کار ته دوام ورکړ."*[۱۰۱]

-- د لوګر ولایت په پل علم ښار کې د ۲۰۱۵ کال د جون په ۶مه نیټه له لېرې واټن څخه د کنترول شوېو ځای پر ځای شوېو چاودېدونکو توکو د وسیلې د کارولو په پایله کې د یوې هدفي وژنې قرباني. چاودنې دوه تنه ملکي وګړي ژوبل کړل.

[۹۹] نړیوال بشر دوستانه عنعنوي قانون ،لومړی ټوک ، په بریدونو کې نتاسب ، جین —ماری هیکایرتس او لوییس ډوس والک-بیک ، د هلال احمر نړیواله کمیټه ، کیمبریج ،۲۰۰۵.

[۱۰۰] وکورئ ، ۱۰ بهرنیان ، د کابل په برید کې ۳ تنه اجیران ووژل شول ،د طالبانو بیانیه ، د ۲۰۱۵ کال د ډسمبر ۲۸ ، at http://shahamat-english.com/10-foreigners-3-hirelings-killed-in-kabul-martyr-attack/, last accessed 14 January 2016.

[۱۰۱] د قرباني شخص سره د یوناما مرکه ،کابل ښار ، د ډسمبر ۷، ۲۰۱۵ کال.

د ۱۴۲۲ ملکي تلفاتو (۸۵۰مړه او ۵۷۲ ژوبل ) په درلودلو سره ، په ۲۰۱۵ کال کې د هدفي وژنو په پایله کې د ملکي تلفاتو شمیر ۲۷ سلنه لوړ شوی ، چې دا د ټولو ملکي تلفاتو ۱۳ سلنه جوړوي. که څه هم چې په ۲۰۱۵ کال کې د ځمکنیو نښتو ، ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو او پیچلو او ځانمرګي بریدونو په نتیجه کې زیات ملکي تلفات(مرګ ژوبله) را منځ ته شول ، د ځمکنیو نښتو څخه وروسته- هدفي وژنو ملکي وګړو ته په دوهمه درجه زیاته مرګ ژوبله اړولې ، چې دا په ۲۰۱۵ کال کې د ټولو ثبت شویو ملکي مړینو ۲۴ سلنه ښیې.

یوناما د هدفي وژنو څخه ۹۴ سلنه- ۱۳۳۵ ملکي تلفات (۷۹۰مړ ه او ۵۴۵ ژوبل)دولت پلوه ځاکونو ته منسوب کړ ي. په دې ارقامو کې د مرستندویه کارکونکو ، قومي مشرانو ، ملکي دولتي چارواکو ، ملایانو او ملکي عدلي چارواکو عمدي وژنې شاملې دي. د ۷۲۵ مستند شویو هدفي وژنو د پیښو له جملې څخه کومې چې دولت ضد عناصرو ته منسوب شوې ، طالبانو د ۱۳۹ بیلابیلو پیښو لپاره په کومو کې چې ۳۳۶ ملکي وګړو ته تلفات (۱۶۸مړ ه او ۱۶۸ ژوبل) اوښتي ، مسولیت منلی- دا په ۲۰۱۴ کال[۱۰۲] کې د طالبانو له خوا د ادعا شویو هدفي وژنو په برخه کې ۵۹ زیاتوالی ښیي.


د هغه هدفي وژنو په پایله کې د را منځ ته شوې ملکي مرګ ژوبلې بیلګې چې طالبانو یې مسولیت منلی:

- د اپریل په ۲۴مه نیټه ، طالبانو د پکتیا ولایت د احمد اباء په ولسوالۍ کې د سرحدونو او قومونو د چارو د ولایتي رییس په نقیله وسیله کې چې کله نوموړی د کار څخه کور ته ستنیده د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو مقناطیسي اله وچووله. چاودنې یو ملکي شخص وواژه او رییس یې ټپي کړ. طالبانو د برید مسولیت ومانه.[۱۰۳]
- د جون په ۲۸مه نیټه ، د فاریاب ولایت په بیل چراغ ولسوالۍ کې ، طالبانو یو قومي مشر د دې لپاره چې ځایي خلک یې د دولت ضد عناصرو په وړاندې ودرولو ته هڅول په ډزو وواژه. طالبانو د برید مسولیت ومانه.[۱۰۴]

[۱۰۲] په ۲۰۱۴ کال کې ، طالبانو د ۱۰۳ هدفي وژنو د پیښو مسولیت منلی ، په دې کې ۲۱۱ ملکي کسانو ته مرګ ژوبله (۱۳۸ مړینې او ۷۳ ټپې کیدنې) اوښتي.

[۱۰۳] د طالبانو بیانیه وګورئ: .http://www.shahamat-english.com/index.php/news/54258-enemy-losses-in-paktia-amid-operation-azm-on-day-one :
.Note that UNAMA counts targeted killings using IEDs (regardless of trigger-type) under targeted killings and not under IEDs

[۱۰۴] د طالبانو بیانیه وګورئ:http://www.shahamat-farsi.com/?p=3675015/6/29




### د ملکي دولتي چارواکو په وړاندې بریدونه

یوناما په ۲۰۱۵ کال کې د قاضیانو ، څارنوالانو او قضایي ادارو په ګډون د ملکي دولتي چارواکو په وړاندې زیاتیدونکي بریدونه مستند کړي دي. طالبانو د قاضیانو ، څارنوالانو ، قضایي ادارو او ملکي دولتي چارواکو په وړاندې د ډیرو بریدونو چې د سلګونو ملکي وګړو د مرګ ژوبلې لامل شوي دي ، پړه په غاړه اخیستې ده.

د دغو څرګندو ملکي وګړو هدف نیول د طالبانو له خوا د اعلان شوې پالیسۍ یوه برخه ده. لکه څنګه چې یوناما په وسله واله شخړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په هکله د ۲۰۱۵ کال په خپل نیم کلن راپور کې هم یادونه کړې ، چې طالبانو د ۲۰۱۵ کال د اپریل په ۲۲مه نیټه د عزم تر نامه لاندې د خپلو پسرلني عملیاتو د پیل اعلان وکړ او څرګنده یې کړه چې د ۲۰۱۵ کال د جګړې د موسم[۱۰۵] پر مهال به د کوډاګې رژیم چارواکي او نور مضر کسان تر هدف لاندې ونیول شي. د کابل په ښار کې (لاندې برخه وګورئ) د عدلیې وزارت په وړاندې د مۍ د ۱۹مې نیټې د ځانمرګي برید لپاره د هغوی د مسولیت د ادعا په برخه کې ، طالبانو اعلان وکړ چې دوی به د قاضیانو ، څارنوالانو ، د عدلیې وزارت د کارکونکو او داسې نورو[۱۰۶] په وړاندې خپلو بریدونو ته دوام ورکړي. یوناما تاکید کوي چې د ملکي وګړو او ملکي موخو

[۱۰۵] د عزم تر نامه لاندې د پسرلني عملیاتو د پیل په حواله د اسلامي امارت د مشرتابه شورا بیانیه (تجزیه شوې)، په لاندې پته موجود دی: http://shahamat-english.com/index.php/paighamoona/54149-statementby-the-leading-council-of-the-islamic-emirate-regarding-the-inauguration-of-spring-operations-called-%E2%80%98azm%E2%80%99-resolve.

[۱۰۶] همدا ماخذ

په وړاندې مستقیم بریدونه چې په هغو کې قضایې چارواکي او ملکي دولتي کارکونکي او همدارنګه محکمې شاملې دي- د نړیوال بشر دوستانه قانون څخه جدي سرغړونې تشکیلوي او ممکن په جنګي جرمونو[۱۰۷] کې وشمیرل شی.

د دې برخې لپاره ، یوناما یادونه کوي چې هره انفرادي مرګ ژوبله چې د کوم خاص تاکتیک له لارې را منځ ته شوې ، په دې راپور کې د اړوند تاکتیک لاندې شامله شوې ، د بیلګې په توګه ،ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي او ځانمرګي بریدونه. د دې برخې هدف دا دی تر څو د عمدي بریدونو د نمونو په هکله پاملرنه را جلب کړي چې موخه یې د ملکي دولتي چارواکو (خو د بیلابیلو تاکتیکونو څخه ملکي تلفات احتوا کوي ) په نښه کول دي.

**د قاضیانو ، څارنوالانو او قضایې ادارو په وړاندې بریدونه**

د ۲۰۱۴ کال په پرتله ، د دولت ضد عناصرو له خوا د پیچلو او ځانمرګي بریدونو ، ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو ، تښتونو او په عمدي توګه د په نښه کولو په نتیجه کې د قاضیانو ، څارنوالانو او قضایې ادارو ملکي تلفات دوه چنده شوي دي. د دغو بریدونو په نتیجه کې ۱۸۸ ملکي تلفات (۴۶ مړه او ۱۴۲ ژوبل) را منځ ته شوي- د ۲۰۱۴ کال[۱۰۸] په پرتله ۱۰۹ سلنه زیاتوالی ښیي. یوناما ددې مرګ ژوبلې زیاتره برخه طالبانو ته منسوب کړې. هغوي د دغو بریدونو له جملې څخه د ۲۱ مسولیت منلی چې په پایله کې یې ۱۷۹ ملکي تلفات رامنځ ته شوي دي او دا د ۱۸۸ ملکي مرګ ژوبلې چې د دا ډول بریدونو په پایله کې رامنځ ته شوې ، ۹۵ سلنه جوړوي.

د ملکي مرګ ژوبلې زیاته برخه د ۲۰۱۵ کال د اپریل او می په میاشتو کې د قاضیانو ،څارنوالانو او قضایې ادارو د کارکونکو په وړاندې د هدفي وژنو ،پیچلي او ځانمرګي بریدونو په نتیجه کې را منځ ته شوې. د دغو دوو میاشتو په جریان کې د طالبانو په ادعا شویو بریدونو کې یواځې ۱۶۱ ملکي تلفات (۳۳مړه او ۱۲۸ ټپیان) را منځ ته شوي. له دې ډلې څخه: د مزار شریف په ښار کې د بلخ ولایت د استناف څارنوالۍ په وړاندې د می د ۴ مې نیټې ځانمرګی برید چې په نتیجه کې یې ۱۴ ملکي وګړي ووژل شول او نور ۴۷ تنه ملکیان[۱۰۹] ژوبل شول ، او په کابل کې درې ځانمرګي بریدونه: د مي په ۴مه نیټه ، د لوی څارنوالۍ دسپر لی /عملې په موټر ځانمرګی برید چې په نتیجه کې یې دوه ملکیان ووژل شول او نور ۱۵ تنه ټپیان[۱۱۰] شول ، د می په ۱۰مه نیټه ، د لوی څارنوالۍ د دفتر د سپرلۍ /عملې په موټر ځانمرګی برید چې

---

[۱۰۷] وګورئ د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د کنوانسیون د الحاقیه پروتوکول ۴۸ او ۵۲ مادېهمدارنګه د روم د ا ـ ساسنامې 8(i)(e) او 8(xii (e) مادې وګورئ. همدارنګه د ICRC د بشر پالنې د نړیوال عرفي قانون ۷ قاعده ، جلد ۱ ، مقررات ، اډیټور. جین ماري هینکاریتز او لوییس ډوسوالډ بیک ( ICRC Study} (CU P/ICRC Cambridge 2005} وګورئ.

[۱۰۸] په ۲۰۱۴ کال کې ، یوناما د قاضیانو ، څارنوالانو او قضایې ادارو د کارکونکو په وړاندې د هدفي وژنو ۴۰ پیښې مستندي کړي چې په نتیجه کې یې ۹۰ ملکي مرګ ژوبله (۳۷ مړینې او ۵۳ ټپي کیدنې)را منځ ته شوي. دا باید د ۲۰۱۳ کال سره هم پرتله شي په کوم چې یوناما د ملکي کسانو د دغې ډلې د په نښه کولو په پیښو کې ۲۳۳ ملکي مرګ ژوبله (۵۹ مړینې او ۱۷۴ ټپي کیدنې) مستنده کړي ، دا د ملکي موخو په وړاندې د بریدونو دوامداره طرح ښیې ، چې د بشر پالنې د نړیوال قانون لاندې په څرګند ډول منع دی.

[۱۰۹] د طالبانو بیانیه وګورئ: http://shahamat-english.com/index.php/news/53897-martyr-attack-hits-balkh-several-court-staff-killed :

[۱۱۰] د طالبانو بیانیه چې په لاندې پته خپور شوی وګورئ: ,http://shahamat-english.com/index.php/news/54461-martyr-attack-kills-20-in-kabul-city. چې بیا وروسته له ویب پاڼې لرې کړای شو ، خو د یوناما سره په دوسیه کې موجود دی.

په نتیجه کې یې پنځه ملکیان ووژل شول او نور ۱۹ تنه ټپیان[۱۱۱] شول او د می په ۱۹مه نیټه ، د عدلیې وزارت په وړاندې په یوه ځانمرګي برید کې پنځه وګړي ووژل شول او نور ۴۷ تنه ژوبل[۱۱۲] شول.

د قاضیانو ، څارنوالانو او قضایې ادارو په وړاندې د بریدونو نورې بیلګې په لاندې ډول دي:

- د جنوري په ۱۰مه نیټه ، طالبانو د ننګرهار ولایت په بهسودو ولسوالۍ کې د ننګرهار د استناف د محکمې د اداري فساد د څانګې مشر هغه وخت په ډزو وواژه چې کله نوموړی خپل کار ته روان و. طالبانو په خپله ویب پاڼه د دې برید مسولیت منلی.[۱۱۳]
- د می په ۲۷مه نیټه ، طالبانو د تخار ولایت د ایشکمیش ولسوالۍ په مرکز کې یو څارنوال او د هغه ځوان زوی په ډزو ووژل. طالبانو په خپله پښتو ویب پاڼه د پیښې مسولیت منلی او په بیانیه کې یې ویلي چې هغوي یو څارنوال او د هغه ساتونکی وژلي.[۱۱٤]

### د نورو ملکي دولتي چارواکو په وړاندې بریدونه

یوناما د هغې ملکي مرګ ژوبلې په برخه کې د دولت ضد عناصرو د بریدونو په اړه کوم چې په ۲۰۱۵ کال کې د ملکي دولتي چارواکو او موقعیتونو په وړاندې(د قاضیانو ، څارنوالانو او قضایي ادارو له کارکوونکو پرته) په عمدي توګه ترسره کیږي ، د پام وړ زیاتوالی مستند کړی دی. یوناما د پیچلو او ځانمرګي بریدونو ، هدفي او عمدي وژنو ، ځمکنیو نښتو او ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په پایله کې چې موخه یې د ملکي دولتي ادارو او چارواکو په نښه کول دي ۹۶۲ ملکي تلفات (۱۵۶ مړه او ۸۰۶ ژوبل) مستند کړي- په دې سره د ۲۰۱۴ کال[۱۱۵] راهیسې د داسې تلفاتو ارقام دوه برابره شوي دي. طالبانو د ۴۸ داسې بریدونو مسولیت منلی چې په نتیجه کې یې ۲۹۲ ملکي وګړو ته تلفات (۴۹ مړه او ۲۳۴ ژوبل) اوښتي.

د ملکي دولتي چارواکو په وړاندې د بریدونو بیلګې په لاندې ډول دي:

- د جنوري په ۲۶مه نیټه ، طالبانو د فراه ولایت په کلا کا ولسوالۍ کې د ولسوالۍ د کرنې مدیر چې کله د خپل کار د دفتر څخه د کور په لور په حرکت کې و ، په ډزو وواژه. طالبانو په خپله ویب پاڼه د پیښې مسولیت منلی.[۱۱٦]

[۱۱۱] د طالبانو بیانیه چې په لاندې پته خپور شوی وګورئ: http://justpaste.it/l1tg, subsequently removed from website but on file with UNAMA.
[۱۱۲] د طالبانو بیانیه وګورئ: http://justpaste.it/l7w6, last accessed 25 January 2016.
[۱۱۳] د طالبانو بیانیه وګورئ: http://shahamat-farsi.com/index.php/news/55751 subsequently removed from website but on file with UNAMA.
[۱۱٤] د طالبانو بیانیه وګورئ: http://alemara1.org/?p=14160, last accessed 25 January 2016.
[۱۱۵] په ۲۰۱۴ کال کې ، یوناما د داسې بریدونو په نتیجه کې ۴۷۸ ملکي مرګ ژوبله (۲۴ مړینې او ۳۵۴ ټپې کیدنې) مستنده کړې دي.
[۱۱٦] د طالبانو بیانیه وګورئ: http://shahamat-english.com/index.php/news/52623-government-worker-killed-in-pusht-koh subsequently removed from website but on file with UNAMA.

- د مې په ۲۳مه نېټه ، طالبانو د اروزګان ولایت د شهید حساس ولسوالۍ ته څېرمه له لېرې واټن څخه د کنټرولېدونکي ځای پر ځای شوې چاودېدونکې توکي وچول چې په نتیجه کې یې ولسوال او د هغه ساتونکی ووژل شول. طالبانو په خپله ویب پاڼه د پېښې مسولیت منلی.[۱۱۷]

**د دیني کارکونکو او عبادت ځایونو په وړاندې بریدونه**

په ۲۰۱۵ کال کې ، دولت ضد عناصرو د دیني مشرانو ګواښلو او وژلو ته دوام ورکړی او دیني زیارتونه او ودانۍ یې ویجاړې کړي. په ۲۰۱۵ کال کې په هغه بریدونو کې چې ملایان او عبادت ځایونه په عمدي توګه تر هدف لاندې نیول شوي ، په لږه اندازه کموالی راغلی دی. یوناما له خوا د ۵۶ ملکي تلفات (۴۲ مړه او ۱۴ ژوبل) مستند شوي چې دا شمیر د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۸ سلنه کموالی په ډاګه کوي[۱۱۸]. یوناما یادونه کوي په داسې حال کې چې د دیني کارکوونکو په عمدي توګه په نښه کولو د بریدونو په پایله کې د را منځ ته شویو ملکي تلفاتو ټولیز ارقام را کښته شوي ، خو د مړینو ارقام له دوه برابره څخه هم زیات شوي دي ، دا ارقام په ۲۰۱۴ کال کې ۱۹ مړه او په ۲۰۱۵ کال کې ۴۲ مړه وو.

نړیوال بشر دوستانه قانون د عبادت ځایونو په شمول ، د ملکیانو او ملکي جایدادونو عمدي په نښه کول منع کوي. په دې کې هغه بریدونه چې موخه یې د خلکو او عبادت ځایونه چې د خلکو[۱۱۹] کلتوری او معنوي میراث تشکیلوي په نښه کول شامل دي. سربیره پردې ،نړیوال بشر دوستانه قانون د دې لپاره چې دیني کارکوونکي وکولای شي خپل کارونه[۱۲۰] ترسره کړي د ښکیلو خواوو څخه د خاصو تعهداتو د رعایت کولو غوښتنه کوي. یوناما یادونه کوي چې د ژنیو د کنوانسیونونو د دوهم الحاقي پروتوکول لاندې د افغانستان دولت هم د نړیوال بشر دوستانه قانون لاندې د دیني کارکونکو او د بریدونو[۱۲۱] په وړاندې د عبادت ځایونو د ساتلو په هدف خاصې ژمنې لري.

---

[۱۱۷] د طالبانو بیانیه وګورئ: http://shahamat-english.com/index.php/news/54811-char-chino-district-governor-killed subsequently removed from .website but on file with UNAMA

[۱۱۸] یوناما په ۲۰۱۴ کال کې په عبادت ځایونو او مذهبي خلکو باندې دبریدونو په نتیجه کې د ۶۱ ملکي وګړو تلفات ثبت کړي وو.( ۱۹ مړه او ۴۲ ژوبل )

[۱۱۹] د طبي او مذهبی پرسونل باید درناوی او ساتنه او ورسره ټوله لازمه مرسته وشي خو خپل فرایض تر سره کړي . " د ۱۹۴۹ کال د اګست د ۱۲ نیټې د ژنیو د کنوانسیونونو د طبي او دیني پرسونل د ساتنې په اړه الحاقیه پروتوکول ۹ ماده ، او د ۱۹۷۷ د جون د ۸ نیټې په غیر نړیوالو جګړو کې د قربانیانو د ساتنې ( دوهم پروتوکول). د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق ۱۸ ماده وایي: ۱هر" کس باید د فکر ، وجدان او مذهب د ا - زادۍ حق ولري. " د ۴ ، ۲ مادې له مخې ، " د ۶، ۷، ۸ مادو( ۱ او ۲ پراګرافونو)، ۱۱ ، ۱۶، ۱۵ او ۱۸ څخه باید د دې احکامو له مخې عدول و نه شي" همدارنګه وګورئ د ا - ي سي ا - ر سي د عرفي نړیوال قانون لومړي جلد ، مقررات ، اډیټور. جین ماري هینکایرتس او لوییس ډوسوالډ بیک { ICRC Study}(, Cambridge 2005 CU P/ICRC ( وګورئ د دوهم الحاقیه پروتوکول ۱۶ ماده.

[۱۲۰] همدا ماخذ

[۱۲۱] د دې مکلفیت چې د دیني پرسونل درناوی او ساتنه وشي په دوهم الحاقیه پروتوکول ۹ ماده کې راغلي دي. دا همدارنګه په جنګي جرمونو کې راځي کله چې په قصدي توګه دغه بریدونه پر هغو ودانیو وشي چې د دیني فرایضو لپاره وي( په دې شرط چې هغه نظامي موخې نه وي)د روم د ا - ساسنامې8(iV) (e) ماده وګورئ . د مذهبي پرسونل درناوی او ساتنه همدارنګه د بشر پالنې د نړیوال عرفي قانون یو نورم شمیرل کیږي.سي ا - رسي ، د بشر پالنې نړیوال عرفي قانون ، لومړی جلد ، مقررات ، اډیټور: جین ماري هینکایرتس او لوییس ډوسوالډ بیک ( Rule27 – Religious Personnel. {ICRC Study} (2005 Cambridge <CU P/ICRC

یوناما د هغو ملایانو د هدفي وژنو د رواني لړۍ په اړه اندیښنه په ډاګه کوي چا چې د دولت په پلوۍ نظریې وړاندې کړي یا یې د دولت ضد عناصرو له خوا را منځ ته شوي ملکي تلفات غندلي دي. د نړیوال قانون لاندې د افغانستان حکومت او دولت ضد عناصر[۱۲۲] دواړه د بیان ، فکر ، وجدان او مذهبي[۱۲۳] ازادیو د خوندي کولو مکلفیتونه لري.

د علماوو او عبادت ځایونو په وړاندې د بریدونو بیلګې په لاندې ډول دي:

- د جنوري په ۱۲مه نیټه ، طالبانو د هلمند ولایت په لشکرګاه ښار کې د علماو د شورا یو تن غړی هغه مهال چې نوموړی له جومات څخه کور ته روان و په ډزو وواژه. طالبانو په خپله ویب پاڼه د دې پیښې مسولیت منلی.[۱۲٤]
- د اپریل په ۱۸مه نیټه ، داعش یا د اسلامي دولت ډلې د ننګرهار ولایت په جلال اباد ښار کې د یوه ځایي زیارت په دننه کې ځای پر ځای شوې چاودیدونکې توکي وچول. د چاودنې په نتیجه کې د دوو هلکانو په ګډون درې ملکي وګړي ژوبل شول. د داعش ویاند د تیلیفون له لارې ځایي رسنیو ته د دې برید مسولیت ومانه.

## د ښځړې سره د ملکي وګړو تړلې تښتونې

*"د شنبې سهار وختي مهال و ، زه د ولسوالۍ مرکز ته د څلورو همکارانو سره د ارزونې په موخه تللی وم. کله چې موږ هلته ورسیدلو ، طالبانو زموږ موټر ودراوه او د بلې ولسوالۍ یوه نامعلومه ځای ته انتقال کړو. طالبانو زموږ سره بد چلند و نه کړ خو د ۱۲ ورځو اسارت په جریان کې یې زموږ ځای څلور ځله تبدیل کړ. هغوي موږ د قومي مشرانو په واسطه د منځګړیتوب وروسته را خوشې کړو- زموږ کورنیو زیات غرامت تادیه کړ او موږ همدارنګه ژمنه وکړه چې د دولت سره به نور کار نه کوو. دوه ورځې وړاندې ، تښتونکوله ما څخه درمل وغوښتل. زه ډیر ډاریږم او نه پوهیږم چې څه وکړم."*[۱۲۵]

-- د تښتونې د یوې پیښې قرباني چې د ۲۰۱۵ کال په جنوري کې واقع شوې (د ولایت او ولسوالي د نوم اخیستلو څخه ډډه کیږي). طالبانو د یوې انجو ۵ تنه تښتولي او د ۱۲ ورځو اسارت نه وروسته یې خوشې کړي.

یوناما د تښتونو ۴۱۰ پیښې چې په نتیجه کې یې ۱۷۲ ملکي وګړو ته تلفات (۱۴۵ مړه او ۲۷ ژوبل) اوښتي او تړلې یې د دولت ضد عناصرو له خوا ترسره شوي دي ، مستندې کړي ، چې دا د داسې پیښو په شمیر کې ۳۹ سلنه زیاتوالی ښیي او دا د ۲۰۱۴ کال[۱۲٦] په پرتله د ورته پیښو اړونده تلفاتو په برخه کې ۱۱۲ سلنه زیاتوالی ښیي. د ملکي وګړو د تښتونو د ۴۱۰ پیښو له جملې څخه چې یوناما مستندې کړي ، دولت ضد عناصرو ۴۰۰ ترسره کړې چې په نتیجه کې

---

[۱۲۲] د دولت ضد عناصر د بشري حقونو لپاره مکلفیتونه لري تر هغه بریده چې دوي په عمل کې د دې واکونه لري او یا هم د یوې ساحې عملي کنترول لري ، لکه د افغانستان په ځینو مشخصو سیمو کې.

[۱۲۳] همدا ماخذ ، ۹۹ لمن لیک

[۱۲٤] د طالبانو بیانیه وګورئو: http://shahamat-english.com/index.php/news/52213-police-officer-kills-nawzad-governor,-police-chief-and-intelligence-director subsequently removed from website but on file with UNAMA.

[۱۲۵] د یوه قرباني سره د یوناما مرکه ، (د موقعیت د نوم اخیستلو څخه ډډه شوې)، د فبروری ۸ ، ۲۰۱۵ کال.

[۱۲٦] په ۲۰۱۴ کال کې ، یوناما د تښتونو ۲۹۴ پیښې چې په پایله کې یې ۸۱ ملکي مرګ ژوبله (۶۵ مړینې ۱۶ ټپي کیدنې) را منځ ته شوې ، مستنده کړې.

یې د ۱۷۲ ملکي تلفاتو له جملې څخه ۱۶۹ هغو ته تلفات اړولي. یوناما ۸ پیښې په کومو کې چې یو ملکي شخص وژل شوی دولت پلوه ځواکونو[۱۲۷] ته منسوب کړي.

یوناما د یرغملو د تبادلې په شمول ، د شخړې د نورو ښکیلو ډلو څخه د امتیازونو د ترلاسه کولو یا د ملکي وګړو د تهدیدولو او مالي ګټو د لاسته راوړلو په خاطر د دولت ضد عناصرو لخوا د ملکي وګړو د تښتونو پیښې مستندې کړي دي. د پورتنیو بیلګو په څیر ، یو شمیر هغه قربانیان چې د دولت ضد عناصرو له اسارت څخه خوشي شوي راپور ورکړی چې د هغوي پخوانیو نیونکو د پیسو او نورو شیانو د ترلاسه کولو په موخه په مکرر ډول د هغوي سره د تماسونو د نیولو هڅه کړې او هغوي ته یې ډاډ ورکړی چې د هغوي ازموینه د اسارات څخه په خوشي کیدو سره پای ته نه ده رسیدلې.

سربیره پر دې ، یوناما داسې زیاتې پیښې مستندې کړي چې یرغمل شوي کسان د تښتوونکو له خوا په دې خاطر وژل شوي دي چې ددوی غوښتنې یې نه دي منلې ، په نورو یرغمل شویو کسانو باندې خپل واک ټینګ کړي او یا په دې خاطر چې موخه یې د هغوی وژل وو.

له هغه راهیسې چې یوناما په ۲۰۰۹ کال کې په سیستماتیک ډول د دغه ډول پیښو په ثبتولو پیل وکړ ، دې اداري د تښتونو او همدارنګه د ملکي وګړو د تلفاتو په شمیر کې چې د دې ډول پیښو په پایله کې را منځ ته کیږي لوړ تلفات ثبت کړیدي. دغو په ۲۰۱۵ کال کې د ټولو ملکي تلفاتو دوه سلنه را منځ ته کړې.

د شخړې سره د تړلې اختطاف او تښتونو بیلګې په لاندې دول دي:

- د ډسمبر په ۱۰مه نیټه ، دولت ضد عناصرو د غور ولایت په دولت یار ولسوالۍ کې یو ملکي کس هغه مهال وتښتاوه چې کله نوموړي د خپلې کوژدنې د کورنۍ څخه لیدنه کوله. قرباني شخص د افغان امنیتي ځواکونو د هغه غړي خپلوان و چې دوه ورځې وړاندې یې د عملیاتو پر ترځ کې د طالبانو د یوه قومندان په وژلو کې ښکیل و. د ډسمبر په ۱۳مه نیټه ، دولت ضد عناصرو تښتول شوی شخص وواژه او د ډسمبر په ۱۵ یې د هغه ټوټه شوی جسد قومي مشرانو ته وسپاره.
- د نومبر په ۵ مه نیټه ، دولت ضد عناصرو د فاریاب ولایت په میمنه ښار کې یو ملکي شخص وتښتاوه او د نوموړي د خلاصون لپاره یې د هغه د کورنۍ څخه د یوه میل کلاشنیکوف غوښتنه وکړه. د هغه د کورنۍ غړي په دې و نه توانیدل تر څو وسله واخلي او د هغه خلاصو ن یقیني کړي. د نومبر په ۷مه نیټه ، دولت ضد عناصرو تښتول شوی شخص په ډزو وواژه. کلیوالو وروسته د هغه جسد وموند او ځایي روغتون ته یې انتقال کړ.

### د هزاره قوم د ملکي وګړو تښتول او وژل

په ۲۰۱۵ کال کې ، یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د هزاره قوم د تښتونو او وژنو په برخه کې د پام وړ زیاتوالی مشاهده کړیدی. د جنوري د ۱ او د ډسمبر د ۳۱ نیټو تر منځ ، دولت ضد عناضرو په ۲۰ جلا پیښو کې کم تر کمه ۱۴۶

[۱۲۷] د پاته دوو پیښو له جملې څخه ، یوناما نه شي کولای یواځې یوې ډلې ته تښتوني منسوب کړي.

هزارګان تښتولي. ټولې ، خو یوه پیښه د غزني. بلخ ، سر پل ، فاریاب ، اروزګان ،بغلان ، وردګ ، جوزجان او غور د ولایتونو په هزاره او غیر هزاره ټولنو کې واقع شوې دي.

په داسې حال کې چې دولت ضد عناصرو ۱۳ وګړي وژلي او دوه تنه نور یې بیا په اسارت کې مړه شوي دي ، یوناما د ۱۴۶ تښتول شویو هزاره ګانو له جملې څخه د ۱۱۸ وګړو د خلاصون تصدیق کوي. یوناما د پاتې یرغمل شویو وګړو د ځای ځایګي په معلومولو نه ده توانیدلې. د تښتونو لپاره انګیزې په لاندې دول دي: د غرامت لپاره د یرغمل شویو وګړو ساتل ،د توقیف شویو وګړو تبادله ، په یرغمل شویو وګړو د افغان ملي امنیتي ځواکونو د غړو شک کول او د ناقانونه مالیاتو نه ورکول. په ځینو مواردو کې انګیزه روښانه نه وه.

د دولت ضد عناصر و له خوا د هزاره قوم د ملکي وګړو د تښتونو او وژلو بیلګې په لاندې ډول دي:

- د فبروري په ۲۳مه نیټه ، په یوه پیښه کې چې زیاته عامه پاملرنه یې راوپاروله ، دولت ضد عناصرو د زابل ولایت په شاه جوی ولسوالۍ کې ۳۰ هزارګان په داسې حالت کې له دوه ملي بسونو څخه وتښتول چې له هرات څخه کابل ته په لاره وو. د هغوی له ډلې دوه تنه قربانیان د طبعي لاملونو له امله د راپور سره سم مړه شول ، درې تنه قربانیان د اسارت پر مهال ووژل شول. د ۲۰۱۵ کال د می او اګسټ د میاشتو تر منځ ، پاته یرغمل شوي وګړي د راپور سره سم د دولت سره د یوې ډلې توقیف شویو کسانو په بدل کې خوشي شول.
- د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر په ۱۳مه نیټه ، دولت ضد عناصرو د دوو ښځو ، دوو هلکانو او یوې نجلۍ په ګډون ۷ تنه ملکي وګړي هغه مهال چې دوي د کابل کندهار د لوي لارې په اوږدو کې د غزني ولایت جاغوري ولسوالۍ ته په لاره وو ، وتښتول. قومي مشرانو د قربانیانو د خلاصون په موخه د منځګړیتوب هڅې ترسره کړې خو کومه ګټه یې و نه کړه. ملکي وګړي تر هغې د زابل ولایت په ارغنداب ولسوالۍ کې په اسارت کې وساتل شول کله چې د دولت ضد عناصرو د سیالو ډلو تر منځ او د هغې ډلې په شمول چې ملکي وګړي یې نیولي وو ، جګړه ونښته. د نومبر د ۶ او ۸ نیټو تر منځ ، مخکې له دې چې د سیمې څخه وتښتي ، دولت ضد عناصرو د ماشومانو په شمول د ټولو ۷ واړو ملکي وګړو مرۍ ور پرې کړې. دغه کار په کابل کې ستر لاریونونه را منځ ته کړل او د هزاره ټولنې لپاره یې د احتساب او لا زیاتې ساتنې غوښتنه وکړه.

## د موازي عدلي جوړښت مجازات

*"کلي ته پر لاره وم چې چیغې مې تر غوږ شوې. و مې کتل چې طالبان درې کسان چې لاسونه یې تر شا تړل شوي د کلي خواته تېل وهي. ځایي خلک ماته راغلل او راته یې وویل ، "ته مشر یې ، طالبانو ته لاړ شه او له هغوی د افغان ملي پولیسو او انجنیر د خوشي کیدو غوښتنه وکړه."ما همداسې وکړل ، خو هغوي زه وګواښلم او راته یې کړه چې لاړ شم. پر کوم لور چې طالبانو توقیفیان روان کړي وو ، ما هم تعقیب کړل ، یوه یې وښکنځلم او وګواښلم. انجنیر اوبه وغوښتلې خو طالبانو ور نه کړې. طالبانو بیا وروسته ملي پولیس له انجنیره جدا او په جلا جلا لورو روان کړل. طالبانو را ته وویل "که چیرې ته موږ تعقیب کړې ، نو ته به هم په ورته برخلیک اخته شې."ما هغه ډله تعقیب کړه ، چې انجنیر یې له ځان سره روان کړی و. انجنیر یو ځل بیا اوبه وغوښتې ، خو څه ګټه یې و نه کړه. دوو طالبانو د انجنیر تړل شوي*

*لاسونه لا پسې کلک کړل. زه ډېر ویریدلی وم ، خو د دوي کتو ته مې ادامه ورکړه. د طالبانو قوماندان د انجنیر د سر غوڅولو امر ورکړ. له کوم تردد پرته ، دوو طالبانو زما په مخ کې له انجنیره سر پرې کړ. قوماندان نورو طالبانو ته لارښوونه وکړه ، څو دا ثبت کړي چې دغه سزا یې انجنیر ته له حکومت سره د ملاتړ له امله ورکړه. دغه لیکل شوی لیک طالبانو د انجنیر په جسد پورې ونښلاوه. زه له ویرې او ډار سره بیرته کلي ته راستون شوم او خلکو ته مې ټول حال ووایه. اوس هم هغه شیبې نه شم هیرولای."* [۱۲۸]

-- د ۲۰۱۵ په مۍ کې په یوې موازي عدلي پروسه کې د طالبانو له خوا له انجنیر څخه د سر پرې کولو د پېښې شاهد (ولسوالي او ولایت پټ ساتل شوي)

د ۲۰۱۵ کال په اوږدو کې ، یوناما د طالبانو په ګډون ، د دولت ضد عناصرو له خوا ۴۴ داسې پېښې مستندې کړې ، چېرې چې ملکي وګړي د شرعي قانون د نقض ، انګیرل شوېو جرمونو ، او جاسوسي په تور مجازات شوي. یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا خپل سري اعدامونه (سنګسار ، سر پریکونه ، مرمیو ویشتل ، ځړول او پر تورن شخص د دیوال راغورځول) په دورو وهل او نا قانونه توقیفول مستند کړي دي.[۱۲۹] که څه هم د موازي عدلي جوړښت مجازاتو په ۲۰۱۵ کال کې د عامو خلکو پام راړولی و ، خو یوناما د دغو میکانیزمونو له لارې د ملکي وګړو په مرګ ژوبله کې ۲۲ سلنه کموالی مستند کړی. د دولت ضد عناصرو له خوا د مرګ سزاوې [۱۳۰] او په دورو وهل د ۷۶ مرګ ژوبلې لامل شوي ، چې ۶۰ مړه او ۱۶ یې ژوبل دي.[۱۳۱]

یوناما په دې ټینګار کوي چې موازي قضایي جوړښتونه غیر قانوني دي او د افغانستان د قوانینو له مخې هیڅ ډول مشروعیت نه لري. هغه سزاګانې چې د دغو جوړښتونو له لارې تر سره کیږي له بشري حقونو څخه په سرغړونو کې شمیرل کیږي او د افغانستان د قوانینو له مخې جرمي عملونه او په ځینو حالاتو کې د نړیوال قانون پر اساس جنګي جرمونه دي.[۱۳۲]

په ۲۰۱۵ کال کې په زیاتره مستندو شویو پېښو کې ، دولت ضد عناصرو د هغوي له خوا په تعریف شویو جرمونو تورن ملکي وګړي اعدام کړي- لکه د "اخلاقي جرمونو" ، دولت ته د جاسوسي په شک او دولت سره د کار کولو په تور.

[۱۲۸] د ۲۰۱۵ د ډسمبر پر ۵ نېټه له یوه شاهد سره د یوناما تیلفوني مرکه (ځای پټ ساتل شوی).

[۱۲۹] د یوناما له خوا ثبت شوې د موازي عدلي سیستم د مجازاتو له لارې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې ټولې پیښې د دولت ضد عناصرو له خوا تر سره شوې دي. یوناما له دغو لارو چارو د مړینو او ژوبلو په پېښو کې زیاتوالی ثبتې کړي ، چیرې چې جزا په مستقیم ډول له شخړو سره تړوا درلود (لکه د افغان ملي اردو د یوه سرتیري د پلار اعدامول) یا له شخړې سره د تړاو پرته د یوه تخلف لپاره د دولت ضد عناصرو له خوا د یوه ملکي وګړي په وړاندې ترسره شوي ، لکه په عامه محضر کې د بدلمنۍ په تور دورې وهل. د ژنیو د کنوانسیونونو دریېمه مشترکه ماده په واضح ډول د قتل ، تاوتریخوالي ، د مجازاتو تصویبول ، او د منصفانه محاکمې د معیارونو له درناوي پرته د اعدامونو ترسره کول منع کوي. په افغانستان کې د دریېمې مشترکې مادې د تطبیق لپاره د نور تفصیل په موخه د دې راپور د قانوني چوکاټ برخه وګورئ.

[۱۳۰] یوناما د موازي قضایي تشکیلاتو له لارې اعدامونه په عمدي ، د یوه کس له پخوا څخه پلان شوې او ارادي وژنه بولي چې هغه د مجرم په فزیکي حراست کې وي (څرنګه چې دا له هدفي وژنې سره توپیر لري چیرې چې قرباني د مجرم په فزیکي حراست کې نه وي) کله چې وژنه د مجازاتو لپاره تحمیل شوې ده ، دبیلګې په توګه د هغه مذهبي مشر وژنه چاچې د افغان امنیتي ځواکونو د یوه غړي د جنازې مراسم د اخطارونو باوجود تر سره کړي. یوناما دغه ډول پیښې په " قتل" کې شمیري ، څرنګه چې د بشر پالنې د نړیوال قانون له خوا تعریف شوي ، کوم چې په افغانستان کې په غیر نړیواله شخړه کې د پلي کول وړ دی.

[۱۳۱] یوناما په ۲۰۱۴ کال کې د موازي عدلي سیستم د مجازاتو له امله د ملکي وګړو ۹۸ مرګ ژوبله (۸۳ مړینې او ۱۵ ژوبلې) مستنده کړې.

[۱۳۲] د " جنګې جرمونو "د تعریف لپاره د دې راپور د حقوقي چوکاټ برخې ته مراجعه وکړئ.

اصولا د دغو میکانیزمونو د نا مشروعیت له مخې یوناما دغه جوړښتونه او د هغوی په پایله کې را ولاړې شوې سزاګانې له بشري حقونو څخه سرغړونې بولي.[۱۳۳]

لاندې د موازي عدلي جوړښت د مجازاتو یو څو بیلګې دي:

- د اګست پر ۱۴ مه نېټه ، د غور ولایت په تیوره ولسوالۍ کې ، یوې موازي عدلي "محکمې" د لواطت په تور دوه سړي او یو ۱۷ کلن هلک د دیوال راوغورځولو په سزا محکوم کړل. د دیوال راغورځولو دوه سړي ووژل او هلک یې ژوبل کړ ، چې بیا وروسته ژوندی پرېښودل شو.

- د مارچ پر ۶ نېټه ، د ننګرهار په خوګیانو ولسوالۍ کې طالبانو ۴ سړي د غلا په تور توقیف کړل. د طالبانو "محکمې" هر سړی په ۲۸ دورو وهلو محکوم کړ. طالبانو دغه سزا د جمعې تر لمانځه وروسته په عام محضر کې عملي کړه. طالبانو پر خپلې ویب پاڼې د دغو جزاوو د عملي کیدو مسوولیت منلی.[۱۳٤]

## د طالبانو له خوا د هغو بریدونو مسوولیت منل ، چې ملکي وګړي زیانمنوي

دولت ضد عناصرو ته د ملکي وګړو له ۶۸۵۹ منسوب شوې مرګ ژوبلې ، طالبانو د ۳۵۲ پېښو مسوولیت منلی ، چې له امله یې ۱۴۹۰ ملکي تلفات (۴۳۷ مړه او ۱۰۵۳ ژوبل) رامنځ ته شوي. په دغو تلفاتو کې د بریدونو له امله د ملکي وګړو یوازې هغه مرګ ژوبله شامله ده ، چې طالبانو یې پر خپله ویب پاڼه یا ټویټر باندې په ښکاره مسوولیت منلی.[۱۳۵] دغه شمیر د ۲۰۱۴ کال د هغو پېښو په پرتله چې طالبانو یې مسوولیت منلی ، د ملکي وګړو په مرګ ژوبله کې ۱۱ سلنه کموالی په ډاګه کوي.[۱۳٦] د ملکي وګړو د هغو پېښو له امله رامنځ ته شوې مرګ ژوبله چې طالبانو یې مسوولیت اخیستی ، د ټولې ملکي مرګ ژوبلې ۱۴ سلنه جوړوي.

د ۳۵۲ پېښو له جملې چې طالبانو یې مسوولیت منلی ، په ۱۹۹ بریدونو کې افغان امنیتي ځواکونه ، نړیوال نظامي ځواکونه او دولت پلوه وسله والې ډلې په نښه شوي ، په داسې حال کې چې په ۱۵۳ پېښو کې طالبانو په قصدي ډول د قومي مشرانو ، د حکومت د ملکي غړو او د قضایي چارو د کارمندانو په ګډون ، ملکي وګړي یا ملکي موخې په نښه کړي. *د هدف د ډول پر بنسټ د ادعا شویو بریدونو د ویش لپاره لومړی ضمیمه وګورئ.*

له هغو جریانونو سره په سم ، چې د یوناما له خوا د ۲۰۱۵ په لومړیو دریو میاشتو کې مستند شوي ، د طالبانو له خوا په ادعا شویو بریدونو کې د ملکي مرګ ژوبلې نږدې نیمه یې (۴۷ سلنه) د هغو ډله ییزو او ځانمرګو بریدونو په پایله کې

---

[۱۳۳] د همدې دلیل له مخې د یوناما تحلیلونه دغه طرزالعملونه چې د هغو د تعقیبولو تورونه لګول شوي دي ،د منل شویو نړیوالو بشري حقونو له معیارونو سره په سمون کې نه بولي ، د بیلګې په توګه د عادلانه محاکمې معیارونه.

[۱۳٤] دغه ویب پاڼه وګورئ: http://www.shahamat-english.com/index.php/news/53349-4-robbers-captured-in-eastern-afghanistan وروسته بیا له ویب پاڼې لرې کړای شوه ، خو له یوناما سره په دوسیه کې موجود ده.

[۱۳۵] د یوناما له خوا طالبانو منسوب شوې ملکي مرګ ژوبله ، چې طالبانو یې مسوولیت نه دی منلی ، د دولت ضد عناصرو تر نامه لاندې شامله شوې.

[۱۳٦] د هغو پېښو له امله چې طالبانو یې په ښکاره مسوولیت منلی د ملکي وګړو په مرګ ژوبله کې کموالی په لازمي ډول په دې مانا نه ده ، چې د طالبانو له خوا د ملکي وګړو په رامنځ ته شوې مرګ ژوبله کې کموالی راغلی. احصایې د بریدونو هغه شمیر منعکسوي ، چې د ملکي مرګ ژوبلې لامل شوی او طالبانو یې مسوولیت منلی.

رامنځ ته شوې ، چې د ملکي وګړو په ګڼ میشتو سیمو کې ملکي یا نظامي موخې په نښه کوي. همدارنګه د طالبانو له خوا په مسوولیت منل شویو بریدونو کې د ملکي افرادو قصدي په نښه کول ، د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو بې توپیره بریدونه ، او پر افغان امنیتي ځواکونو بریدونه رانغاړي ، چې له امله یې ملکي وګړي هم مړه یا ژوبل کیږي.

**رسنیو او د بشري حقونو مدافعینو ته د طالبانو ګواښونه**

د اکتوبر پر ۱۲مه نیټه ، د ژورنالستانو د ګواښلو او تهدیدولو په یوې څرګنده هڅه کې ، د طالبانو نظامي کمیسیون یوه بیانیه خپره کړه ، چې د دوو افغان تلویزیونونو (طلوع او یک تلویزیونونه) راپور ورکونه غندي او دا په ډاګه کوي چې د رسنیو دغه دوه چینلونه "نظامي هدفونه" او کارمندان یې "دښمنان" شمیرل کیږي. دغه بیانیه وروسته له هغې خپره شوه چې دغو دوو تلویزیونونو داسې تورونه خپاره کړل چې طالبانو په کندز کې پر ښځو جنسي تیري ترسره کړي. د اکتوبر پر ۱۶مه نیټه ، طالبانو پر خپله ویب پاڼه یوه لیکنه خپره کړه چې پر هغو رسنیو او ژورنالستانو د مستقیمو بریدونو غوښتنه کوي "چې د لویدیځ له خوا تمویل او د هغوي لپاره کار کوي" . لیکنه زیاتوي چې "هغوي باید تر سختو نظامي هدفونو لاندې ونیول او له منځه یوړل شي." یوناما یادونه کوي چې د دغه ګواښ د ترسره کولو لپاره ښکاره هڅه د ۲۰۱۶ کال د جنوري پر ۲۰ مه شوې چې د دغه راپور په موده کې نه شاملیږي.[۱۳۷]

د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې ، ژورنالستان په جګړو کې ښکېل نه دي ، دوي ملکي وګړي دي او خپل دغه موقف له لاسه نه ورکوي.[۱۳۸] سربېره پر دې ، د بشري حقونو نړیوال قانون د ژورنالستانو د ژوند ، امنیت او د بیان د ازادۍ حقونه تضمینوي.[۱۳۹] د طالبانو له خوا د ژورنالستانو په وړاندې ترسره شوې کړنې او ګواښونه له بشري حقونو سرغړونه ګڼل کیږي.

د ژورنالستانو او د رسنیزو چینلونو په وړاندې ګواښونه یو داسې چاپیریال رامنځ ته کوي چې ژورنالستان د معلوماتو د ترلاسه کولو او خپرولو له حق څخه منع کوي. د رواني جګړې په اړه د خپلواکو معلوماتو په برابرولو کې د ژورنالستانو کار خورا مهم دی. د طالبانو په ګډون د دولتي او نادولتي فعالینو له خوا ژورنالستانو ته باید په لوړه کچه خوندیتوب تضمین شي او د ملکي وګړو په څیر هیڅکله تر برید لاندې رانه شي.

یوناما بیا ددې غوښتنه کوي چې د رسنیو د کارکوونکو په وړاندې ټول ګواښونه او بریدونه باید زر تر زره پای ته ورسول شي.

---

[۱۳۷] طلوع او یک تلویزیونونو ته د دغو ګواښونو په تعقیب ، طالبانو د ۲۰۱۶ کال د جنوري پر ۲۰ کابل ښار کې د موبي ګروپ (د طلوع تلویزیون اصلي کمپني) د عملې پر یوه بس د موټر بم یو ځانمرګی برید ترسره کړ ، چې له امله اته ملکي وګړي (د دریو ښځو په ګډون) ووژل او ۳۰ نور (د دریو ښځو او دریو هلکانو په ګډون) ژوبل شول. اوه وژل شوي د طلوع تلویزیون کارمندان وو ، چې پروډکشن له یوې فرعي کمپنۍ سره یې کار کاوه. طالبانو پر خپله ویب پاڼه د برید مسوولیت منلی ، او په ډاګه کړې یې ده چې طلوع تلویزیون له اسلام سره د "سختې دښتمنۍ" ، د "امریکا لپاره د یوې وسیلې او پروپاګند د میکانیزم" په څیر د کار کولو او "د کندز ښاریانو ته د بې احترامي او د اعدامونو ، تالان ، تښتونو او نور سرغړونو په اړه د ناسمو تورونو" له امله په نښه شو. د بیانیې بشپړ متن پر دغې ویب پاڼه د لاس رسي وړ دی: http://shahamat-english.com/many-killed-as-martyr-attack-hits-invaders-run-media-vehicle طالبانو دغه راز د دغه برید د توجیه لپاره پر خپله ویب پاڼه http://shahamat-english.com/remarks-by-spokesman-of-islamic-emirate-concerning-attack-on-tolo-intelligence-network/ او http://shahamat-english.com/taliban-compel-tolo-to-air-free-azan دوې نورې بیانیې او لږ تر لږه یوه بله دري لیکنه "طلوع ولې له غروب سره مخ شو" خپرې کړې: http://shahamat-farsi.com/?p=20603

[۱۳۸] د ژنیو د کنوانسیونونو د دویم الحاقیه پروتوکول ۱۳ ماده او د بشرپالنې عنعنوي نړیوال قانون په ښکاره ډول پر ملکي وګړو بریدونه او د تاوتریخوالي داسې کړنې منع کوي ، چې د ملکي وګړو د ترور کولو په موخه ترسره کیږي.

[۱۳۹] د بشري حقونو نړیواله بیانیه او د مدني او سیاسي حقونو نړیوال تړون دواړه په خپلو ۱۹ مادو کې د بیان د ازادي حق تضمینوي.

**په جلال اباد ښار کې د افغانستان د بشري حقونو پر خپلواک کميسيون بريد**

د اکتوبر پر ۱۵مه نيټه ، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر له ۲۸ مې د اکتوبر تر ۱۳مې پورې د طالبانو له خوا د کندز ښار د نيونې پر مهال د وسله والو افرادو له خوا پر ښځو د جنسي تيريو د تورونو په اړه د لومړنيو معلوماتو په ګډون ، د بشري حقونو د وضعيت په اړه يو راپور خپور کړ. د اکتوبر پر ۱۶مه نيټه ، طالبانو يوه بيانيه خپره کړه چې د کميسيون راپور يې رد او پر کميسيون يې د "استخباراتي شبکې" تور پورې کړ. د طالبانو په بيانيه کې همدارنګه څرګنده شوې وه "چې د کابل اداري په جوړښت کې دغه ډول ټول ارګانونه د استخباراتي موخو لپاره کار کوي ، د مفسدو کړيو له هيلو سره سم راپورونه خپروي او د مجاهدينو د بدنامۍ لپاره هڅې کوي."

د اکتوبر پر ۲۶مه نيټه ، د ننګرهار ولايت په جلال اباد ښار کې ، د ريموټ کنټرول ځای پر ځای شوي چاوديدونکي توکي د بشري حقونو د خپلواک کميسيون د عملي بس په وړاندې وچول شول چې له امله يې د دغه کميسيون دوه کارمندان ووژل او څلور نور ژوبل شول. هيڅ يوې ډلې په خپلو انټرنيټ پاڼو يا ټولنيزو رسنيو کې د دغه بريد مسووليت نه دی منلی ، خو يوې ځايي راډيو ادعا وکړه چې داعش جنګياليو دوي ته په يوه استول شوي ليکلي پيغام کې د دغه بريد مسووليت منلی.

پرته له دې چې د دغه ډول کړنو عاملين په پام کې ونيول شي ، يوناما يادونه کوي چې د بشري حقونو د مدافعينو په وړاندې ګواښونه او بريدونه د ويرې يو چاپيريال رامنځ ته کوي او د بشري حقونو د مدافعينو کار کمزوری کوي. دغه ډول کړنې د ژوند او فزيکي خونديتوب او دغه راز د بيان د ازادۍ له حقونو څخه سرغړونه شميرل کيږي.

يوناما پر ټولو خواوو غږ کوي چې د بشري حقونو د مدافعينو او د هغوي د خورا مهم کار ساتنه او درناوي وکړي ترڅو په افغانستان کې د ټولو وګړو بشري حقونه ترويج او خوندي شي.

**د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د طالبانو بيانيې**

د ۲۰۱۵ کال په اوږدو کې طالبانو په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو او د ملکي شتمنيو د ساتنې په اړه ۸۴ بيانيې خپرې کړې دي. د مثال په ډول د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر په پای کې پر کندز د طالبانو تر بريد وروسته ، هغوي يوه بيانيه خپره کړه چې د انجو ، شخصي کمپنيو او د مخابراتي شرکتونو ټولو کارکوونکو ته په کې سپارښتنه شوې څو په عادي ډول خپلو کارونو ته ادامه ورکړي.[۱۴۰]

طالبانو پر خپله ويب پاڼه د بيانيو له لارې په وار وار څرګنده کړې چې د ملکي وګړو ساتنه د دوي له اصلي موخو څخه شميرل کيږي او د دغه ډول د يوې بيانيې له لارې يې د تر ساتنې لاندې وګړو کټګوري ګانې په ډاګه کړې.[۱۴۱] پر ملکي

[۱۴۰] د طالبانو د ۲۰۱۵ د سپتمبر د ۲۸ نېټې بيانيه پر دغې ويب پاڼې د لاس رسي وړ ده: -http://shahamat-english.com/statement-by-commission-for-control and-administration-of-ngos-and-companies/, په وروستي ځل د ۲۰۱۶ کال د جنوري پر ۲۶ د لاس رسي وړ وه.

[۱۴۱] د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د يوناما/د بشري حقونو د عالي کمينشر د دفتر د کلني راپور ۷۰- ۷۴ مخونه ، د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د يوناما/د بشري حقونو د عالي کمينشر د دفتر د نيم کلن ۶۲- ۶۶ مخونه او د طالبانو بيانيه وګورئ ، "د احتياطي تدابيرو په اړه د اسلامي امارت د مشرتابه ځانګړې لارښوونې چې په روان جهاد کې د ملکي مرګ ژوبلې مخنيوی وشي. " پر دغې ويب پاڼه د لاس رسي وړ ده: -http://www.shahamat-english.com/index.php/paighamoona/51926-special

وګړو د رېښتینو اغیزو په درک کولو سره ، په یوه څرګند بدلون کې ، په ۲۰۱۵ کې دوي په دوو ادعاوو کې د ملکي مرګ ژوبلې مسوولیت ومانه. د مثال په ډول ، د مۍ پر ۱۷مه نیټه ، طالبانو ومنله چې په کابل کې د اروپایي اتحادیې پر پولیسو د موټر بم له ځانمرګي برید وروسته "ښایي یو شمیر ملکي وګړي برسیرن ژوبل شوي وي " ، کوم چې درې ملکي وګړي ووژل او ۳۰ نور یې ژوبل کړل.[۱۴۲] د نومبر پر ۱۶مه نیټه ، په یوې ورته پېښه کې یوه موټر بم ځانمرګي چې د هلمند ولایت په لشکرګاه ښار کې د نړیوالو امنیتي ځواکونو کاروان په نښه کړی و ، دوه ملکي وګړي مړه او ۱۲ نور ژوبل کړل.طالبانو د پېښې مسوولیت منلی او اعتراف یې کړی چې په پېښه کې درې ملکي وګړي برسیرن ټپي شوي.[۱۴۳]

بیانیه بیا instructions-of-the-islamic-emirate's-leadership-regarding-precautionary-means-to-prevent-civilian-casualties-in-the-ongoing-jihad, وروسته له ویب پاڼې څخه لیرې کړای شوه ، خو له یوناما سره په دوسیه کې موجود ده.

[۱۴۲] د طالبانو د ۲۰۱۵ د مۍ د ۱۷ "عملیاتي راپور" ، چې پر دغې ویب پاڼه د لاس رسي وړ دی: justpaste.it/l6sy , راپور بیا وروسته له ویب پاڼې څخه لیرې کړای شو ، خو له یوناما سره په دوسیه کې موجود دی.

[۱۴۳] په دې اړه د طالبانو بیانیه پر دې ویب پاڼه وګورئ: http://shahamat-english.com/lashkargah-martyr-attack-hits-3-apcs-kills-us-generals په وروستي ځل د ۲۰۱۶ د جنوري په ۲۵ د لاس رسي وړ وه.

د احتیاطي تدابیرو په اړه د طالبانو د بیانیو سربیره ، د طالبانو د احتیاطي تدابیرو[۱۴۴] په اړه د بیانیو سربیره ، یوناما لا اوس هم پر عامه ځایونو د طالبانو بریدونه مستند کوي ، چې په بې توپیره ډول یې ملکي وګړي زیانمن کړي. همدا ډول ، طالبان د "ملکي وګړو" په اړه د خپل تعریف پلي کولو ته ادامه ورکوي چې هغه د بشرپالني له نړیوال قانون سره وینه خوري ، ا ـ ن د عملیاتو پر مهال دوي په دې کې پاتې راغلي چې له خپلې خوا د ملکي وګړو خورا محدود شوی تعریف عملي او په پام کې ونیسي.[۱۴۵]

په ۲۰۱۵ کال کې ، طالبانو داسې بیانیې خپرې کړي او ژمنه یې وکړه چې هغوي به د "انجوګانو او نورو خیریه کارکوونکو"[۱۴۶] سره د کار د تسهیل په موخه مرسته کوي ، په داسې حال کې چې د بشري حقونو مدافعین یې ګواښل.[۱۴۷] په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه په یوې بیانیې کې د جګړې پر مهال له زیان شخه د ښځو ، ماشومانو ، مسنو او راهبانو ساتنه د احادیثو[۱۴۸] او اسلامي اصولو محتوا ته راجع کوي او د هغو وګړو وژنه منع کوي چې جګړه کې نه وي ښکېل.[۱۴۹] د دغې بیانیې سربیره ، طالبانو د ملکي وګړو په نښه کولو ته ادامه ورکړه او د بریدونو مسوولیت یې په غاړه اخیستی (د مثال په دول پر دولتي چارواکو د بریدونو برخه وګورئ).

د تېرو کلونو په څېر ، د طالبانو له خوا د خپلو جنګیالیو شخه د حساب اخیستلو باندې ټنکار سره سره ، طالبانو د خپلو هغو غړو د احتساب په اړه کوم عمومي معلومات نه دي وړاندې کړي چې د ملکي وګړو د خوندیتوب اړونده تدابیرو په مراعت کولو کې پاتې راغلي. دوي لا اوس هم د هغو بریدونو له مسوولیت منلو انکار کوي چې د زیات شمیر ملکي مرګ ژوبلې لامل کیږي.[۱۵۰]

په داسې حال کې چې د طالبانو له خوا په هره پېښه کې ملکي وګړو ته پر اوښتي واقعي زیان هم له اعتراف کولو او هم له مسوولیت منلو شخه ډډه کیږي ، یوناما طالبان دې ته هڅوي چې د خپلو عملیاتو په پایله کې ملکي وګړو ته د ورپېښ شوي زیان مسوولیت په ښکاره ومني. یوناما دا مني چې دغه بیانیې په عام ډول یو مثبت پرمختګ دی خو لا اوس هم په دې ټینګار کوي چې دغه بیانیې دې د دوي په منځ کې هغو اشخاصو ته متوجې شي چې د جګړې په ډګر کې د کړنو مسوول دي ، نه د عامه اړیکو د ترسره کولو لپاره ، پر ته له دې چې د هغوي پر عملي کړنو اغیز وکړي. یوناما

---

[۱۴۴] همدا ماخذ ، ۱۲۱ لمن لیک

[۱۴۵] همدا ماخذ

[۱۴۶] د ۲۰۱۵ د سپتمبر پر ۲۲ ، د لوی اختر به مناسبت د طالبانو د مشرتابه پیغام ، پر دغې ویب پاڼې د لاس رسي وړ دی: http://shahamat-english.com/message-of-felicitation-of-the-esteemed-amir-ul-momineen-mullah-akhtar-mohammad-mansoor-may-allah-protect-him-on-the-eve-of-eid-ul-odha/

[۱۴۷] د ۲۰۱۵ کال د ډسمبر ۱۲ ، په کندز کې په وسله واله جګړه کې د بشري حقونو او ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما/د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر ځانګړی راپور ۱۵-۱۶ مخونه وګورئ ، پر دغې ویب پاڼه د لاس رسي وړ دی: http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/civcas/Special%20Report%20on%20Kunduz%20province_12%20December%202015.pdf

[۱۴۸] حدیث د محمد صلی الله علیه وسلم د ورځني ژوند کړو وړو او ویناوې دي ، او تر قران کریم وروسته د مسلمانانو د لارښوونې ستره سرچینه ګڼل کیږي.

[۱۴۹] د طالبانو د ۲۰۱۵ کال د اګست د ۲۴ بیانیه ، "د ولسي وګړو ساتنه زموږ دیني او ملي وجیبه ده" وګورئ ، پر دغه ادس د لاس رسي وړ ده: http://alemara1.org/?p=25288, last accessed 25 January 2016

[۱۵۰] د مثال په ډول ، د اګست پر ۷ ، په کابل ښار کې د طالبانو د هغه موټر بم ځانمرګي برید له مسوولیت شخه انکار ، چې ۲۹۸ ملکي مرګ ژوبلې (۱۵ مړینې او ۲۸۳ ژوبلې) لامل شو: د طالبانو بیانیه ، "د کابل د شا شهید په سیمه کې د چاودنې په اړه د اسلامي امارت د څېړونکي راپور" ، http://shahamat-english.com/report-by-investigation-team-of-islamic-emirate-regarding-the-incident-in-kabuls-shah-shaheed/, په وروستي ځل د ۲۰۱۶ د جنوري پر ۲۵ د لاس رسي وړ و ، او دغه راز په کابل ښار کې د اګست د ۲۲ د موټر بم ځانمرګي برید له مسوولیت شخه انکار ، چې له امله یې ۱۰۰ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله (۱۲ مړینې او ۸۸ ژوبلې) رامنځ ته شوه: د طالبانو بیانیه ، "په کابل کې د نن ورځې برید په موږ پورې هیڅ اړه نه لري" http://shahamat-english.com/todays-attack-in-kabul-has-nothing-to-do-with-us-mujahid/ په وروستي ځل د ۲۰۱۶ کال د جنوري پر ۲۵ د لاس رسي وړ وه.

له طالبانو غوښتنه کوي ، چې د دوي د عملیاتو له امله د ملکي وګړو د زیان د راکمولو لپاره د مهمو ګامونو اخیستلو ته زیات لومړیتوب ورکړي.

## د طالبانو هغه بیانیې په کومو کې چې د ښځو او نجونو د حقونو د ساتلو ژمنه شوې

په ۲۰۱۵ کال کې ، په قطر کې په یوه نړیوال کنفرانس کې د طالبانو له خوا د هغې بیانیې سره سره ، [۱۵۱] چې د ښځو د حقونو په ګډون په کې د بشري حقونو د ساتنې ژمنه شوې وه ، یوناما د دولت ضد عناصرو یو شمیر داسې پېښې مستندې کړي ، چې په قصدي ډول یې د ښځو او نجونو خوځښت محدود کړی ، روغتیایي خدمتونو ته یې د هغوي لاس رسی او تر لومړنیو زده کړو ها خوا یې د نجونو تعلیم منع کړی (پورته د ښځو او وسله والو شخړو برخه وګورئ).

یوناما یو ځل بیا پر طالبانو غږ کوي چې د ښځو د نه بېلیدونکو حقونو د بشپړ عملي کیدو په موخه د کوټلو ګامونو د پورته کولو له لارې د ښځو د حقونو په وړاندې خپلې ژمنې څرګندې کړي. یوناما طالبان دې ته هڅوي څو ډاډ تر لاسه کړي چې قوماندانان په بشپړ ډول دغه ژمنې پرځای کوي او د ښځو بنسټیزو بشري حقونو ته درناوی کوي. دوي باید دغه راز د هغو جنګیالیو حساب ورکونه یقیني کړي چې د ښځو او نجونو له حقونو څخه سرغړونه کوي یا د هغوي په مراعت او ساتلو کې پاتې راغلي وي.

## د عراق او شام اسلامي دولت ډله/داعش [۱۵۲]

څرنګه چې په وسله واله شخړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۵ کال په نیم کلن راپور کې هم راغلي دي یو شمیر ډلو چې له یوه تروریستي سازمان سره چې ځان د عراق او شام د اسلامي دولت په نوم یادوي او په افغانستان کې د عربي مخفف کلمې داعش په نامه پیژندل کیږي ، بیعت اعلان کړو او هغوی په ۲۰۱۵ کال کې په ختیځ ولایت ننګرهار کې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اړولې. دغه ډلې د اسلامي دولت د رسنیو له هغو تاکتیکونو څخه کار اخلي چې په نورو هېوادونو کې یې دغې ډلې کاروي لکه د ټولنیزو رسنیو د لارې د سرونو د پرې کولو ، د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو [۱۵۳] د چولو له لارې د اعدامونو ښوول. که څه هم یوناما داعشیانو ته منسوب شوې د هدفي او قصدي وژنو او ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو له امله د ملکي وګړو مرګ ژوبله مستنده کړې ، خو په ۲۰۱۵ کې د داعش ډلې له خوا په پیل کې ملکي مرګ ژوبله له طالبانو سره د ځمکنیو نښتو په پایله کې رامنځ ته شوې.

---

[۱۵۱] په وسله واله شخړه کې د ولسی وګړو د ساتنې په اړه د یوناما/د بشري حقونو د عالي کمیشنر د ۲۰۱۵ کال نیم کلن راپور ۶۶ مخ ، د طالبانو بیانیه ، د ۲۰۱۵ د مۍ پر ۵ ، "د پګواش په څیړنیز نړیوال کنفرانس کې د اسلامي امارت د سیاسي دفتر د پلاوي له خوا د بیانیې بشپړ متن"پر دغې ویب پاڼه د لاس رسي وړ دی: http://shahamat-english.com/full-text-of-the-statement-delivered-by-the-delegation-of-political-office-of-the-islamic-emirate-in-the-international-pugwash-research-conference/.

[۱۵۲] په افغانستان کې هغه ډلې چې د اسلامي دولت چې د عربي " داعش" کلمې ته راجع کیږي ، که څه هم د هېواد په ځینو برخو کې دغه اصطلاح د هر جنګیالي لپاره پرته له دې چې د هغه تابعیت په پام کې ونیول شي ، څخه کارول کیږي. د "داعش" کلمه د " د عراق او شام داسلامي دولت" (الدولة الاسلامية العراقية و الشام) مخفف دی.

[۱۵۳] یوناما د ۲۰۱۵ د جولای پر ۲۵ ، د ننګرهار په اچین ولسوالۍ کې داعشیانو له طالبانو سره تړلي لس جنګیالي پر چاودیدونکو توکو والوزول. دغه ویډیو د ۲۰۱۵ د اګست پر لسمه په پراخه کچه په ټولنیزو رسنیو کې خپره شوه. یوناما د دې یادونه کوي ، چې د ژنیو د کنوانسیونونو دریمه مشترکه ماده د قتل ، تاوتریخوالی ، د مجازاتو تصویبول ، او د منصفانه محاکمې د معیارونو له درناوي پرته د اعدامونو ترسره کول ، شکنجه ، د اندامونو پرې کول او د تاوتریخوالي نورې بڼې د صریح ممنوعیت لارې د هغو کسانو ساتنه کوي ، چې په جګړه فعاله برخه نه اخلي. دغه کړنې په هر زمان او مکان کې منع شوي. په افغانستان کې د دریمې مشترکې مادې د تطبیق لپاره د نور تفصیل په موخه د دې راپور د قانوني چوکاټ برخه وګورئ

د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې یوناما داعشیانو ته منسوب د۱۳ ملکي وګړو مرګ ژوبله مستنده کړې. د کال په دوهمه نیمایي کې دغې ډلې زیات عملیات ترسره کړل چې له امله یې یوناما په ننګرهار ولایت کې دغې ډلې ته منسوب د۶۹ ملکي وګړو مرګ ژوبله (۳۰ مړه او ۳۹ ژوبل) مستنده کړې. یوناما د ۱۷ هدفي او قصدي وژنو په پېښو کې د ۲۶ ملکي وګړو مرګ ژوبله (۱۷ مړه او ۹ ژوبل)، د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د ۵ پېښو له امله د۲۶ ملکي وګړو مرګ ژوبله (۴ مړه او ۲۲ ژوبل)، د ۵ ځمکنیو نښتو په پېښو کې د۲۳ملکي وګړو مرګ ژوبله (۱۱ مړه او ۱۲ ژوبل) او د تښتونې د ۶ پېښو له امله د ۷ ملکي وګړو مړینه مستنده کړې.

دغه راز داعش جنګیالیو په ننګرهار ولایت کې ، ښوونې ته د ماشومانو لاس رسی او په ټولیز ډول طبي مرستو ته د ملکي وګړو لاس رسی اغیزمن کړی- څرنګه چې د دغې موضوع یادونه د وسله والې شخړې او ماشومانو په برخه کې شوې ده. یوناما موندلې چې د ۲۰۱۵ د جنوري د لومړۍ او دسمبر د ۳۱ نېټې ترمنځ ، د داعش جنګیالیو له خوا په ترسره شویو بریدونو له ډلې یې یو په دریمه هغو کې ښوونیز او روغتیایي مرکزونه او اړونده کارمندان په نښه کړي. دغه بهیر به د ملکي وګړو د زیان او د داعشیانو تر ولکې لاندې سیمو کې د وګړو د موقتې بې ځایه کیدنې لامل شي.

داعش جنګیالیو ته د ملکي وګړو د منسوب شوې مرګ ژوبلې مثالونه لاندنۍ پېښې رانغاړي:

- د ستمبر پر ۲مه نیټه ، داعشیانو د ننګرهار ولایت په پچیر اګام ولسوالۍ کې د طالبانو پر هدفونو برید وکړ چې کوچنۍ وسلې ، راکټونه او بمونه یې کارول. د جګړې پر مهال ، داعش جنګیالیو نهه ملکي وګړي (د دریو سړیو او د یوه کور د سوځولو په ګډون) ووژل او د دوو میرمنو په ګډون ، اته نور یې ژوبل کړل. د سرچینو د راپور له مخې ، داعشیانو د دغه برید پر مهال په قصدي ډول ملکي وګړي له ځایي طالبانو سره د ملاتړ له امله په نښه کړل. په هماغې ورځ داعش ډلې د یوې ښځې په ګډون ۲۶ ملکي وګړي وتښتول. دوی د ۲۰۱۵ کال په نومبر کې وروسته له هغې خوشي شول چې ژمنه یې وکړه له طالبانو یا له بل کوم ملي پاڅون سره به مرسته نه کوي.

- د سپتمبر پر ۳۰مه نیټه ، د ننګرهار په اچین ولسوالۍ کې یوه ډله ملکي وګړي چې داعشیانو او افغان امنیتي ځواکونو ترمنځ د جګړې له امله پلې په تېښته کې وو ، په هغه فشاري چاودیدونکو توکو وربرابر شول چې د داعش ډلې له خوا د افغان امنیتي ځواکونو په نښه کولو لپاره ځای پر ځای شوي وو. د دغو توکو د چاودنې له امله یوه نجلۍ ووژل شوه او د شپږو ماشومانو او یوې ښځې په ګډون ، اووه نور ملکي وګړي ژوبل شول.

## ۴. دولت پلوه ځواکونه

دولت پلوه ځواکونه په ۲۰۱۵ کال کې د ۱۸۵۴ملکي وګړو د مرګ ژوبلې (۶۲۱ مړه او ۱۲۳۳ ژوبل) لامل شوي چې د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۲۸ سلنه زیاتوالی ښیي او د ټولې ملکي مرګ ژوبلې ۱۷ سلنه جوړوي.

یوناما د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې نږدې نیمايي۴۷- سلنه- (۸۶۸ ملکي مرګ ژوبله: ۲۵۸ مړه او ۶۱۰ ژوبل) یوازې افغان ملي اردو ته منسوب کړې ، چې زیاتره پېښې د ځمکنیو نښتو په پایله کې رامنځ ته شوي دي. دولت پلوه ځواکونو ته د منسوب شوې ملکي مرګ ژوبلې دویم زیات شمیر د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا رامنځ ته شوي ، ۱۷۹ مرګ ژوبله (۱۰۶ مړه او ۷۳ ژوبل) چې ۱۰ سلنه جوړوي. ټولو دولت پلوه ځواکونو ته د منسوب شوې ملکي مرګ ژوبلې ۷ سلنه د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا رامنځ ته شوې ، په داسې حال کې ، چې افغان سیمه ییز پولیس د ۷ سلنې او افغان ملي پولیس د ۴ سلنې د ملکي مرګ ژوبلې لامل شوي. دولت پلوه ځواکونو ته د منسوب شوې ملکي مرګ ژوبلې پاتې ۲۵ سلنه ، د دغو ځواکونو د ګډو عملیاتو یا د داسې عملیاتو په پایله کې رامنځ ته شوې ، چېرې چې یوناما و نه کولی شو د امنیتي ځواک مسوول لوری معلوم کړي.

دولت پلوه ځواکونو ته د ملکي وګړو د منسوب شوې مرګ ژوبلې مثالونه لاندنی پېښې رانغاړي:


- د اکتوبر پر ۲۰مه نیټه ، افغان ملي اردو د هلمند ولایت په نادعلي ولسوالۍ کې د دولت ضد عناصرو د اهدافو پر ضد د هاوان مرمۍ وتوغوله چې د ملکي وګړو پر یوه کور ولګیده چې څلور ماشومان او یوه ښځه یې ووژل.
- د ډسمبر پر۴مه نیټه ، د وردګو ولایت د سید آباد په ولسوالۍ کې ، افغان ملي اردو دوه د پس لغت مرمۍ وتوغولې چې پر یوه جومات ولګیدې او له امله یې د څلورو هلکانو په ګډون نهه ملکي وګړي ووژل شول او درې نور ژوبل شول. د راپورونو له مخې ددغې پېښې په تړاو د ملي اردو درې سرتیرې نیول شوي. د دغه راپور د لیکنې پر مهال له نیول شویو سرتیرو څیړنې روانې وې.

### هغه تاکتیکونه او د پېښو ډولونه چې ملکي وګړو ته تر ټولو زیات زیان اړوي

د ۲۰۱۵ کال په اوږدو کې ، دولت پلوه ځواکونو د ځمکنیو نښتو پر مهال ملکي وګړو ته تر ټولو زیات زیان اړولی (په ځمکنیو نښتو کې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د ملکي وګړو د منسوب شوې مرګ ژوبلې برخه وګورئ) ، کوم چې د دغو ځواکونو ته د ملکي وګړو د منسوب شوې مرګ ژوبلې د ۶۸ سلنې لامل شوی. د دولت پلوه ځواکونو د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې دویم مخکښ لامل هوايي عملیات وو ، چې دغو ځواکونو ته د ملکي منسوب شوې مرګ ژوبلې ۱۶ سلنه جوړوي. د دولت پلوه ځواکونو له خوا هدفي وژنې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د دریم زیات شمیر لامل شوي ، چې دغو ځواکونو ته د منسوب شوې ملکي مرګ ژوبلې پنځه سلنه جوړوي. د مرګ ژوبلې پاتې ۱۱ سلنه د جګړې اړوند ګواښونو ، تهدیدونو ، ځورونو ،[۱۵٤] د ځواکونو له خوا اخطار ته پام نه کولو په پېښو او د تلاشیو د عملیاتو په پایله کې رامنځ ته شوې.

[۱۵٤] ګواښونه ، تهدیدونه او ځورونه هغه کټګوري ده ، چې د یوناما له خوا د مرګ یا زیان د ګواښونو ، تهدیدونو او ځورونې د ثبت لپاره کارول شوې ، کوم چې د شخړې د ښکیلو خواوو له خوا د ملکي وګړو په وړاندې ترسره شوي او له بشري حقونو څخه سرغړونه یا تیری ګڼل کیږي. دغه کټګوري د خوځښت ناقانونه محدودیتونه یا د بیان د

**د تاکتیکونو پر بنسټ د ملکي وګړو مرګ ژوبله: دولت پلوه ځواکونه ، د ۲۰۱۵ کال له جنوري تر ډسمبره**




## هوايي عمليات

*"موږ د پیستې ځنګل ته ښېرمه په خپله خیمه کې د غرمې ډوډۍ خوړله. د چورلکې غږ مې واورید، نو له خیمې د باندې راووتم چې یې وګورم. چورلکې ناڅاپي د راکټونو په ویشتلو پیل وکړ. چورلکې ډېر راکټونه ګذار کړل، چې یو یې زما د کورنۍ پر خیمې ولګید. ما د خیمې په لوري ور منډې کړې، ګورم چې راکټ زما میرمن وژلې او زما دوه ورونه او یوه خور یې ژوبل کړي. څه موده وروسته، د افغان ملي اردو چاروکو او د والي مرستیال زما له کورنۍ په روغتون کې کتنه وکړه. دوي ما ته وویل چې افغان ملي اردو ټاسو ته د اوښتي مرګ ژوبلې له امله بخښنه غواړي. ما په دې هیله چې د تاوان جبران به ترلاسه کړم، د کار او ټولنیز چارو له ریاست سره ځان ثبت کړ."*[155]

-- د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر پر ۱۴مه نیټه، د بادغیس ولایت په ابکمری ولسوالۍ کې د افغان ملي اردو د هوايي برید یو شاهد او د یو شمیر قربانیانو خپلوان. برید یوه ښځه ووژله، او یو سړی، یو هلک او یوه نجلۍ یې ژوبل کړل.[156]


---

ازادي مخنیوی، او له ملکیت ناقانونه محرومیت رانغاړي. دغه راز نومورې کټګوري د فیزیکي تاوتریخوالي هغه پېښې رانغاړي، چې موخه یې د ملکي وګړو ګواښل، تهدیدول یا ځورول وي، لکه مجازات، غچ یا د قصدي یرغل نورې بڼې، کله چې موخه د ملکي وګړو ګواښل، تهدیدول یا ځورول وي.

[155] د یوناما تیلفوني مرکه، د هرات ښار، ۲۱ سپتمبر ۲۰۱۵.

[156] وګورئ: /http://shahamat-english.com/enemy-airstrike-martyrs-woman-wounds-3-civilians "د دښمن د هوايي برید یوه میرمن شهیده او درې ملکي وګړي ژوبل کړل" بادغیس، ۱۵ سپتمبر، نن د دښمن چورلکو د ابکمری په سنګ اتش سیمه کې هوايي برید ترسره کړ، چې له امله یې یوه بې ګناه میرمن شهیده او درې ملکي وګړي ژوبل شول. انا لله و انا الیه راجعون."

د دوارو نړیوالو نظامي ځواکونو او افغان هوایي ځواکونو له خوا د هوایي عملیاتو له امله د ملکي وګړو مرګ ژوبله د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۴ کلونو ترمنځ رامنځ ته شوی کموالی بیرته معکوسوي ، چې په ۲۰۱۵ کې ۸۳ سلنه لوړه شوې او له امله یې ۲۹۶ ملکي مرګ ژوبله (۱۴۹ مړه او ۱۴۷ ژوبل) پېښه شوې. نړیوال نظامي ځواکونه د دغې مرګ ژوبلې د ۵۷ سلنې او افغان هوایي ځواکونه د ۴۳ سلنې لامل شوي.




***د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا ترسره شوي هوایي عملیات***

په ۲۰۱۵ کال کې د افغان امنیتي ځواکونو د ملاتړ او له تروریزم سره د مبارزې د خپلواکو عملیاتو لپاره د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا د ترسره شویو هوایي عملیاتو له امله ۱۷۰ ملکي مرګ ژوبله (۱۰۳ مړه او ۶۷ ژوبل) رامنځ ته شوې چې د ۲۰۱۴ کال په پرتله نهه سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.[۱۵۷] که څه هم یوناما ملاحظه کړې چې دغو ځواکونو ته په منسوب شوې ملکي مرګ ژوبله کې زیاتوالی ، په کندز ښار کې د اکتوبر پر ۳ مه نېټه د بې پولې ډاکټرانو پر یوه روغتون د هوایي برید له امله دی چې په پایله کې یې لږ تر لږه ۸۵ ملکي مرګ ژوبله (۴۲ مړه او ۴۳ ژوبل) رامنځ ته شوه.

[۱۵۷] یوناما په ۲۰۱۴ کال کې د نړیوالو نظامي خواکونو د هوایي عملیاتو له امله د ملکي وګړو ۱۵۶ مرګ ژوبله (۱۰۱ مریني او ۵۵ ژوبلي) مستنده کړې.

### په کندز کې د بې پولې ډاکټرانو پر روغتون برید ، ۳ اکتوبر ۲۰۱۵[۱۵۸]

د سپتمبر د ۲۸ مې او اکتوبر د ۱۳مې نیټې ترمنځ په کندز ښار کې د روان جګړه ییز وضعیت پر مهال (د څمکنیو نښتو برخه وګورئ)، په شمال ختیځ کې د بې پولې ډاکټرانو روغتون د تروما یوازینی روغتون و چې ژوبل شویو ملکي وګړو او جنګیالیو ته یې پرته له کوم توپیر او امتیاز څخه د ژوند ژغورنې خدمتونه وړاندې کول. د اکتوبر پر دریمه نېټه د سهار په لومړیو ساعتونو کې، په کندز کې د بې پولې ډاکټرانو په روغتون کې د ۱۱۹ ناروغانو او پایوازانو او د دغه روغتون د ۱۳۰ کارمندانو په ګډون، لږ تر لږه ۲۴۹ خلک موجود وو.[۱۵۹]

د سهار د ۲:۰۰ او ۳:۰۰ بجو تر منځ د متحده ایالاتو AC-130 ډوله الوتکې د دغه روغتون پر انګړ یو شمیر هوایي بریدونه ترسره کړل چې له امله یې لږ تر لږه ۸۵ مرګ ژوبله (۴۲ مړه او ۴۳ ژوبل) رامنځ ته شوه او دغه راز د روغتون اصلي ودانۍ ویجاړه شوه. د عیني شاهدانو د راپور له مخې یو شمیر قربانیان چې له سوي روغتون څخه د تېښتې په حال کې وو، د الوتکې څخه په مرمیو وویشتل شول. په مړو او ژوبلو کې ډاکټران، نرسان، ناروغان، پایوازان، ساتونکي او کلینران شامل وو. د دغه برید له امله ملکي وګړو ته د اوښتي زیان له مستقیمو مړینو او ژوبلو سربیره، د روغتون ویجاړې په کندز ښار او دغه راز ټوله سیمه کې روغتیایي خدمتونو ته عام لاس رسي د پام وړ راکم کړی.

د امریکا د متحده ایالاتواو افغان چارواکو له پېښې وروسته یو شمیر ضد و نقیض څرګندونې وکړې. د نومبر پر ۲۵مه نیټه، په افغانستان کې د متحده ایالاتو قومندان د خپلو ځواکونو د څېړنې د موندنو دلنډیز په اړه یوه بیانیه خپره کړه او په ډاګه یې کړه چې د بې پولې ډاکټرانو پر روغتون هوایي برید " د مستقیمې انساني تیروتنې او د سیستمونو او طرزالعملونو د پاتې راتلو په پایله کې را منځ ته شوې."[۱۶۰] د نومبر پر ۲۸مه نیټه، د ناټو اروپا ایتلافي عالي قومندان د دغه هوایي برید په اړه د غوڅ ملاتړ د ماموریت د ملکي مرګ ژوبلې د ارزونې د ګډ ټیم د راپور اجرایي لنډیز خپور کړ، کوم چې د بې پولې ډاکټرانو پر روغتون هوایي برید " د یو لړ بشري تیروتنو، د پروسو او طرزالعملونو د پاتې راتلو او د تخنیکي تجهیزاتو د نا سمې کارونې پایله ګڼي."[۱۶۱] د برید په اړه د افغان حکومت د څېړنو پایلې په عام ډول نه دی اعلان شوي.

د امریکا د متحده ایالاتو په مشرۍ د داخلي پلټنې پر عامه لنډیز د اعتراف او د ناټو د غوڅ ملاتړ د ماموریت د ملکي مرګ ژوبلې د ارزونې د ګډ ټیم د څېړنو د کلیدي موندنو د خپرولو د هرکلي تر څنګ، یوناما د بې پولې ډاکټرانو پر روغتون د هوایي برید په اړه د خپلواکو، بې طرفه، رڼو او اغیزمنو څېړنو د ترسره کولو سپارښتنه کوي. د څېړنو موندنې باید په عام ډول خپرې شي.

---

[۱۵۸] د دغه هوایي برید په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره، د ۲۰۱۵ کال د ډسمبر ۱۲، د کندز په ولایت کې په وسله واله شخړه کې د بشري حقونو او د ملکي وګړو د ساتنې په د یوناما/د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر د ځانګړي راپور ۷- ۱۲ مخونه وګورئ، چې پر دغې ویب پاڼې د لاس رسي وړ دی:
http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/civcas/Special%20Report%20on%20Kunduz%20province_12%20December%202015.pdf

[۱۵۹] معلومات د برېښنالیک له لارې د بې پولې ډاکټرانو د روغتون له خوا ترلاسه شوي، ۸ فبروري ۲۰۱۶.

[۱۶۰] د کندز د بې پولې ډاکټرانو د تحقیقاتو په اړه بیانیه، د غوڅ ملاتړ ماموریت، د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر ۲۸، چې پر دې ویب پاڼه د لاس رسي وړ ده:
http://www.rs.nato.int/article/press-releases/statement-on-the-kunduz-msf-hospital-investigation.html

[۱۶۱] اجرایې خلاصه. د کندز په ښار کې په یوه طبي مرکز د یوه هوایې برید ارزونه. ترکیب شوې ملکي مرګ ژوبله، د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر ۳، په لاندې پته د لاسرسي وړ ده:
http://www.aco.nato.int/resources/3/images/2015/saceur/exec_sum.pdf, په وروستي ځل د ۲۰۱۵ د نومبر پر ۲۸ د لاس رسي وړ و.

په عام ډول معلوماتو ته لاس رسی په دې مانا نه دی چې ګواکې ترسره شوې څېړنې د یوناما له خوا د وړاندیز شویو شرایطو سره سمې دي ، په تېره بیا د هغوی خپلواکي او اغیزمنتوب. هغه دولتونه چې پرسونل یې تر قضایي ولکې لاندې دي او په دغې پېښه کې دخیل دي ، باید دا باوري کړي چې له هغو کسانو چې د دغه برید د ترسره کولو مسوولیت او واک درلود ، تحقیق شوی او د جنګي جرمونو په ارتکاب تورن اشخاص د یوې قانوني محکمې له خوا تر عدلي تعقیب لاندې او مجازات شوي ، چېرې چې د تورن شخص حقوقو ته درناوی په پام کې نیول شوی وي. یوناما سربېره پر دې ، د دې سپارښتنه کوي ، چې نړیوال نظامي ځواکونه دې د احتساب ، غوره عملیاتي کړنو ،[١٦٢] د خسارې د جبران او د قربانیانو او د هغوی د کورنیو د ملاتړ (د طبي مرستې په ګډون) د یقیني کولو لپاره کوټلي ګامونه پورته کړي.

***د افغان هوايي ځواکونو هوايي عملیات***

د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۵ کال په نیم کلن راپور کې له مستند شویو تمایلاتو سره سم ، د افغان هوايي ځواکونو له خوا د هوايي برید د ترسره کولو  وړتیا لرونکو الوتکو کارول ملکي وګړو ته د زیان لامل شوي ، چې له امله ۱۲۶ ملکي مرګ ژوبله (۴۶ مړه او ۸۰ ژوبل) رامنځ ته شوې.

د ډسمبر تر ۳۱ مې نیټې پورې ، افغان هوايي ځواک د یوایم ا ـ ی ۳۵ جنګي چورلکې ، ډرایم ا ـ ی- ۲۴ جنګي چورلکو ، لسو ایم ډي ۵۳۰- سپکو جنګي چورلکو[١٦٣] او ۴ایم ا ـ ی۱۷- ترانسپورتي چورلکو چې په ماشیندارو سمبال شوي[١٦٤] په ګډون ، ۲۸ الوتکې په کار اچولې.

لاندې د ملکي مرګ ژوبلې هغه مثالونه دي ، چې د افغان هوايي ځواکونو د هوايي عملیاتو له امله رامنځ ته شوې:

- د اګست پر ۲مه نېټه ، د افغان ملي اردو یوې چورلکې د دولت ضد عناصرو پر یوې ډلې چې د فاریاب ولایت ، د قیصار ولسوالۍ په شخ بازار سیمې کې راټوله شوې وه ، برید وکړ او له امله یې یو شمیر جنګیالي ژوبل او ووژل شول.په برید کې دغه راز دوه ملکي هلکان ووژل شول ، شپږ سړي ژوبل او د سونګ توکو دوه هټۍ ویجاړې شوې.

- د نومبر پر ۳مه نېټه ، د افغان امنیتي ځواکونو له خوا په یوه برید کې ، چې د کندز ولایت د دشت ارچې ولسوالۍ مرکز له طالب جنګیالیو بیرته ونیسي ، د افغان ملي اردو چورلکو په مسلسل ډول پر میشت ځایونو

[١٦٢] په یوه لیکلي ځواب کې د ۲۰۱۶ کال د فبروري په ۴ یوناا ته لیږل شوی ، د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموریت ویلی دی: "د کندز د پېښو په پایله کې د غوڅ ملاتړ قومندان د هدف نیونې په پروسه کې د یوه نوي ګام لاربښوونه کړې- له جګړې څخه د خوندي ځایونو لیست کره کول. دغه لیست باید په هر ساختمان باندې له برید حخه مخکې تایید شي. په دې برسیره له جګړې څخه د خوندي ځایونو د ساتلو په موخه ځواکونه باید بیا روزنه تر لاسه کړي. د قوماندان لارښود د دویم ځل لپاره ولیکل شو. دغه بیا کتنه له جګړې څخه د خوندي ځایونو په اهمیت ټینګار کوي څو د ملکي مرګ ژوبلې مخنیوی وشي او د غوڅ ملاتړ ټول پرسونل ته د هغه لوستل توصیه کوي."

[١٦٣] ایم ا ـ ی- ۲۵ایم ا ـ ی- ۲۴ ، ایم ډي ۵۳۰- اود۷ایم ا ـ ی۱۷-اړول شوې چورلکې د دې وړتیا لري چې د راکټ نا رهنما شوي سیستمونه ولیږدوي.

[١٦٤] د متحده ایالتونو د دفاع وزارت ، په افغانستان کې د ټیکاو او د امنیت د ښه کولو په اړه راپور ، ۶۸-۶۳ مخونه ، په لاندې پته د لاسري وړ دی: http://www.defense.gov/pubs/June_1225_Report_Final.pdf, چې په وروستي ځل د ۲۰۱۵ د جولای پر لومړۍ نېټه د لاس رسي وړ وهمدارنګه د ایم ا ـ ی-۵وی ایس ۳۰ الوتکې شته چې د افغانستان د دفاع تر وزارت لاندې د ځانګړي ماموریت د څانګې له خوا کارول کیږي ، که څه هم د هغوي پر وسلو د سمبالولو او برید وړتیاوې نامعلومې دي. د همدغه ماخذ ۵۹- ۶۰ مخونه وګورئ.

بمباري وکړه ، چې له امله یې یوو ملکي وګړي مړ او د دوو ماشومانو او یوې ښځې په ګډون څلور نور ژوبل شول. د راپورونو له مخې ، افغان ملي اردو دغه سیمه د چورلکې په جي پي ایس سیستم کې د تخنیکي ستونزې له امله بمبار کړې.

د ملکي وګړو په میشت سیمو کې د روانې جګړې او د عملیاتو پر مهال د افغان هوایي ځواکونو د وسایلو کارونې احتمال ته په کتو ،[165] یوناما د روزنو د برابرولو او د ښکیلتیا د قواعدو د پیاوړي کولو له لارې د نړیوالو نظامي ځواکونو د هغه دوامدار ملاتړ هرکلی کوي چې د افغان هوایي ځواکونو دا وړتیا غښتلې کړي چې په هوایي عملیاتو کې ملکي مرګ ژوبله راکمه کړي.

یوناما ټینګار کوي چې د بشرپالنې نړیوال قانون د شخړې له ټولو ښکیلو خواوو غوښتنه کوي چې د هوایي عملیاتو د ترسره کولو په ګډون د هر ډول پیښې په صورت کې د ملکي وګړو د وژل کېدو او ټپي کېدو او ملکي موخو ته د تصادفي زیان د کچې د کمولو د مخنیوي په موخه ټول ممکنه تدبیرونه په پام کې ونیسي.[166]

## د افغان امنیتي ځواکونو او نړیوالو نظامي ځواکونو ګډ عملیات

د ۲۰۱۵ په دویمه نیمایي کې ، یوناما په خوست ، کندز ، لوګر او هلمند کې د نړیوالو نظامي ځواکونو او افغان امنیتي ځواکونو د ګډو عملیاتو په پایله کې د ملکي وګړو په مرګ ژوبله کې زیاتوالی مستند کړی. یوناما د ۳۰ ملکي وګړو مرګ ژوبله (۲۳ مړه او ۷ ژوبل) مستنده کړې چې د نهو ګډو عملیاتو او یوې ګډې ځمکنۍ نښتې په پایله کې رامنځ ته شوې.

که څه هم د ۲۰۱۴ کال په پرتله د ګډو عملیاتو له امله د ملکي وګړو په مرګ ژوبله کې کموالی راغلی ،[167] یوناما د ۲۰۱۵ کال په وروستیو کې د دغه ډول پیښو په شمیر کې د چټک زیاتوالي په اړه اندېښمنه ده او نړیوالو نظامي ځواکونو او افغان ځانګړو ځواکونو ته د دې سپارښتنه کوي چې د دغه ډول عملیاتو په ترسره کولو کې د ملکي وګړو د ساتنې لپاره د ټولو ممکنه احتیاطي اقداماتو په پام کې نیولو لپاره خپلې هڅې دوه برابره کړي ، او په دغو ځواکونو پورې تړلې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې پېښې د چټکو ، بې طرفه او بشپړو څېړنو له لارې وپلټي.

یوناما دغه راز د ۲۰۱۵ کال په ډسمبر کې دوه داسې ګډ عملیات مستند کړي چې د لوګر په چرخ او د هلمند په سنګین کې یې‌د یوې انجو له خوا چلوونکي روغتیایي مرکزونه په نښه کړي ، چې په پایله کې یې د روغتیایي چارو کارمندان زنداني او د کلینیک سامان الات ویجاړ شوي ، که څه هم له امله یې کومه ملکي مرګ ژوبله نه ده رامنځ ته شوې. یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې د جګړې ټولې ښکیلې خواوې باید د روغتیایي مرکزونو درناوی وکړي او هغه خوندي

---

[165] د ۲۰۱۶ پر ۱۵ ، افغان هوایي ځواکونو څلور اي- ۲۹ د سپک برید الوتکي ترلاسه کړې او تمه ده چې په ۲۰۱۶ کې به نورې جنګي الوتکې هم تر لاسه کړي. یوناما د دې یادونه کوي ، چې د اي۲۹- الوتکو په سپارلو سره به د ۲۰۰۱ کال راهیسې په لومړي ځل افغان هوایي ځواکونه د دې وړتیا ولري چې له الوتکو څخه ۲۵۰- ۵۰۰ پونډه بمونه وغورځوي. سرچینه: امریکا د متحده ایالاتو د دفاع وزارت ، "په افغانستان کې د امنیت او ټیکاو د ټینګولو په اړه راپور" ، ۵۳- ۵۵ مخونه. د ۲۰۱۶ د جنوري پر ۱۵ ، افغان هوایي ځواکونو د اي۲۹- 'Super Tocano' څلور د سپک برید الوتکې او تمه ده چې په ۲۰۱۶ کې به نورې جنګي الوتکې هم تر لاسه کړي. یوناما د دې یادونه کوي ، چې د اي۲۹- الوتکو په سپارلو سره به د ۲۰۰۱ کال راهیسې په لومړي ځل افغان هوایي ځواکونه د دې وړتیا ولري چې له الوتکو څخه ۲۵۰- ۵۰۰ پونډه بمونه وغورځوي.

[166] ۱- قاعده- په برید کې احتیاطونه- ۲۵ قاعده د ملکي وګړو او جنګیالو تر منځ توپیر. د بشرپالنې نړیوال عرفي قانون ، ۱ ټوک ، جین — ماری هیکایرتس او لوییس ډوس والک-بیک ، د هلال احمر نړیواله کمیټه ، کیمبریج ،۲۰۰۵.

[167] یوناما په ۲۰۱۴ کې د ګډو عملیاتو یا د افغان امنیتي ځواکونو د هغو عملیاتو له امله ، چې نړیوالو ځواکونو هم په کې حضور درلود ، د ملکي وګړو ۱۸۵ مرګ ژوبله (۱۰۲ مړینې او ۸۳ ژوبلې) مستنده کړې.

وساتي ، د دغه ډول مرکزونو د تلاشي عملیات تر شوني بریده راکم کړي او د دې ډاډ ورکړي چې په روغتیايي مرکزونو او شاوخوا کې دغه ډول عملیات په داسې ډول ترسره کړي چې د روغتون پر کارمندانو ، ناروغانو ، سامان الاتو او ودانۍ يې اغیز راکم کړي.[۱۶۸]

**دولت پلوه وسله والې ډلې**

*"غرمه مهال و ، زه له خپلې لمسۍ سره په خپل انګړ کې وم چې دوو دولت پلوه وسله والو ډلو يو پر بل ډزې پيل کړې. مرمۍ په هر لوري وریدې ، یوه يې زما د لمسۍ پر شا او بله زما پر پښې ولګیدې. کله چې ومې لیدل پر لمسۍ مې وينې راماتې دي ، ما خپل کنترول له لاسه ورکړل او په ژړا مې پيل وکړ. زموږ ګاونډي راغلل او موږ يې روغتون ته يوړو ، خو وې نه شو کولی چې زما لمسۍ وژغوري. یا فکر کولی شئ ، چې د دغه درد زغمل څومره ستونزمن دي؟ "*[۱۶۹]

-- د جنوري پر ۱۸مه نیټه ، د فاریاب ولایت په ګرزیوان ولسوالۍ کې ، د دولت پلوه وسله والو دوو ډلو ترمنځ د څمکنۍ نښتې قرباني. د پېښې له امله يو ماشوم ووژل شو او يوه میرمن ژوبله شوه.

د ۲۰۱۵ کال په اوږدو کې ، یوناما د قصدي وژنو ، بریدونو ، شوکو ، ګواښونو او غلاوو په ګډون ، د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا له معافیت سره ، د بشري حقونو څخه د سرغړونو پېښې مستندې کړې. د ۲۰۱۵ کال د جنوري د لومړۍ او د ډسمبر د ۳۱ مې نیټو ترمنځ ، یوناما د ۱۳۶ملکي وګړو مرګ ژوبله (۵۴ مړه او ۸۲ ژوبل) مستنده کړې ، چې د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا رامنځ ته شوې ده ، او دا رقم د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۴۲ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.[۱۷۰]

د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا رامنځ ته شوې زیاتره ملکي مرګ ژوبله (۸۳ مرګ ژوبله ، ۲۱ مړه او ۶۲ ژوبل- د ۲۰۱۴ کال[۱۷۱] په پرتله ۵۱ سلنه زیاتوالی) د دولت ضد عناصرو پر وړاندې او یا د دولت پلوه وسله والو سیالو ډلو ترمنځ د جګړې په ګډون ، د څمکنیو نښتو پر مهال پېښه شوې.

په ۲۰۱۵ کال کې ، یوناما ملاحظه کړې ده چې افغان امنیتي ځواکونه په عملیاتو کې د دولت پلوه وسله والو څخه مخ پر زیاتیدونکي توګه کار اخلي. سره له دې چې د عملیاتو په ترسره کولو کې د حکومت ترڅنګ یا په ملاتړ د وسله والو موازي ملیشه ډلو شتون ناقانونه دی ، او دولت پلوه وسله والې د منظمو ځواکونو له روزنې او ډسپلین څخه بې برخې او په بسیا ډول نه دي مجهز شوي ، څو د عملیاتو پر مهال د ملکي وګړو ساتنه وکړي. سربیره پر دې ، دغه ډلې د قوماندې څرګندې کرښې نه لري ؛ ولایتي امنیتي چارواکو په وار وار یوناما ته خبر ورکړی ، چې دوی د دغو ډلو د کنترول وړتیا نه لري او نه شي کولی چې هغوی د خپلو سرغړونو لپاره مسوول وګڼي.

---

[۱۶۸] طبي /روغتیايي مرکزونو ته د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې ورکړل شوی خوندیتوب مطلق نه دی ، او بنایې هغه وخت د خوندیتوب دغه موقف له لاسه ورکړي چې داسې عملونه ترسره کړي چې د دښمن لپاره ضررناک وي خو د یوه مناسب وخت په دننه او د یوه ټاکلي اخطار څخه وروسته او اخطار ته نه پاملرنې په صورت کې! ـ ی سي ا ـ ر سي دودیز نړیوال قانون ۱۵ ، ۲۲ ، ۲۵ ، ۲۶ او ۲۸ قاعدې ، پر دغې ویب پاڼې د لاس وړ دی: https://www.icrc.org/customary-ihl/eng/docs/v1_rul

[۱۶۹] د یوناما مرکه ، د میمنې ښاري روغتون ، ۲۰ جنوري ۲۰۱۵.

[۱۷۰] یوناما په ۲۰۱۴ کال کې ، دولت پلوه وسله والو ډلو ته منسوب شوې د ملکي وګړو ۹۶ مرګ ژوبله (۴۶ مړینې او ۵۰ ژوبلې) مستنده کړې.

[۱۷۱] په ۲۰۱۴ کال کې د دولت پلوه والو ډلو ترمنځ د څمکنیو نښتو پر مهال ملکي وګړو ۵۵ مرګ ژوبله (۲۵ مړینې او ۳۰ ژوبلې) پېښه شوې.

دغه راز دولت پلوه وسله والو ډلو په ۲۰۱۵ کال کې په زیاتیدونکي ډول د ملکي وګړو قصدي هدفي وژنې ترسره کړي. یوناما د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د ملکي وګړو د هدفي وژنو له امله د ۲۵ ملکي وګړو مرګ ژوبله (۲۲ مړه او درې ژوبل) مستنده کړې ، په داسې حال کې چې په ۲۰۱۴ کې دغه مرګ ژوبله ۱۰ وګړي (۹ مړه او یو ژوبله) وه.

یوناما همدارنګه په ۲۰۱۵ کال کې د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د ملکي وګړو د ګواښلو ، تهدیدولو یا ځورولو ۳۱ پیښې مستندې کړي. د مثال په ډول ، د جولای پر ۴مه نیټه ، د کندز ولایت په خان اباد ولسوالۍ کې ، د دولت ضد عناصرو له خوا تر یوه برید وروسته د دولت پلوه وسله والې ډلې یوه قوماندان په غیر قانوني ډول ۵ ملکي وګړي توقیف او تر پوښتنو ګرویږنو لاندې ونیول. قوماندان په یوه غیر قانوني توقیف ځای کې دغه توقیف شوي ملکي وګړي د پوښتنو ګرویږنو پر مهال له دې امله په لښتو وهلي ، چې ګواکې هغوی په سیمه کې د دولت ضد عناصرو د تګ راتګ په اړه په خبر ورکولو کې پاتې راغلي. د پارلمان د غړي تر مداخلې وروسته ، قوماندان دغه توقیف شوي ملکي وګړي خوشې کړل او په هماغې ورځ یې اخطار ورکړ ، چې سیمه پریږدي.

یوناما د حکومت پر هغه مسوولیت ، چې موخه یې په افغانستان کې د ژوند او امنیت د حق ساتل دي بیا تاکید کوي او پر حکومت بیا غږ کوي چې ټولې دولت پلوه وسله والې ډلې منحل او د سرغړونو مسوول مرتکبین محاکمه کړي.

لاندې دولت پلوه وسله والو ډلو ته منسوب شوې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې بیلګې دي:

- د سپتمبر پر ۷مه نیټه ، د کندز ولایت په خان اباد ولسوالۍ کې یوې دولت پلوه وسله والې ډلې یوې بلې دولت پلوې وسله والې ډلې ته د قوماندانانو د اوږدې دوښمنۍ له امله کمین نیولی و. مرمۍ پر شاوخوا ملکي وګړو ولګیدې چې له امله یې د یوې ښځې په ګډون څلور ووژل شول او د دوو ښځو په ګډون څلور نور ژوبل شول.

- د اګست پر ۳۰مه نیټه ، د فاریاب په پشتون کوټ ولسوالۍ کې یوه دولت پلوه وسله واله ډله یوه کلي ته ننوتله او دوه ملکي وګړي چې له ځایي طالبانو سره په ملاتړ تورن وو ، ووژل. د راپورونو له مخې یوه ورځ مخکې په یوه کمین کې دولت ضد عناصرو د دولت پلوه وسله والو دوه غړي وژلي وو.

## د افغان حکومت د "ملي پاڅون د ملاتړ ستراتیژي"

په ۲۰۱۵ کال کې ، افغان حکومت د "ملي پاڅون د ملاتړ ستراتیژي" جوړه کړه تر څو د ۲۵ ولایتونو[۱۷۲] په هغو سیمو کې چې افغان امنیتي ځواکونه محدود شتون لري ، دولت پلوه وسله والې ډلې رامنځ ته کړي. د ۲۰۱۵ کال تر پایه ،

[۱۷۲] "د دولت پلوه وسله والو ډلو" اصطلاح یوه نا دولتي تنظیم شوی فعال ته چې په شخړه کې ښکیل وي او د دولتي ځواکونو ،یاغیانو او جنایې ډلو څخه توپیر ولري راجع کیږي. دغه وسله والې ډلې دافغانستان د قانون لاندې کوم حقوقي بنسټ نه لري. وسله والې ډلې دا پوتانسیل لري چې د ځواک په کارولو سره وسلې وکاروي تر څو سیاسي ، ایدلوژیکي او اقتصادي موخې تر لاسه کړي ، دا ډلې د هیوادونو ، دولتي ایتلافونه او بین الحکومتي ادارو د رسمي پوځې جوړښتونو په دننه کې ځای نه لري او د هیواد (هیوادونو) تر کنترول لاندې نه دي په کومو کې چې دوي فعالیت کوي. په دې تعریف کې دا شامل دی ، خو تر لاندې ډلو پورې محدود نه دي: د ملي پاڅون حرکتونه ، محلي ملیشا(نژادي ، قومي او په پل عبارت) ملکي دفاعي ځواکونه او نیمه پوځې ډلې(داسې ډلې چې په ښکاره د دولت تر کنترول لاندې نه دي).

یوناما د ۱۰ ولایتونو[۱۷۳] په ۲۳ ولسوالیو کې د دولت پلوه وسله والو ډلو جوړول مستند کړي. له یوناما سره د یوې غونډې په ترڅ کې ، دولتي چارواکو په ډاګه کړه چې دا د "ملي پاڅون" ډلې په څواکمنو اشخاصو یا جنګ سالارانو پورې تړلې ملیشه نه دي ، بلکې دا یوه مؤقت نوښت دی چې تر دریو میاشتو وروسته به د افغان سیمه ییزو پولیسو په پروګرام کې جذب شي.[۱۷٤] امنیتي چارواکو یوناما ته خبر ورکړ ،چې د ملي امنیت ریاست ملکي یا قومي مشران ګوماري ، څو د "ملي پاڅون" ډلې لپاره غړي ور وپیژني چې بیا وروسته دغه غړي د ملي امنیت د ریاست له خوا ارزول کیږي.[۱۷٥] د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره دغو ډلو لپاره مالي ملاتړ برابروي او د کورنیو چارو وزارت یې د تسلیح کولو مسوولیت لري.[۱۷٦] د یوناما سرچینو راپور ورکړی ، چې په دغو ډلو کې ځایي خلک د دولت ضد عناصرو پخواني جنګیالي شامل دي. د دولت پلوه دغو وسله والو ډلو څواک توپیر کوي چې له ۲۲ تر ۵۰۰ پورې پرسونل لري او د ملي امنیت د ریاست او افغان ملي پولیسو تر عملیاتي قوماندې لاندې فعالیت کوي.

د دولت پلوه وسله والو ډلو جوړولو ، ملکي وګړي د زیان له ستر ګواښ سره مخ کړي. سره له دې چې د دولت له خوا د موازي ملیشه ډلو په وسلو سمبالول ناقانونه دي ، د "ملي پاڅون" ډلې له عادي ملکي وګړو او د دولت ضد پخوانیو عناصرو څخه جوړې شوي ، او د دغو ډلو لپاره د یوه حقوقي کاري چوکاټ نشتون له بشري حقونو څخه د سرغړونو او معافیت ستر ګواښ رامنځ ته کوي. سربیره پر دې ، د دغو ډلو غړي د وسلو له رسمي روزنې ، د بشرپالنې او د بشري حقونو د نړیوال قانون د اصولو ، او افغان قوانینو په اړه له اړینې پوهې بې برخې دي ، کوم څه چې ملکي وګړي د زیان له ستر ګواښ سره مخ کوي.

څرنګه چې په تېره برخه کې ملاحظه شوې ، یوناما په پرلپسې ډول د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د وسلې ناوړه کارونه او له معافیت سره له بشري حقونو د سرغړونو د ترسره کولو لپاره له حکومتي چارواکو سره پر شخصي اړیکو د هغوي اتکا مستنده کړې. د منظمو افغان امنیتي څواکونو له کرښو بهر د نورو وسله والو ډلو جوړول به په احتمالي ډول د دغه ډول پېښو د زیاتیدو لامل شي. هغه پلانونه چې د "ملي پاڅون" جنګیالي د افغان سیمه ییزو پولیسو په پروګرام – یو لانجمن پروګرام (راتلونکې برخه وګورئ)- کې جذب شي ، دغه پروګرام پخپله د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د اندېښنو د راکمولو لپاره ډیر لږ څه ترسره کړي.

څرنګه چې دغه ډلې هیڅ قانوني بنسټ نه لري ، له کومو خلکو سره چې په تعامل کې دي ، د هغوي په وړاندې مسوول نه دي ، او څرنګه چې د یوناما له خوا په مستند شویو زیاترو قضیو کې ، د ملکي وګړو په وړاندې د ترسره شویو جرمونو او سرغړونو لپاره له معافیت څخه برخمن دي ، یوناما په پرلپسې ډول د دولت پلوه وسله والو ډلو د منحل کیدو سپارښتنه کړې.

[۱۷۳] یوناما د ۲۰۱۵ په سپتمبر کې د دغو ډلو دجوړونې د تایید په موخه ، له افغان ملي پولیسو ، د ملي امنیت له ریاست ، والیانو او ولسوالانو سره لیدنې ترسره کړې. ځایي چارواکو د وردګو په جلریز ، د ننګرهار په کوټ ، د لغمان په دولت شاه ، د بدخشان په ریګستان ، ارغنچخوا ، بهارک ، شهدا ، زیبک او تګاب ، د بغلان په برقا ،د فاریاب په المار او قیصر ، د سرپل کوهستاناتو او سوزمي کلا ، د جوزجان په خما ب ، اقچه ، منګجیک ، فیض اباد او قرقین ، د سمنګانو په ایبک او د بلخ په چمتال او چهار بولک کې د دولت پلوه وسله ډلو جوړول تایید کړي.

[۱۷٤] د کورنیو چارو د عملیاتو له رییس سره د یوناما ناسته ، کابل ، ۱۰ جنوري ۲۰۱۶، د افغان سیمه ییزو پولیسو له ریاست سره د یوناما ناسته ، کابل ، ۱۳ جنوري ۲۰۱۶ ، د امنیت د ملي شورا له دفتر سره د یوناما ناسته ، کابل ، ۱۱ جنوري ۲۰۱۶.

[۱۷٥] همدا ماخذ.

[۱۷٦] همدا ماخذ.

یوناما یو ځل بیا د "ملي پاخون" د ډلو په ګډون ، د ټولو دولت پلوه وسله والو ډلو زر تر زره پر منحل کیدو ټینګار کوي او چارواکو ته د دې سپارښتنه کوي چې د بشري حقونو د سرغړونو د ټولو مرتکبینو د احتساب د یقیني کولو لپاره موثر ګامونه واخلي.

## افغان سیمه ییز پولیس

*"د افغان سیمه ییزو پولیسو یوه ۱۵ کسیزه ډله زموږ کلي ته د طالبانو په لټه پسې راغلل. موږ هڅه وکړه هغوی ته ووایو چې دلته طالبان نشته. خو هغوی په ځواب کې زه او زما نیکه د وسلو په کنداغونو ووهلو او پر کورونو یې ډزې وکړې، چې له امله یې زما یو اوه کلن ماشوم ژوبل شو."* [177]

-- په تخار ولایت کې د افغان سیمه ییزو پولیسو د تاوتریخوالي قرباني ، ۳ اګست ۲۰۱۵

په ۲۰۱۵ کال کې ،افغان سیمه ییزو پولیسو د هیواد په لرې پر تو سیمو کې د یوه لومړني مخکښ دفاع کوونکي ځواک په څیر خپل کار ته دوام ورکړی. د ۲۰۱۶ کال د جنوري تر ۱۶ مې نیټې پورې ، د افغان سیمه ییزو پولیسو ټولټال شمیر ۲۸۲۳۱ تنه و چې په ۲۸ ولایتونو کې ۱۷۵ ولسوالۍ تر پوښښ لاندې لري.[178]

په داسې حال کې چې د ۲۰۱۴ کال په پرتله افغان سیمه ییزو پولیسو ته منسوب شوې د ملکي وګړو په مرګ ژوبله کې کموالی راغلی ، یوناما لا اوس هم د دغو ځواکونو له خوا جدي سرغړونې مستند کوي ، چې ناوړه پېښې یې په کندز ، بدخشان ، سرې پل او کندهار ولایتونو کې رامنځ ته کیږي. یوناما د داسې پېښو له امله چې افغان سیمه ییز پولیس په کې ښکېل وو د ۱۳۴ملکي وګړو مرګ ژوبله (۳۵ مړه او ۹۹ ژوبل) مستنده کړې چې د ۲۰۱۴ کال په پرتله نهه سلنه کموالی په ډاګه کوي.

په معمول ډول د بشرى حقونو په سرغړونو کې چې افغان سیمه ییزو پولیسو ته منسوب شوې دي ، سخت وهل ډبول ، د ملکیتونو ویجاړول ، غلاوې ، ګواښونه او ځورونې شاملې دي. یوناما همدارنګه د افغان سیمه ییزو پولیسو د غړو لخوا ترسره شوې هدفي وژنې او د ملکي وګړو نا قانونه توقیف پیښې مستند کړې دي. د ۲۰۱۵ کال په اوږدو کې ، یوناما د ځمکنیو نښتو پر مهال افغان سیمه ییزو پولیسو ته منسوب د ملکي وګړو مرګ ژوپلې مستند کولو ته دوام ورکړی.

افغان سیمه ییزو پولیسو ته په منسوب شوې ملکي مرګ ژوبله کې کموالی ، ښایي تر یوه حده د دغو پولیسو د غړو لپاره د احتساب د زیاتوالي په پایله کې رامنځ ته شوی وي ،[179] او دغه راز ښایي تر یوې اندازې په ساحه کې د سیمه ییزو پولیسو په شمیر کې کمونې هم د دې لامل شوی وي. د ۲۰۱۵ کال په ډسمبر کې له یوناما سره په یوې غونډه کې ، د

---

[177] د یوناما مرکه ، (موقعیت پټ ساتل شوی)

[178] په کابل کې د افغان سیمه ییزو پولیسو د ریاست سره د یوناما ناسته ، ۱۳ جنوري ۲۰۱۶. د افغان سیمه یزو پولیسو پروګرام په بامیانو ،دایکندي ، خوست ،نیمروز ،پنجشیر او سمنګان ولایتونو کې شتون نه لري.

[179] د ۲۰۱۶ د جنوري پر ۱۲ ، د پولیسو چارو له ریاست سره د ناستې پر مهال ، رییس یوناما ته خبر ورکر ، چې دغه ریاست د افغان سیمه ییزو پولیسو ۱۴۸ غړي د عدلي تعقیب په موخه د لوي ځارنوال دفتر ته ور پیژندلي او د هغوي له تورنو څخه یو پر دریمه برخه نیولي. د چارواکو له وینا سره سم ، پاتې نور یې لا تر اوسه یا نه دي پیدا کړي یا د زورواکانو تر حمایت لاندې له معافیت سره فعالیت ترسره کوي.

افغان سیمه ییزو پولیسو ریاست د دې یادونه وکړه چې افغان سیمه ییز پولیس د وژنو ، ژوبلو او ویجاړیو له امله هر میاشت نږدې ۵۰۰ غړي له لاسه ورکوي.[۱۸۰] د مثال په ډول ، دوي وویل چې د هرات ولایت په شینډنډ ولسوالۍ کې له ۳۲۵ تشکیل څخه یوازې ۳۶ سیمه ییز پولیس په ساحه کې ځای پر ځای شوي.[۱۸۱]

لاندې افغان سیمه ییزو پولیسو ته منسوب شوې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې بیلګې دي:

- د اګست پر ۵مه نیټه ، د کندز په علي اباد ولسوالۍ کې د سیمه ییزو پولیسو یوه قوماندان له څلورو نورو سیمه ییزو پولیسو سره یو ځای دوه ملکي وګړي چې په موټر کې یې سفر کاوه ، ودرول. یو یې په ونې پورې وتاړه او دواړه ملکي وګړي یې طالبانو ته د جاسوسي په تور پر خپلو وسلو ووهل. سیمه ییزو پولیسو د ملکي وګړو یو بل موټر چې په مقابل لوري یې سفر کاوه ، ودراوه ، درې ملکي وګړي یې ورڅخه په زور راکښته او د هغوي پر وهلو یې پیل وکړ. د ولسوالۍ یو حکومتي چارواکي چې په لار تیریده ، د مداخلې هڅه وکړه ، خو بریالی نه شو. سیمه ییزو مشرانو له ولایتي چارواکو د دغو کړنو د مرتکبینو د محاکمې غوښتنه وکړه ، چې له امله یې هغوی ته هم د سیمه ییزو پولیسو د قوماندان له خوا تیلفوني ګواښونه وشول. چارواکو د دغې پېښې اړوند نور هیڅ اضافي اقدامات ترسره نه کړل.

- د اګست پر ۱۸مه نیټه ، د لوګر په پل علم ښار کې ، افغان سیمه ییزو پولیسو د دولت ضد عناصرو د یوه برید په ځواب کې یو هاوان وتوغاوه ، چې پر یوه ملکي کور ولګید او له امله یې درې ماشومان ووژل شول او د یوې ښځې او یوې نجلۍ په ګډون ، درې نور ژوبل شول.

### *د افغان سیمه ییزو پولیسو څارنه او حساب ورکونه*

د افغان سیمه ییزو پولیسو ریاست د افغان سیمه ییزو پولیسو د پروګرام د څارنې اصلي میکانیزم دی. د ۲۰۱۵ کال په اوږدو کې یوناما په منظم ډول د افغان سیمه ییزو پولیسو د غړو په وړاندې د کتبي ادعاوو راپورونه له یاد ریاست سره شریک کړي او همدارنګه یې په ولایتي کچه د نوموړي ریاست او د کورنیو چارو د وزارت له چارواکو سره تعقیبي اقدامات څارلي.

یوناما په دې اړه اندېښمنه ده چې د افغان سیمه ییزو پولیسو ریاست ، چې د دغو پولیسو د مسوولیت پیاوړتیا لپاره یې کوټلي ګامونه اخیستي وو ، په ۲۰۱۵ کې ددغه ریاست له بیا تشکیل وروسته د عملي صلاحیت له کمښت سره مخ و.[۱۸۲] د ریاست مشرتابه له یوه خپلواک عمومي ریاست څخه ، چې مشري یې د یوه دوه ستوریز جنرال له خوا کیده ، او هغه به د کورنیو چارو مرستیال وزیر ته په مستقیم ډول راپور ورکاوه ، یوه عادي ریاست ته واوښته ، چې د یو ستوریز جنرال له خوا یې مشري کیږي او د پولیسو چارو ریاست ته راپور ورکوي. د افغان سیمه ییزو پولیسو رییس

[۱۸۰] د افغان سیمه ییزو پولیسو له ریاست سره د یوناما غونډه ، کابل ښار ، ۷ ډسمبر ۲۰۱۵.
[۱۸۱] همدا ماخذ
[۱۸۲] په وسله واله شخړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۵ د نیم کلن راپور ۷۱- ۷۲ مخونه وګورئ.

اوس د ولایتي زیاتره امنیه قوماندانانو سره په یوه رتبه کې دی او له دې امله نه شي کولای چې ولایتي امنیه قوماندانانو ته د سیمه ییزو پولیسو د نیونې یا له هغوی څخه د خیړنو لپاره لازم الاجراء احکام صادر کړي.[۱۸۳]

دغه راز د ریاست د بیا تشکیل په پایله کې د افغان سیمه ییزو پولیسو د ریاست د څارنې او پلټنې د څانګې تشکیل له منځه لاړ ، که څه هم د څارنې او پلټنې د څانګې د نوي تشکیل موافقه د کورنیو چارو په وزارت کې ځنډیدلې.[۱۸٤] او هم یوناما د کورنیو چارو د وزارت په جوړښت کې د افغان سیمه ییزو پولیسو تنظیمونه ملاحظه کوي ، خو د تنظیمونې دغه پروسه باید حساب ورکونه او دغه راز د قوماندې کنترول خوندي او غښتلې کړي.

یوناما همدارنګه ملاحظه کوي ، چې د ولسمشر غني په امر د ۲۰۱۵ کال د جون په میاشت کې د افغان سیمه ییزو پولیسو د پروګرام د بیا کتنې پر مهال ، ۲۲۰۰ داسې سیمه ییز پولیس په ګوته شول چې د سیمه ییزو زورواکانو تر کنترول لاندې وو ،[۱۸۵] خو دا څرګنده نه ده چې دغه حکم په سیمه ییزو پولیسو کې د حساب ورکونې د ترویج په موخه د زیاتو اقدماتو لامل شوی وي او یا یې هم هغوی د منظمو افغان امنیتي ځواکونو په کرښو کې تنظیم کړي وي. یوناما د دې یادونه کوي چې د نوموړي پروګرام بیا کتنې د افغان سیمه ییزو پولیسو د ۶۰۰۰ غړو لپاره د اضافي بنسټیزې روزنې سپارښتنه کړې چې ښایي د ۲۰۱۶ د مارچ تر پایه بشپړه شي.[۱۸٦]

**په پروان ولایت کې د سیمه ییزو پولیسو معافیت**

د جولای په ۵مه نیټه ، د افغان سیمه ییزو پولیسو یوې ډلې د پروان ولایت د سیاه ګرد ولسوالۍ په سورخي بازار کې ، وروسته له هغه یو هټي وال په ډزو وواژه او دوه نور یې سخت ووهل چې په دوو افغان پولیسو د ځای پرځای شویو چاودیدونکو توکو برید وشو. د جولای په ۶مه نیټه ، محلي خلکو د یوه لاریون په ترځ کې د دولت څخه وغوښتل چې د پیښې د څیړلو په موخه د حقیقت موندنې پلاوی جوړ کړي. د لاریون پر مهال ، افغان سیمه ییزو پولیسو چې د امنیت برابرولو دنده یې درلودله په خلکو ډزې وکړې یو ملکي شخص یې وواژه او نور ۶ تنه یې ژوبل کړل. په دواړو پیښو کې ښکیلو افغان سیمه ییز و پولیسو د افغان سیمه ییزو پولیسو یو قومندان ته راپور ورکړ.

د لاریون نه وروسته ، دولت د حقیقت موندنې یو پلاوی را منځ ته کړ- چې په ترکیب کې یې د والي د فتر ، د معارف د ریاست ، د سولې د شورا ، د ملي امنیت د ریاست او افغان ملي پولیسو استازي شامل وو- دغو استازو په سیمه کې د ځايي مشرانو سره لیدلي. که څه هم چې پلاوي کومه عامه بیانیه خپره نه کړه ، خو د یوناما سرچینو د پلاوي د څیړنو پایله داسې راپور کړه چې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د برید نه وروسته ، د یوې ځمکنۍ نښتې پر مهال د طالبانو او افغان سیمه ییزو پولیسو تر منځ ملکي تلفات را منځ ته شوي او پلاوي د یوې پروپاګنډې په توګه د افغان سیمه ییزو پولیسو په وړاندې ادعاوې رد کړې. پلاوي د احتجاج پر مهال د مرګ ژوبلې په اړه هیڅ نه دي ویلي .

[۱۸۳] د افغان سیمه ییزو پولیسو له رییس سره د یوناما ناسته ، کابل ، ۱۷ ډسمبر ۲۰۱۵.
[۱۸٤] د پولیسو چارو له ریاست سره د یوناما ناسته ، کابل ، ۱۲ جنوري ۲۰۱۶.
[۱۸۵] همدا ماخذ ، ۱۴۴ لمن لیک
[۱۸٦] همدا ماخذ.

د ۲۰۱۵ کال په نومبر کې ، د کورنيو چارو وزارت د افغان سيمه ييزو پوليسو قومندان د افغان سيمه ييزو پوليسو د تشکيل او معاشاتو د نوملړ څخه لرې او له دندې ګوښه کړ. د دې راپور تر چمتو کولو پورې ، د يوناما سرچينو راپور ورکړی چې نوموړې په سيمه کې د افغان سيمه ييزو پوليسو د قومندان په حيث دنده ترسره کوله او د ولايت په کچه يې د افغان ملي پوليسو څخه ملاتړ ترلاسه کاوه .

دا ډول پيښې د ملاتړ هغه نارسمي شبکو د له منځه وړلو په ګډون چې د افغان سيمه ييزو پوليسو غړي له حساب ورکونې څخه ژغوري ، د سيمه ييزو پوليسو څخه احتساب او څارنې ته لا نوره اړتيا زياتوي. يوناما د افغانستان پر دولت غږ کوي چې د دغو پيښو په اړه د هر اړخيزو ، خپلواکو ، بې پرې او په وخت څېړنو څخه ډاډ حاصل کړي او مرتکبين يې د قانون منګلو ته وسپاري.

## د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د راکمولو په اړه د يوې ملي پاليسۍ جوړول

په وسله واله شخړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د ۲۰۱۵ کال په خپل نيم کلن راپور کې ، يوناما د ملکي تلفاتو د را کمولو په اړه دولت ته د يوې داسې ملي پاليسۍ د جوړولو وړانديز وکړ چې ټول وزارتونه ،رياستونه او د وسله والو ځواکونو ټول عناصر پکې راونغاړي او نړيواله ټولنه ، په ځانګړې ډول د غوڅ ملاتړ ماموريت په دې برخه کې د افغانستان د دولت ملاتړ وکړي. يوناما د دې ملي پاليسۍ د جوړولو لپاره د وزارتونو تر منځ د يوې کارې ډلې د را منځ ته کولو وړانديز کړی چې په افغان قوانينو کې ځای پر ځای شي ، او د رښتينو او اندازه کولو وړ موخو په درلودلو سره ، د عمل د يوه پلان په واسطه يې له تطبيق څخه ملاتړ وشي.

د ۲۰۱۵ کال د اګست په ۲۶مه نيټه ، د ملي امنيت شورا د يوې ناستې څخه وروسته ، د افغانستان دولت د همداسې يوې پاليسۍ د جوړولو او پلې کولو ژمنه وکړه او د دې ناستې پر مهال ولسمشر غني شورا ته دنده وسپارله څو د ملکي تلفاتو د شمير د را کمولو او د ملکي وګړو[۱۸۷] د ساتنې په اړه د عامه پوهاوي د لوړولو په موخه د کمپاين په لاره اچولو په خاطر يو پلان جوړ کړي . د ملي امنيت شورا د دفتر کارکونکو راپور ورکړی چې دولت قصد درلود چې د ۲۰۱۶ کال تر فبروري مياشتې پورې ملي ستراتيژي نهايي کړي.[۱۸۸]

يوناما د افغانستان د دولت څخه په ټينګار غوښتنه کوي تر څو د دې پاليسۍ د مسودې د جوړولو چارو ، انفاذ او اړوند عمل پلان ته لومړيتوب ورکړي او همدارنګه د نړيوالې ټولنې څخه غوښتنه کوي څو د دې پروسې لپاره لازم ملاتړ برابر کړي. په موجوده راپور کې ځای شوې موندنې هغه اړتيا باندې ټينګار کوي چې د افغانستان دولت بايد د ملکي تلفاتو د راکمولو په موخه خپلې هڅې ګړندی کړي. يوناما په دې اړه د تخنيکي سلا مشورو په برخه کې مرستې ته چمتو ده.

---

[۱۸۷] وګورئ ، http://president.gov.af/en/news/51701 ,

[۱۸۸] د ملي امنيت د شورا د دفتر سره د يوناما ناسته ، کابل ښارر د ۲۰۱۶ کال د جنوری ۱۱. د ملکي مرګ ژوبلې د کارې ډلې لومړې کارې ناسته د ملي امنيت د شورا د دفتر سره د ۲۰۱۵ کال د سپټمبر په ۶ ترسره شوه. د دې غونډې پر مهال ، د ملي امنيت شورا دفتر راپور ورکړ چې ياد دفتر لومړنۍ مسوده بشپړه کړې او اوس د وزارتونو تر منځ تر بيا کتنې لاندې ده. د ملي امنيت شورا دفتر پلان لري څو د ملي پاليسې د تصويب څخه وړاندې د ۲۰۱۶ کال په فبروری کې د بهرنيو شريکبانو سره يوه مشورتي ناسته دايره کړي. د ۲۰۱۶ کال په جنوری کې ، يوناما د ملي امنيت شورا دفتر ته د تصويب شوې پاليسې په اړه تبصرې برابرې کړی دي.

په عین وخت کې ، د دفاع وزارت هم د ملکي تلفاتو د را کمولو په اړه خپله وزارتي پالیسي جوړه کړې ده چې په اوس مهال د سرپرست دفاع وزیر لاسلیک ته انتظار باسي.[۱۸۹]

**افغان دولت ته د ملکي تلفاتو د مخنیوي او را کمولو د بورډ لیږد**

افغان امنیتي ځواکونو ته د ابتدایي امنیتي مسؤلیت د سپارلو په لړۍ کې ، د ۲۰۱۶ کال د جنوري په ۲۶مه نیټه د پرانستنې د یوې ناستې په ترڅ کې ، د ناټو غوڅ ملاتړ ماموریت او افغان دولت د ملکي تلفاتو د مخنیوي او را کمولو بورډ[۱۹۰] له ناټو څخه د افغان حکومت ته ولیږداوه.[۱۹۱]

دافغانانو تر مشرۍ لاندې د ملکي تلفاتو د مخنیوي او راکمولو بورډ به په هرو دریو میاشتو کې ناسته کوي او مشري به یې د دفاع ، کورنیو چارو ، ملي امنیت د ریاست او د محلي ارګانونو د خپلواکې ادارې د استازو په شتون کې د ملي امنیت سلاکار لومړی مرستیال له خوا ترسره کیږي. د بورډ نهایي غړي به د ولسمشر د راتلونکي فرمان په واسطه وټاکل شي او دا به همدارنګه یو داسې ځانګړی ارګان جوړوي چې دنده به لري ترڅو په سیستماتیک ډول د ملکي تلفاتو[۱۹۲] د ادعاوو څیړنه ترسره کړي- دا د یوناما[۱۹۳] له خوا یوه اوږدمهاله غوښتنه وه. یوناما د دغه پرمختګ هرکلی کوي او دولت هڅوي څو داډ حاصل کړي چې د افغانانو تر مشرۍ لاندې د ملکي تلفاتو د مخنیوي او راکمولو بورډ د دولت پلوه ځواکونو له خوا د را منځ ته شویو ملکي تلفاتو د شمیر د راکمولو د یوې وسیلې په توګه وکارول شي.

[۱۸۹] د ناټو د غوڅ ملاتړ د ماموریت د سلا کارانو سره ناسته ، د ۲۰۱۵ کال د نومبر ۲۹. د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموریت سلاکارانو یوناما ته ویلي چې د دفاع وزیر د اکتوبر په ۲۲ خپله نهایي پالیسۍ نهایي کړې ، خو د دې راپور تر چمتو کولو پورې ، د دفاع سرپرست وزیر باید دا پالیسۍ لاسلیک کړي تر څو نافذه شي.

[۱۹۰] د یوناما / او بشري حقونو عالي کمشنرۍ د ۲۰۱۲ کال د ملکي تلفاتو د کلني راپور ۳۹-۳۷ پورې صفحې وګورئ او د یوناما / او بشري حقونو عالي کمشنرۍ د ۲۰۱۲ کال د ملکي تلفاتو د شپږمیاشتنې راپور ۳۷ صفحه په لاندې ادرس وګورئ: http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-report

[۱۹۱] یوناما د ۲۰۱۶ کال د جنوری په ۲۶ نیټه د کابل په ښار کې د یوه کتونکي په حیث په پرانست غونډه کې ګډون کړی.

[۱۹۲] د ملي امنیت شورت د دفتر سره د یوناما ناسته ، د ۲۰۱۶ کال د جنوری ۱۱. د ولسمشر د فرمان تر تصویب وروسته چې د بورډ لپاره د دندو او ضوابطو لایحې برابروري ، د ملي امنیت شورا دفتر راپور ورکړی چې د ۲۰۱۶ کال د جنوری په وروستیو کې به د افغانانو تر رهبري لاندې د ملکي مرګ ژوبلې د مخنیوي او راکمولو د بورډ لومړنۍ ناسته ترسره شي.

[۱۹۳] په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د یوناما او د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر د ۲۰۱۲ کال کلنی راپور وګوري ، پاڼې ۳۹-۳۷.

## ۵. حقوقي چوکاټ

د دغه راپور لپاره کارول شوی حقوقي چوکاټ د بشري حقونو نړیوال قانون ، دبشر پالنې نړیوال قانون ، نړیوال جنايي قانون او د افغانستان په هکله د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لازم الاجراء پرېکړه لیکونه احتواء کوي.[۱۹٤] په تړولو کې په افغانستان کې د وسله والې شخړې پر مهال د ملکي وګړو د ساتنې اړونده ژمنې شاملې دي چې په لاندې ډول تشریح شوې دي.

### د وسله والې شخړې د ښکیلو خواوو حقوقي مسؤلیتونه

د یوناما د دریځ له مخې په افغانستان کې وسله واله شخړه یوه غیر نړیواله وسله واله جګړه ده چې د افغانستان د حکومت او د حکومت د پوځي ځواکونو (افغان ملي امنیتي ځواکونه چې ملاتړ یې د نړیوالو ځواکونو لخوا کیږي او پدې راپور او افغانستان کې "د دولت پلوه ځواکونو" په نوم یادیږي) او د د غیر دولتي وسله والو مخالفو ډلو تر منځ روانه ده (چې په دې راپور او افغانستان کې "د دولت ضد عناصرو" په نوم یادیږي). *د دولت پلوه او دولت ضد عناصرو د تعریف لپاره اصطلاحات وګورئ.*

د وسله والې شخړې ټولې ښکیلې خواوې- افغان وسله وال ځواکونه ، نړیوال نظامي ځواکونه او غیر دولتي وسله والې ډلې- د نړیوال قانون لاندې د ملکي وګړو د ساتنې په موخه روښانه مکلفیتونه لري.

په ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پریکړه لیک کې ،د امنیت شورا په ډاګه کړې چې دا د ټولو هیوادونو لپاره اړینه ده‌تر څو د ښځو او نجونو اړونده د نړیوالو بشر دوستانه او بشری حقونو د قانون نورمونه په بشپړ ډول تطبیق کړي ، او د پوځې شخړې پر مهال د جنډر پر اساس د تاوتریخوالي څخه د هغوی د ساتلو په موخه ځانګړي اقدامات ترسره کړي.[۱۹٥]

### (i) د بشر پالنې د نړیوال قانون لاندې مکلفیتونه

افغانستان د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د ۴ کنوانسیونونو او د ۱۹۷۷ [۱۹٦]دوهم اضافي پروتوکول کوم چې په غیر نړیواله وسله واله شخړه کې د ملکي وګړو ساتنې ته ځواب وایي ، غړی دی او د ملکي کسانو هغو شیانو په وړاندې کوم چې د ملکي وګړو د ژغورنې لپاره حتمي وي د بریدونو مخنیوي کوي.

د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د ۴ کنواسیونونو ګډه ۳ مه ماده د دولتي او غیر دولتي فعالینو په شمول د شخړې د ښکیلو خواوو لپاره حداقل معیارونه را منځ ته کړي ، چې په غیر نړیواله وسله واله شخړه کې مراعات شي. ګډه ۳ مه ماده په

[۱۹٤] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۲۱۰(۲۰۱۵) پرېکړه لیک په افغانستان کې په وسله واله نښته کې د ټولو ډلو ژمنې څرګندوی څو د نړیوال قانون په شمول د نړیوال بشر دوستانه قانون او د بشري حقونو د قانون سره د ملکي ساتنې څخه د ډاډ حاصلولو په خاطر د ټولو مناسبو تدبیرونو د ترسره کولو لپاره اجابت وکړی.

[۱۹٥] R/RES/1325(2000) , SEE ALSO S/RES/1820(2008),S/1888(2009)S/RES/1889 (2009) AND S/RES/1960(2010)

[۱۹٦] افغانستان د ۲۰۰۹ کال د نومبر په ۱۰ ، د ۱۹۷۷ کال دوهم الحاقیه پروتوکول لاسلیک کړی. دا پروتوکول د ۲۰۰۹ کال د ډسمبر په ۲۴ نافذ شو.

ښکاره توګه په هر وخت او هر ځای کې قتل[۱۹۷] ، تاوتریخوالی ،غیر قانوني اعدامونه ،شکنجه ،د اندامونو پرېکول او د تاوتریخوالي نور ډولونه[۱۹۸] منع کوي .

د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د ۴ کنوانسیونونو او یو شمیر نورو ورته قواعدو محتویات چې د هغوی په اضافي پرتوکولونو کې موندل کیږي ، په زیاته پیمانه د نړیوال عرفي قانون برخه جوړوي.[۱۹۹] د ټولو اړوندو اصولو له ډلې څخه چې د افغانستان د غیر نړیوالې وسله والې شخړې د ټولو ښکیلو خواوو پر چلند د پلي کیدو وړ دي ، په لاندې ډول دي:

- توپیر یا تمیز: ملکي وګړي او همدارنګه انفرادي ملکي کسان نه باید د برید هدف وي.[۲۰۰]
- تناسب: "هر هغه برید منع دی ، چې ښايي د ملکي وګړو د مرګ ، ژوبلې ، د ملکي شیانو د زیان یا د دغو دواړو د داسې زیان لامل شي ، چې له هغې حقیقي او مخامخ نظامي بریا څخه یې اندازه زیاته وي ، د کومې چې تمه کیدای شي.[۲۰۱]
- په بریدونو کې احتیاط: "... ملکي کسان باید د پوځي عملیاتو[۲۰۲] څخه د را ولاړو شویو خطرونو په وړاندې د ټولیز خوندیتوب څخه برخمن وي. د نظامي عملیاتو د ترسره کولو په برخه کې ،باید د ملکي وګړو ،ملکیانو او ملکي شیانو" تر منځ د توپیر په موخه پرله پسې پاملرنه وشي"او باید ټول اړین احتیاطي تدبیرونه چې موخه يې په هر ډول پیښه کې د ملکي کسانو د ژوند ، د ملکي کسانو د ټپي کیدو او د ملکي کسانو د شیانو د ضمني زیان څخه مخنیوی او کمول وي ، ونیول شي[۲۰۳] .
- په افغانستان کې نړیوالو پوځي ځواکونو ته د سرتیرو ورکونکي ټول هیوادونه د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د ۴ کنوانسیونونو لاسلیک کوونکي دي. په داسې حال کې چې د سرتیرو ورکونکي ټول هیوادونه د ۱۹۷۷ کال د اضافي دوهم پرتوکول لاسلیک کوونکي نه دی ، دا هیوادونه د بشر پالنې د نړیوال عنعنوي قانون د اړوندو مقرراتو په اساس چې د غیر نړیوالې وسله والې شخړې باندې د پلي کیدو وړ دي په رعایت کولو لا هم مکلف دي.

---

[۱۹۷] د قتل د جنګي جرم په هکله ، لکه څنګه چې د نړیوالې جنایي محکمې د روم د موضوعه قانون لخوا تعریف شوي ، یوناما د ملکي کسانو د عمدي وژنو اصطلاح چې هدفي وژنې په کې شاملې دي کاروي ، د دې لپاره چې یو ادعا شوي عمل چې ښایې د قتل جنګي جرم ته لار هواره کړی تشریح کړی ، د دې په خاطر چې د وسله والی شخړې د زمینې څخه د باندې د یوه شخصي فعال لخوا د داسې عملونو توپیر د قتل د جنګي جرم څخه وشي. داسې اصطلاح ګانې لکه ، هدفي وژنې ،غیر قانوني وژنې او په خپل سر وژنې کله نا کله په افغانستان کې د غیر نړیوالې وسله والې شخړې په زمینه کې د ملکي کسانو د عمدي وژنو د څرګندولو لپاره کارول کیږي. هدفي وژنې تر ملکي کسانو پورې محدودی نه دي او کیدای شي یو جنګیالی د هدفي وژنې موخه وګرځول شي.

[۱۹۸] د ۱۹۴۹ کال د اګست د ۱۲ می د ژنیو د کنوانسیونونو دریمه عمومي ماده د غیر نړیوال ماهیت د شخړو پر مهال د تطبیق وړ دی. د پوځې شخړې په صورت کې چې نړیوال خصوصیات و نه لري او د کنوانسیونونو د لوړ پوړو ډلو په قلمرو کې واقع کیږي ، د شخړې هر طرف باید د لاندې مقرراتو په پلي کولو مکلف وي(۱) هغه کسان ، د وسله والو ځواکونو په شمول چې وسلې یې په ځمکه ایښیي او یا هغه کسان چې ناروغ ،ټپی او توقیف شوي وي ، د هر ډول نورو شرایطو په پام کې نیولو پرته لکه نژاد ،رنګ ، مذهب ، عقیدې ، جنسیت ،زیږون یا شتمنې چې په شخړو کې فعاله ونډه نه اخلی د هغوي سره په ټولو حالتونو کې انساني چلند وشي. په دې معنی ، ټول عملونه منع دي او د پورته یادو شویو کسانو په حواله هر وخت او هر ځای ممنوع دی: (الف) د ژوند او شخص په وړاندې خشونت ، په ځانګړی توګه د ټولو ډولونو قتل لکه د اندامونو پرېکول ، بی رحمه سلوک او شکنجه ،(ب) یرغمل ، (ج) په شخصي وقار باندې تیری ،په ځانګړې توګه تحقیرونکی او ناوړه سلوک ،(د)، د حکمونو صادرول او د منظمې تشکیل شوي محکمې لخوا د مخکنې قضاوت د حکم پرته د اعدامونو ترسره کول ، د ټولو قضایي ضمانتونو د عهدې نه وتل کوم چې د متمدینو خلکو لخوا د لازم الاجرا په حیث پیژندل شوي.

[۱۹۹] ا ـ ي سي ا ـ ر سي وګورئ ، د بشر پالنې نړیوال عنعوي قانون ، (ed. Jean-Marie Henckaerts and Louise Doswald-Beck (CU P/ICRC, Cambridge 2005 .{{ICRC Study

[۲۰۰] اضافي دوهم پروتوکول ، ۱۳(۲) ماده

[۲۰۱] ا ـ ي سي ا ـ ر سي وګورئ ، د بشر پالنې نړیوال عنعوي قانون ، لومړئ ټوک ، Rules ed. Jean-Marie Henckaerts and Louise Doswald-Beck (CU P/ICRC, Cambridge 2005

[۲۰۲] دوهم اضافي پروتوکول ، ۱۳(۱) ماده

[۲۰۳] د بشري حقونو د نړیوال عنعنوي قانون (ڤپه هګله د ا ـ ی ا ـ ر سي څیړنه ، له ۱۵ نه تر ۲۱ قاعدې پورې

### (ii) د بشري حقونو د نړیوال قانون لاندې مکلفیتونه

نړیوال بشري قانون په سوله او د وسله والې شخړې پر مهال ، د بشر پالنې د نړیوال قانون سره یو ځای په متمم او حمایوي ډول د پلې کیدو وړ دي.

افغانستان د[۲۰۴] ، د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق په ګډون د بشري حقونو یو لړ نړیوالې معاهدې لاسلیک کړي دي چې حکومت اړ باسيتر څو د خپل قلمرو په دننه او یا د دولت د صلاحیت لاندې سیمو کې د ټولو کسانو د اساسي بشري حقونو خوندیتوب برابر کړي.

د وسله والو ډلو په ګډون ، نا دولتي فعالین چې نه شي کولای د بشري حقونو د نړیوالو میثاقونو سره یو ځای شي ، لکه طالبان[۲۰۵] د نړیوالو بشري حقونو مکلفیتونو ته په زیاته کچه مسوول دي په ځانګړې ډول په ځینو هغو سیمو کې چې عملا ً ددوی تر ولکې لاندې دي.

د بشری حقونو د نړیوال قانون لاندې ،هیوادونه باید د خپلو استازیو په ځانګړي ډول د هغوی چې د قانون په تطبیق کې ښکیل دي[۲۰۶] ، له طریقه د وژونکې قوې کارول وڅیړي. دا دنده د نه رعایتولو د مسوولیت سره یو ځای د ژوند د حق د ساتنې[۲۰۷] د مکلفیت څخه سرچینه اخلي . د دې لپاره چې د دولت څیړنې اغیزمنې وي ، څیړنې باید تر ممکنه حده چټکې ،جامع ، بی طرفه ، خپلواکې[۲۰۸] وي او د عامه پلټنې لپاره پرانیستې وي.[۲۰۹] د څیړنو په موخه د دولت

---

[۲۰۴] افغانستان د بشری حقونو لاندني میثاقونه او کنوانسیونونه لاسلیک کړی دی: د مدني او سیاسي حقونو په هکله نړیوال میثاق چې د ۱۹۸۳ کال د اپریل په ۲۴ مه تصویب شو ، د اقتصادي ، ټولنېزو او کلتوري حقونو په هکله نړیوال میثاق چې د ۱۹۸۳ کال د اپریل په ۲۴ مه تصویب شو ، د نژادي تبعیض د ټولو بڼو د مخنیوي په هکله نړیوال میثاق چې د ۱۹۸۳ کال د اګستې په ۵ مه تصویب شو ، د ښځو په وړاندې د توپیر د ټولو بڼو د مخنیوي په هکله میثاق چې د ۱۹۸۳ کال د مارچ په ۵ مه تصویب شو ، د شکنجې او نورو بی رحمانه ، غیر انساني ، ناوړه سلوک او سزا په وړاندې کنوانسیون چې د ۱۹۸۷ کال د جون په ۲۶ مه تصویب شو ، د ماشوم د حقونو په هکله کنوانسیون چې د ۱۹۹۴ د اپریل په ۲۷ مه تصویب شو ، د ماشومانو د سوداګری ،د ماشومانو فاحشه ګری او د ماشومانو د هزره نګاری په هکله د ماشومانو د حقونو د کنوانسیون اختیاري پروتوکول چې د ۲۰۰۲ کال د اکتوبر په ۱۹ تصویب شو ،په وسله واله شخړه کې د ماشومانو د ښکیلتیا په هکله د ماشوم د حقونو په اړه د کنوانسیون اختیاري پروتوکول چې د ۲۰۰۳ کال د سپتمبر په ۲۴تصویب شو او د معیوبو کسانو د حقونو په هکله کنوانسیون ، د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۱۸ د لاسرسي وړ ، مراجعه وکړې .http://www.aihrc.org.af/English/Eng_pages/X_pages/conventions_af_z_party.html.

[۲۰۵] د ملګرو ملتونو د عمومي منشي راپور ته مراجعه وکړئ ، په سریلانکا کې د حساب ورکونې په هکله د عمومي منشي د کارپوهانو د هیت راپور ، د ۲۰۱۱ کال د مارچ ۳۱، ۱۸۸ پراګراف. همدارنګه د لیبیا په عربی جمهوریت کې د نړیوال بشری حقونو د ټولو ادعا شویو سرغړونو د څیړنې د تحقیقاتو د نړیوال کمیسیون راپور ته مراجعه وکړئ- A/HRC/17/44, 1 June 2011؛ ، د سوریې په عربی جمهوریت کې د بشری حقونو د وضعیت په اړه د تحقیقاتو د نړیوال کمیسیون راپور- A/HRC/19/69, para. 106؛ د جنوبي سودان په جمهوریت کې د ملګرو ملتونو ماموریت ،په جنوبي سودان کې شخړه: د بشری حقونو راپور ، ۲۰۱۴ کال د می ۸ ، ۱۸ پراګراف.

[۲۰۶] د غیر قانوني ، په خپل سر او نا قانونه اعدامونو د څیړنې او موثره مخنیوي په هکله د ملګرو ملتونو د اصولو ۹، ۱۰ او ۱۷ پراګرافونو ته مراجعه وکړئ چې د اقتصادي او ټولنېزې شورا د ۱۹۸۹/۶۵پریکړه لیک په واسطه د ۱۹۸۹ کال د می په ۲۴ تصویب شو ،د غیری نړیوالې وسله والې شخړې په هکله د ملګرو ملتونو د امنیت شورا او د عمومي اسامبلې پرېکړه لیکونو ته هم مراجعه وکړئ چې د ټولو خواوو څخه د بشری حقونو د نړیوال قانون د درناوي غوښتنه کوي.

[۲۰۷] د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمیشنری ، عمومي تبصره ۳۱(۲۰۰۴)، § 15 ، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمیشنری ، عمومي تبصره ۶(۱۹۸۲)§ ۴ ; ECtHR, McCann case, § 169;

ECtHR, Kaya case, § 86; ECtHR, Ergi v. Turkey, Application No. 23818/94, Judgment of 28 July 1998, §§ 82, 86; ECtHR, Isayeva v. Russia, Application No. 57950/00, Judgment of 24 February 2005, §§ 208-9, 224-5; IACiHR, Abella (La Tablada) case, § 244; IACiHR, Alejandre case, § 47; ACiHPR, Civil Liberties case, § 22.

[۲۰۸] IACiHR, Abella (La Tablada) case, § 412; ECtHR, Özkan case, § 184; ECtHR, Orhan v. Turkey, Application No. 25656/94, Judgment of 18 June 2002, § 335; ECtHR, Isayeva et al. case, § 210-11; ECtHR, McCann case.

[209] ECtHR, Hugh Jordan v. the United Kingdom, Application No. 24746/94, Judgment of 4 May 2001, § 109; ECtHR, Özkan case, § 187; ECtHR, Isayeva et al. case § 213; ECtHR, Isayeva case, § 214 د نړیوالو بشری حقونو د جدي سرغړونو او د نړیوال بشر دوستانه قانون د جدې سرغړونو د قربانیانو لپاره د جبران او تاوان د حق په اړه اساسي اصولو او لارښودونو ته مراجعه وکړې.

صلاحیت د قانون د اجراء په ټولو زمینو کې د هغو زمینو په شمول چې د وسله والو شخړو[۲۱۰] پر مهال را ولاړیږي ، د پلې کیدو وړ دي.

### (iii) د نړیوال جزایي قانون لاندې مسوولیتونه

افغانستان اساسي مسوولیت لري چې د خپل قلمرو په دننه کې نړیوال جرمونه لکه جنګي جنایتونه ، د بشریت ضد جرمونه او ټولوژنې وڅیړي او مرتکبین یې تر عدلي تعقیب لاندې ونیسي.. څرنګه چې په ۲۰۰۳ کال کې افغانستان د نړیوالې جنايي محکمې د روم د اساسنامې غړیتوب تر لاسه کړ ، که چیرې افغانستان نه شي کولای او یا نه غواړي خپل صلاحیت وکاروي ،نړیواله جنايي محمکه کولای شي پر افغانستان خپل صلاحیت وکاروي.

هغه هیوادونه چې ځواکونه یې د نړیوالو نظامي ځواکونو په ډله کې په افغانستان کې د شخړې اړخ دي هم د ادعا شویو جرمونو د څیړنې او تعقیب مسوولیت لري او ښایې دا جرمونه په افغانستان کې د هغوی د اتباعو لخوا[۲۱۱] ترسره شوي وي.

هیوادونه همدارنګه د نړیوالې جنايي محکمې د اساسنامې د ۸ (۲)(i)(e) مادې د سرغړونو د څیړنو او تعقیب مسوولیت لري ، دا ماده د ملکي وګړو په وړاندې عمدي بریدونو تصریح کوي ، د بیلګې په توګه د هغو انفرادي ملکي کسانو په وړاندې چې په جګړه کې په مستقیم ډول برخه نه اخلی ،په نانړیواله وسله واله شخړه کې جنګي جنایت تشکیلوي.

### (iv) د ملکي (ملکي وګړو) تعریف

د جګړو د چلند او سلوک په تړاو ،یوناما یو ځل بیا یادونه کوي چې د نړیوال قانون په رڼا کې ملکیان(ملکي وګړي) هغه افراد دي چې د نظامي/نیمه نظامي ځواکونو یا د شخړې د یوې خوا په منظمو وسله والو ډلو کې چې په جګړه کې مستقیمه ونډه اخلي ، غړیتوب و نه لري. کیدای شي ملکي وګړي تر هغه وخته چې په مستقیم ډول په جګړه کې ونډه لري ، د بریدونو په وړاندې خپل خوندیتوب له لاسه ورکړي[۲۱۲].

هغه جنګیالي چې(ټپي ، ناروغ او د سمندر ځخه ژغورل شوي ، توقیف شوي او تسلیم شوي وي) او یا د نظامي ځواکونو روغتیایي او مذهبي کارکوونکی وي باید د بریدونو په وړاندې خوندي شي.

---

[۲۱۰] سی دروګ ته مراجعه وکړی ،د دښمنیو د ترسره کولو څخه د قانون د انفاذ توپیر پی ۶۳-۵۷ د کارپوهانو غونډه ، د کیمیاوي اجنټانو بی واکه کول ، د قانون انفاذ ، بشری حقونه او د پالیسی لرلیدونه Montreux, Switzerland 24-26 April 2012 at -
http://www.icrc.org/eng/assets/files/publications/icrc-002-4121.pdf; Nils Melzer,
د دښمنیو د ترسره کولو او د قانون د انفاذ تر منځ تداخل او مفکوره یې توپیر ، د پوځي عملیاتو د نړیوال قانون کتاب ګوتی(اکسفورډ: د اکسفورډ د پوهنتون مطبعه ، ۲۰۱۰)، ), pp. 43-44.Nils Milzer, په جګړه کې د بی پیلوته روباټونو او ډرونوو د کارولو د بشری حقونو دلالت ، د اتحادیی د بهرنیو پالیسې ګانو لپاره عمومي رییس ، د پالیسی ریاست ، (۲۰۱۳)at

[۲۱۱] پرته له دې چې هیوادونه د ای سی سی د موضوعه قانون غړیتوب ولري ، هغوي ټول د عنعنوي قانون لاندی مکلف دی تر څو د بشری حقونو او نړیوال بشر دوستانه قانون جدې سرغړونې کله چې دوي په افغانستان کې عملیات ترسره کوي ،وڅیړي.

[۲۱۲] نړیوال عنعنوي بشردوستانه قانون په لاندې پته د لاسرسي وړ ده: https://www.icrc.org/customary-ihl/eng/docs/v1_rul_rule6

نړیوال بشر دوستانه قانون د شخړې د ښکیلو خواوو څخه غوښتنه کوي څو د نظامي عملیاتو د ترسره کولو پر مهال د ملکي وګړو او جنګیالیو او یا هغو کسانو چې په جګړه کې مستقیمه ونډه لري ، هرو مرو توپیر وکړي.

هغه کسان چې په جګړه کې ونډه نلري او یا نو نور نشي کولی ونډه واخلي باید خوندي شي او په وړاندې یې بریدونه ترسره نه شي[۲۱۳].

په دې راپور کې د خلکو د هغو کتګوري ګانو په وړاندې بریدونه ثبت شوي دي چې عادي فعالیتونه یې په جګړه کې مستقیم ګډون نه ګڼل کیږي ، لکه عامه ملکي او حکومتي کارکوونکي ، ښوونکي ، د روغتیایي کلینیکونو کارکونکي ، د ټولټاکنو کارکوونکي او عامه خدمتونو په رسولو کې نور ښکیل کسان ، سیاسی څیرې، دفتري کسان ، د نا دولتی ادارو کارکوونکي ، او همدارنګه ملکي پولیس چې په مستقیم ډول په جګړه کې او یا د یاغیانو پر ضد مبارزه کې ښکیل نه وي.

یوناما یادونه کوي چې په افغانستان کې د جګړې نور فعالین او ښکیلې خواوي د دې اصطلاح په هکله خپل تعریفونه لري لکه څنګه چې په دې راپور کې تشریح شوي.[۲۱۴]

[۲۱۳] په غیر نړیواله وسله واله شخړه کې ، تنظیم شوي وسله وال ګروپونه د شخړې د نا دولتي اړخ وسله وال ځواکونه تشکیلوي ، او په ترکیب کې یې یواځې هغه انفرادي کسان وي څوک چې غواړي په مستقیم ډول په دوامداره توګه په دښمنیو کې برخه واخلي(دوامداره جګړه ییزه دنده). هغه څوک چې "دوامداره جګړه ییزه دنده" نه لري هغو ته هم باید د ملکي کسانو په حیث وکتل شي لدر ته مراجعه وکړی ، ا ـ ي سي ا ـ ر سي ، د نړیوال بشر دوستانه قانون لاندي په دښمنیو کې د مستقیمې برخې اخیستنې د تصور په اړه تفسیرې لارښود ، اي سي ا ـ ر سي ، جنیوا ، ۲۰۰۹.

[۲۱۴] د "ملکي"تعریف ته چې د طالبانو لخوا دمخه په دې راپور کې کارول شوی مراجعه وکړئ.

## ٦. اصطلاحات[۲۱۵]

**AAF: افغان هوايي ځواک.**

**هوايي برید یا هوايي ګوزار:** له الوتکې څخه ویشتونکي مهمات چې په هغو کې نږدې هوايي ملاتړ (د الوتکې له خوا برید) او نږدې جنګي برید چې د چورلکې په مرسته ترسره کیږي ، همدارنګه په هوايي بریدونو کې هغه هوايي بریدونه هم شامل دي چې بې پیلوټه جنګي الوتکه یا ډرون یې تر سره کوي.

**ABP:** افغان سرحدي پولیس ، همدارنګه (د افغان ملي سرحدي پولیسو) په نوم هم یادیږي.

**تښتونه یا اختطاف:** یوناما اختطاف یا تښتونه د یوې داسې پیښې په توګه تعریفوي چې د جګړې یوه ښکیله خوا یو ملکي یا ملکي وګړي په زور سره د هغوی د خوښې پرته ، ددې لپاره ونیسي او یا یې وساتي چې خپله هغوی او یا دریمه ډله د یو مشخص عمل کولو یا نه کولو ته اړ کړي او دا د نیول شوي کس یا کسانو د خوشي کولو لپاره ښکاره یا ضمني شرط وګڼل شي. په یو شمیر زیاتو مواردو کې ، په دغو کې همدارنګه هغه تښتونې چې موخه یې د شخص یا اشخاصو وژل وي شاملې دي. دا اصطلاح همدارنګه هغه جنايي تښتونې هم را نغاړي چې د شخړې د ښکیلې ډلې یا په جګړه کې د ښکیل شخص لخوا ترسره کیږي.

**ALP:** افغان سیمه ییز پولیس

ANA: افغان ملي اردو

**ANP :** افغان ملي پولیس

ANCOP: د عامه نظم افغان ملي پولیس

**ANSF :** افغان ملي امنیتي ځواکونه ، یوه ټولیزه اصطلاح ده ، چې افغان سرحدي پولیس ، ملي اردو ، ملي پولیس او د ملي امنیت اداره په کې شاملیږي.

**دولت ضد عناصر:** په دې ډله کې ټول هغه اشخاص او ډلې راځي چې اوس مهال د افغانستان د دولت او نړیوالو نظامي ځواکونو پر ضد په وسله واله جګړه او یا وسله وال اپوزیسیون کې ښکیل دي. هغه وګړي چې د طالبانو په نامه پیژندل شوي او هغه اشخاص او بیلا بیلې نادولتي منظمې وسله والې ډلې چې په جګړه کې فعاله برخه اخلي ، او تر مختلفو نومونو لاندې لکه د حقاني شبکه ، حزب اسلامي ، د ازبکستان اسلامي حرکت ، د اسلامي جهاد اتحاد ، لشکر طیبه او جیش محمد او هغه نورې ډلې چې ځانونه د داعش او نورو ملیشو او وسله والو ډلو چې سیاسي ، ایدیالوژیکي او اقتصادي اهداف تعقیبوي یا نورې جنايي ډلې چې په جګړه کې د یوې ښکېلې ډلې خوا په استازیتوب مستقیم ګډون کوي ، په دغو عناصرو کې راځي .

[۲۱۵] په دې اصطلاح کې ځای شوي تعریفونه یواځې د دې راپور د موخو لپاره دي.

**وسله والې ډلې :** نا دولتي منظمې وسله والې ډلې چې په شخړو کې ښکېلې وي او په څرګند ډول د دولت څخه بېلې وي چې د جوړښت پر اساس د مليشو څخه واخله تر ياغي جنايي مجريمينوډلو پورې رسيږي. دغه وسله والې ډلې د افغانستان د قوانينو په رڼا کې هيڅ حقوقي مشروعيت نه لري. وسله والې ډلې د هيوادونو ، د هيوادونو د ايتلافونو يا د دولتونو تر منځ د سازمانونو د رسمي پوځې چوکاټونو په دننه کې نه دي او د هيواد(هيوادونو) تر کنترول لاندې په کومو کې چې دوي فعاليت کوي ،نه دي شاملې. که څه هم په ځينو حالاتو کې وسله والې ډلې کيدای شي د کوربه هيواد څخه مستيقيم يا غير مستقيم ملاتړ ترلاسه کوي. دغه تعريف عبارت له لاندې ډلو څخه دي خو يوازې تر دوي پورې محدودې نه دي: مخالفې ياغي ډلې ، سيمه ييزې مليشي (چې په کې توکميزې ، قومي يا په بل اساس) ، ياغيان ، ترهګر ، ګوريلا او نور مدني دفاعي ځواکونه او نيمه نظامي ډلې (چې په څرګند ډول د دولت په ولکه کې نه وي[۲۱٦] . ځينې وسله والې ډلې په داسې يوه طريقه باندې چې د حکومت سره په عمومې توګه همغاړې دي ، که څه هم چې د هغوي تر کنترول لاندې نه دي او موږ ته د دولت پلوه وسله والو ډلو په حيث راجع کيږي ، فعاليت کوي.

يوناما "دولت ضد عناصرو" ته چې په دې راپور کې تشريح شوي د نا دولتي وسله والو ډلو په حيث ګوري ، خو د دولت په وړاندې د هغوي د وسله وال مخالفت پر اساس د هغوي توپير کيږي.

**AXO** (Abandoned Explosive Ordnance): پرېښودل شوي چاوديدونکي توکي ، هغو چاوديدونکو توکو ته ويل کيږي چې د وسله والو جګړو په جريان کې کارول شوي نه وي او د يوې ښکيلې ډلې له خوا په ساحه کې پرېښودل شوي وي په داسې حال کې چې دغه توکي د دې ډلې له کنټرول څخه بهر وي. دغه پرېښودل شوي چاوديدونکي توکي کيدای شي فعال فيوز ولري او د چاودلو لپاره اماده وي. (د مشخصو او متعارفو وسلو په اړه کنوانسيون ، ۵م پروتوکول).

**ملکي تلفات:** وژل شوي او ټپي شوي ملکي وګړي

يوناما هغه ملکي تلفات چې د جګړې سره د تړلي تاوتريخوالي په نتيجه کې را منځ ته کيږي ، مستندوي: د ملکي کسانو مرګ ژوبله چې په مستقيم ډول د وسله والې شخړې له امله را منځ ته کيږي- د هغو مرګ ژوبلو په شمول چې د افغان امنيتي ځواکونو او/يا نړيوالو نظامي ځواکونو د عملياتو په نتيجه کې را منځ ته کيږي ، د بيلکې په توګه ، د ځواک د ساتنې پيښې ،هوايي بريدونه ، د تلاشۍ او ضبطولو عمليات ، د ياغيتوب په وړاندې د مبارزې هڅې يا د ترهګرۍ په وړاندې عملياتونه. په دې کې هغه تلفات شامل دي چې د نا دولتي وسله والو ډلو د فعاليتونو په نتيجه کې را منځ ته کيږي ، د بيلکې په توګه ، هدفي وژنې(ترور) ،عمدي وژنې ، تعبيه شوي چاوديدونکي توکي يا د حکومت پلوه ځواکونو سره په جګړو کې مستقيمه ښکيلتيا. په دې کې همدارنګه د ملکي وګړو هغه وژنې او ژوبلې چې د شخړې سره د تړلي تاوتريخوالي له امله را منځ ته کيږی ، د بيلکې په توګه ، د جګړې څخه پاته شوني چاوديدونکي توکي ، د څرګندو پيښيدونکو طبي حالتونو څخه را منځ ته شوي وژنې چې د پوځې عملياتو پر مهال را منځ ته شوي يا د طبي پاملرنې د نه شتون او ردونې له امله را منځ ته شوي ،شاملې دي.

[۲۱٦] له وسله والو ډلو سره د ملګرو ملتونو د بشر پالنې خبرې اترې: د فعالينو لپاره لارښود ، جيراډ مک هو او مانول بيسلر ، د بشر پالنې د چارو د همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو دفتر ، نيويارک ،جنوری ، ۲۰۰۶. د وسله والو ډلو د خصوصياتو لپاره ۲.۳ برخه وګورئ.

**ماشومان:** د ماشوم د حقونو د کنوانسیون له مخې ماشوم د داسې یوه شخص په حیث تعریف شوی چې عمر یې له ۱۸ کلونو څخه کم وي (۱۷ کلن ماشوم). د دې تر څنګ د نړیوالې جنایي محکمې د روم اساسنامې له مخې چې د افغانستان دولت هم په ۲۰۰۳ کې تصویب کړې ، د ۱۵ کلونو څخه کم عمر ماشومان په دولتي عسکري لیکو کې او یا غیر دولتي ډلو کې شاملول او ګمارل ، چې په فعال ډول په جنګ کې برخه واخلي جنګي جرم ګڼل کیږي (د ۸ مادې (۲) (ب) ( xxvi ) او ۸ (۲)(e) (vii) (وګورئ.)

**ملکیان:** د توپیر د اصل د موخو پر بنسټ د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې "ملکي وګړي" هغه افراد دي چې د نظامي/نیمه نظامي ځواکونو غړي نه وي یا په جنګ کې د یوې خوا په منظمو وسله والو ډلو کې غړیتوب و نه لري او هم (د یوه پراخ یاغیتوب) برخه و نه اوسي. ملکي وګړي په هغه صورت کې د بریدونو په وړاندې د خوندیتوب تضمین له لاسه ورکوي کله چې دوي په نښتو کې نیغ په نیغه برخه واخلي.

Hors de Combat یا خوندي شوي پرسونل: د ملکي وګړو په څېر د جګړې څخه لویدلی کس (ژوبل شوی ، ناروغ ، د ویجاړې شوې کښتۍ عمله ، توقیف شوي یا او هم تسلیم شوي) یا هغه څوک چې د وسله والو ځواکونو په طبي یا مذهبي پرسونل پورې اړه ولري ، دوي هم د برید څخه د خوندیتوب حق لري.

**COM-RS:** په افغانستان کې د ناتو تر رهبرۍ لاندې د پریکنده ملاتړ د ماموریت او د نورو امریکایې ځواکونو قوماندان.

**د EOF پیښې (د عکس العمل ښودلو پیښې):** چې "د ځواک د ساتنې پیښې" ورته هم وایي. په دې کې داسې حالات شامل دي چې کله ملکي وګړي نظامي قطارونو ته د نږدې کیدو یا له هغو څخه د مخکې کېدو په وخت کې د نظامي پرسونل اخطارونو ته پاملرنه و نه کړي او یا د تلاشۍ په پوستو کې لارښوونو ته توجه و نه کړي او تر برید لاندې راشي.

ایساف یې بیا داسې تعریفوي: دا یو دفاعي حالت دی چې له وړاندې تهدید په ګوته کوي او تهدید سره سم د ځواکونو د خوندي ساتنې په موخه دفاعي غبرګون ترسره کیږي[۲۱۷].

**ERW:** له جګړې څخه چاودیدونکې پاتې شوني چې ناچاودي توکي ،او پرېښودل شوي چاودېدونکي توکي هم یادیږي.

**چاودیدونکې وسلې:** چاودېدونکې وسلې د نړیوال قانون له مخې په وضاحت سره نه دي تعریف شوي. چاودېدونکې وسلې په عمومي صورت د یو جعبې/ لولې څخه جوړې دي چې د لوړې کچې د چاودېدونکو موادو څخه ډکې وي چې ویجاړونکې اغیزې یې په عمومي توګه د چاودنې د موج له لارې او هغو ټوټو څخه را ولاړیږي چې د انفجار وروسته تولیدیږي. هاوانونه ، د توپ ګولۍ ،د الوتکو بمونه ، راکټونه او د میزایلو جنګي سرګولولې ، او ډیرې ځای پر ځای شوي چاودېدونکي توکي د دغې اصطلاح لاندې راځي. ځینې مشخصې چاودېدونکې وسلې کېدلای شي چې د **سپکو وسلو** په کټګورۍ کې ( د بیلګې په توګه ، د لاسي بمونو ګوزارونکې لانچرې چې د ټوپک د میل لاندې نصب کیږی او د اوږی د پاسه ګوزارونکی لانچری ، د ټانک ضد میزایلونو وارونکي لاسي لانچرې او د راکټونو سیستمونه ، د الوتکو ضد د میزایلو

[۲۱۷] د ایساف په مرکزي دفتر کې د چارواکو سر د یوناما مرکه ،د جنوری ۳۱ ، ۲۰۱۴ ، کابل.

لاسي سیستمونه ؛ او د ۱۰۰ ملی مترو څخه کم لوله ییز هاوانونه) راځي. ډیری چاودېدونکې وسلې ، لکه د الوتکو بمونه ، د راکټونو سیستمونه ، د توپ ګولۍ او ستر هاوانونه د **درندو وسلو**[۲۱۸] په کټګوریو کې راځي .

**ځمکنۍنښتې:** په ځمکنیو جګړو کې دغې جګړې شاملې دي: د جګړې د ښکیلو خواوو تر منځ ځمکني متحرک عملیات ، دلېږې واټن څخه برید ، د ډزو تبادله او وسله والې نښتې. په ځمکنیو نښتو کې د بریدونو او عملیاتو په وخت کې د سپکو او درندو وسلو ، او یا د ساحوي وسلو سیستمونه لکه د هاوانونو راکټونو کارول هم شامل دي.

**درندې وسلې:** که څه هم د " درندو وسلو" اصطلاح په پراخه توګه کارول کیږي ، خو د دې لپاره په عمومي صورت موافقه شوی نړیوال[۲۱۹] تعریف نشته. د دې په بیلګو کې اوږده هاوانونه ، د راکټونو سیستمونه او توپخانې شاملې دي(د چاودیدونکو توکو په اړه پورته مراجعه وکړئ).

**د لوړې کچې چاودېدونکو تمرین ځایونه:** یوه محوطه چې د اردو او یا هم نظامي ځواکونو له خوا د دې لپاره کارول کیږي چې هلته د هغو وسلو سیستمونه ځای پرځای شي چې په کې چاودیدونکي مهمات د درندو وسلو په شمول کارول کیږي .

**IDP:** داخلي بې ځایه شوي کسان

**IED:** (ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي): یو بم چې د دودیزې نظامي طریقې په خلاف په نورو طریقو جوړېږي او کارول کېږي. کیدای شي چاودیدوني توکي په څلورو کټګوریو تقسیم شي: د کنترول له لارې فعالیدونکې چاودیدونکي توکي ، د قرباني شخص په وسیله فعالیدونکي چاودیدونکې توکي ، د ځانمرګي بم په شکل کې استعمال شوي چاودیدونکې توکي او نور ځای پر ځای شوی چاودیدونکی توکي.

د دستور *له لارې فعالیدونکی ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي*- هغه رادیویي یا د لېرې څخه کنترولیدونکي ځای پرځای شوي چاودېدونکي توکي (ریموټ کنټرول بمونه RC-IEDs)) (دي چې د لېرې واټن څخه کار کوي چې استفاده کوونکی کولای شي د وړاندې څخه ځای پر ځای شوي دغه توکي ته په یوه مناسب وخت کې چاودنه ورکړي او یو متحرک هدف په نږدې کېدو سره تر برید لاندې راولي.[۲۲۰] په دغه ډله کې لاندیني چاودیدونکي توکي شامل دي: د استفاده کوونکي په ذریعه فعالیدونکي چاودیدونکي توکي ، لکه د سړک د غاړې بمونه او پر اشیاوو یا حیواناتو باندې ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي لکه موټر ، بایسکل ، موټر سایکلونه او مرکب. مقناطیسي- تعبیه شوي ځای پر ځای شوي چاودیدنکي توکي د یوې مقناطیسي او یا نورو وسیلو په واسطه نښلول کیږي او دا د تماس له لارې فعالیدونکي چاودیدونکي توکي دي. په افغانستان کې د عادي رسولو د میتود له امله یوناما دا وسیلې په جلا ډول ثبت کوي ، د بیلګې په توګه ، د هدف وړ اشخاصو په نقیله وسیلو کې ځای په ځای کول.

---

[۲۱۸] بوري ج او بریهم م " د خلکو د میشت په سیمو کې د چاودېدونکو وسلو د کارولو څخه د ملکیانو د ساتنې تقویه کول: د نړیوال سره صلیب په بیا کتنه کې د پالیسۍ او څېړنې د اجنډا جوړول ، ۹۳ جلد ، ۸۸۳ ګڼه "

[۲۱۹] درندې وسلې په بشري نړیوالو حقونو او د بشر پالنې د نړیوال قانون په معیارونو کې نه دي یادې شوې . مویس ، ر ، بریهم ،م او ناش ، ت ؛ درندې وسلې اود ملکیانو ساتنه ، ۳۶(۲۰۱۲) ماده.

[۲۲۰] همدا ماخذ

*د قرباني شخص په ذریعه فعالیدونکي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي*- دغه چاودیدونکي توکي په هغه وخت کې فعاله کیږي چې کله یوه شخص او یا موټر د ده د پټاقۍ سویچ ته فشار ورکړي ، دغه سویچ ممکن فشاري وي یا د فشار د خوشې کېدو سیستم وي او یا هم د کش کولو سیم  یا د کوم بل سیستم په توګه وي چې په هر صورت کې د چاودنې سبب ګرځي.[۲۲۱]

*نور چاودېدونکي توکي*- په دې کتګورۍ کې عام تاري بمونه او ساعتی بمونه (د ۲۰۰۹ څخه راهیسې ، یوناما د دې چاودیدونکو توکو له امله ډیر کم شمیر پیښې ثبتې کړي دي)، او هغه چاودیدونکي توکي په کې شامل دي چې د پټاقۍ یا سویچ ډول یې نه مالومیږی.

*ځان مرګی ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي (ځان مرګي/انتحاری بریدونه)*- د ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو په هکله د مالوماتو برسیره ، یوناما د ځان مرګو او پیچلو عملیاتو له امله د ملکي خلکو د مرګ ژوبلی پیښې ثبتې کړي دي.د دغو پیښو په ارقامو کې د یو ځان مرګی برید کونکي یا ډریور له خوا د چاودیدونکو توکو نه ډک موټر چاودول او یا د یوه انتحاري په واسطه د واسکټ یا کمر بند چاودول شامل دي .

**د ځاي پر ځاي شویو چاودیدنکو توکو استحصال:** د ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو استحصال د هغو مالوماتو او موادو د تشخیص ، راټولولو ، پروسس او مالوماتو خپرولو پروسه ده چې د ځاي پر ځاي شویو چاویدنکو توکو د پیښې له ځاي څخه راټول شوي دي تر څو د عمل وړ استخباراتي معلومات تر لاسه شي ، د ځاي پرځاي شویو چاودېدونکو توکو ضد پروسیجرونه او میتودونه غښتلي او د دې لپاره چې د یاغیانو منابع کمزوري کړاى شي او د دوي د عدلي تعقیب ملاتړ وشي. په دې کې د ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو ساتنه ، د مختلفو برخو تشخیصونه ، تخنیکي ، عدلي طب او بایومتریک ازموینې او تحلیل راځي چې د با صلاحیته متخصصو تسهیلاتو او مرکزونو له لوري تر سره کېږي. د چاودیدونکو توکو استحصال چاودیدونکو توکو پر ضد د اغیزمنو او دوامداره اقداماتو یوه اساسي برخه ده.

**پېښې:** هغه پیښې دي چې په وسله والو جګړو کې ملکي وګړو ته تلفات اړوي. د یوناما په راپورونو کې هغه تلفات نه دي شامل چې د جنايي پېښو په پایله کې پېښېږي.

**IHL :** د بشر پالنې نړیوال قانون

**IMAM:** یو مذهبي عالم څوک چې لمونځ ورکوي.

**نړیوال نظامي ځواکونه:** په "نړیوالو نظامي ځواکونو" کې ټول هغه بهرني عسکر شاملیږي کوم چې د ناټو د پریکنده ملاتړ د ماموریت یوه برخه جوړوي چې پخوا د (ایساف) په نوم یادیده او په افغانستان کې د امریکې د متحده ایالاتو نورو ځواکونه (د سنتینیل د ازادی د عملیاتو په شمول ، چې د ۲۰۱۵کال د جنوري له لومړۍ نیټې څخه د پایښت لرونکی ازادی د عملیاتو ځاى یې ونیوو) او همدارنګه چې د پریکنده ملاتړ د ماموریت تر قومندان لاندې دي چې په

[۲۲۱] همدا ماخذ

افغانستان کې د امریکایي ځواکونو قومندان هم دی. دغه اصطلاح همدا راز پر ځانګړو عملیاتي ځواکونو او نورو بهرنیو استخباراتي او امنیتي ځواکونو باندې هم د تطبیق وړ ده.

**ټپونه:** د جسماني سختې ژوبلې ګڼ ډولونه په کې شاملیږي. د یوناما د بشری حقونو په ډیتابیس کې د جسماني ژوبلې درجه نه ده شامله. ارواییي یا روحي صدمه یا دماغي جرک د پیښې په ژوبلو کې نه دي شامل.

**ایساف:** په افغانستان کې مرستندویه سوله ساتي ځواکونه. ایساف د ملګرو ملتونو د منشور د VII فصل له مخې د سولې د پلي کولو ماموریت یا دنده درلوده. ایساف د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په امر او صلاحیت ځاي په ځاي کېږي. د ۲۰۰۳کال په اګست کې د افغانستان د حکومت او ملګرو ملتونو په غوښتنه د ناټو سازمان د ایساف مشري په غاړه واخیسته. د ۲۰۰۸ کال له نومبر څخه د ایساف قوماندان په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو قوماندان هم دی ، که څه هم د مراتبو سلسله بېله پاتې شوې. امنیت شورا د خپل ۲۱۲۰ (۲۰۱۳) شمېره پریکړه لیک له مخې د ایساف په اړه مخکنې پریکړه لیکونه بیا تایید او د ۲۰۱۴ د ډسمبر تر ۳۱ مې نېټې پورې یې د نورو ۱۴ میاشتو لپاره د ایساف ماموریت وغزاوه. د ۲۰۱۵ کال دجنوري د لومړۍ نیټې راهیسې ، د غوڅ ملاتړ ماموریت د ایساف ځای ونیو.(د غوڅ ملاتړ ماموریت وګورئ)

**سپکې وسلې:** هغه وسلې دي چې د دوو او یا دریو کسانو لپاره چې په یوه عمله کې فعال وي ډیزاین شوې دي ، که څه هم ځینې یې کېدلای شي د یو تن له خوا ولیږدول شي او په کار واچول شي. په هغو کې د نورو په شمول درندې ماشین ګنې ، لاسي ماشین دارې او د بمونو لانچرې ، سپکې لیږدېدونکې د الوتکو ضد توپکې ،سپکې د ټانک ضد توپکې ، بې پس لګده توپونه ، سپکې لېږدېدونکې د ټانک ضد میزایلونه او د راکټ سیستمونه ، د الوتکو ضد میزایلونو سیستمونه ، او هغه هاوانونه چې د میلې قطر یې د ۱۰۰ ملي مترو څخه کم وي شاملې دي[۲۲۲] .

**محرم:** د ښځې میړه ، یا د هغې نارینه خپل(د بیلګې په توګه ، پلار ، ورور ، ترونه او ماما ګان او د هغې وریرونه او خوریيونه) د چا سره چې د شریعت د قانون لاندې واده منع دی.

**MoI :** د کورنیو چارو وزارت

**ناټو:** د شمالي اتلانتیک د تړون سازمان. د ناټو سازمان غړي هیوادونه د ایساف اساسي مرستندویه هیوادونه دي. د غوڅ ملاتړ ماموریت او ایساف وګورئ .

**NDS :** د ملي امنیت ریاست یا د افغانستان دولتي استخباراتي اداره

**NGO :** نادولتي سازمان

[۲۲۲] پخپل وخت او اعتباري توګه د ناقانونه کوچنیو او سپکو وسلو د تشخیص اوڅرک معلومولو لپاره د دولتونو د ځواکمنولو لپاره نړیواله مقرره ، د ۲۰۰۵ کال د ډسمبر په ۸ نېټه د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا له خوا تصویب شوې ، A/CONF, available at: .http://www.un.org/events/smallarams2006/pdf/international_instrument.pdf

**دولت پلوه وسله والې ډلې:** د دولت پلوه وسله والو ډلو" اصطلاح یوه نا دولتي تنظیم شوی فعال ته چې په شخړه کې ښکیل وي او د دولتي ځواکونو ،یاغیانو او جنایي ډلو څخه توپیر ولري راجع کیږي. دولت پلوه وسله والې ډلې افغان سیمه ییز پولیس چې د کورنیو چارو د وزارت تر کنترول او قوماندې لاندې راځي ، نه احتوا کوي. دغه وسله والې ډلې د افغانستان د قانون په رڼا کې کوم حقوقي بنسټ نه لري. وسله والې ډلې دا پوتانسیل لري چې د ځواک په کارولو سره وسلې وکاروي تر څو سیاسي ، ایدلوژیکي او اقتصادي موخې تر لاسه کړي ، دا ډلې د هیوادونو ، دولتی ایتلافونه او بین الحکومتي ادارو د رسمي پوځې جوړښتونو په دننه کې ځای نه لري او د هیواد(هیوادونو)تر کنترول لاندې نه دي په کومو کې چې دوي فعالیت کوي. په ځینو مواردو کې ، وسله والې ډلې د کوربه هیواد یا نورو هیوادونو څخه مستقیمې او غیر مستقیمې مرستې تر لاسه کوي. په دې تعریف کې دا شامل دی ، خو تر لاندې ډلو پورې محدود نه دي: د ملي پاڅون حرکتونه[۲۲۳] ،محلي ملیشا(نژادي ، قومي یا په پل عبارت)او ملکي دفاعي ځواکونه او نیمه پوځې ډلې(داسې ډلې په ښکاره د دولت تر کنترول لاندې نه دي).

**دولت پلوه ځواکونه:** افغان دولتي ځواکونه او ټول هغه ځواکونه او ډلې دي چې په نظامي او نیمه نظامي عملیاتو یا د بغاوت ضد عملیاتو کې برخه اخلي او په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د افغانستان د دولت تر قوماندې او ادارې لاندې دي. په دې ځواکونو کې افغان ملي اردو ، افغان ملي پولیس ، افغان سرحدي پولیس ، افغان سیمه ییز پولیس د ملي امنیت په شمول نور دولت پلوه سیمه ییز دفاعي ځواکونه هم شامل دي. افغان ملي امنیتي ځواکونه عبارت دي له : ملي اردو ، چې دفاع وزارت ته راپور ورکوي او په رسمي ډول د افغانستان په وسله والو ځواکونو کې شامل شوي دي ؛ او هغه ځواکونه چې د کورنیو چارو د وزارت تر کنترول لاندی دي ، په هغو کې افغان سیمه ییز پولیس شامل دي ، دا ځواک د هغوي د دندو له امله د وسله والو قوتونو یوه غیری رسمي برخه تشکیلوي او په قانوني ډول د ملکي خلکو په څیر خوندیتوب نه لري ؛ او افغان ملي پولیس ، افغان یونیفورم لرونکي پولیس او افغان سرحدي پولیس د قانون پلي کونکي ادارې دي چې په رسمي ډول د وسله واله ځواکونو برخه نه دي او د کورنیو چارو وزارت ته مسوول دي .د قانون پلي کونکو ادارو غړي هغه مهال خوندیتوب د لاسه ورکوي چې د وسله والو ځواکونو دنده اجراء کړي او په جګړه کې نیغ په نیغه برخه واخلي. دوي د خپل ځان د دفاع پر وخت د ځواک کارولو له امله د ملکي په حیث خوندیتوب له لاسه نه ورکوي.

همدارنګه په دغه اصطلاح کې نړیوال ځواکونه او نور بهرني استخباراتي او امنیتي ځواکونه هم شامل دي.(نړیوال پوځې ځواکونه وګورئ)

**دولت پلوه ملیشا:** دولت پلوه وسله والې ډلې وګورئ.

**د غوڅ ملاتړ ماموریت:** د ۲۰۱۵ کال د جنوری په ۱ نیټه ، د شمالي اتلانتیک تړون سازمان (ناټو) په افغانستان کې خپل ماموریت د ایساف څخه د غوڅ ملاتړ غیر جګړه ییز ماموریت ته واړاوه چې موخه یې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د روزنې ، مرستې او مشورې برابرول دي. د ایساف پر خلاف ، چا ته چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لخوا اختیارات ورکړل شوی و خو د غوڅ ملاتړ د ماموریت لپاره حقوقي بنسټ د ځواکونو د تړون دریځ(SOFA) برابر کړی ، کوم چې په کابل

[۲۲۳] په شخړه کې د ملي پاڅون د غوځنګ د غړو د ښکیلتیاوو په اړه تفصیلاتو او تعریفونو ته په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د ۲۰۱۴ ریپورتونه وګورئ.

کې د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر په ۳۰مه نېټه لاسلیک شو او د افغان پارلمان لخوا د ۲۰۱۴ کال د نومبر په ۲۷ تصویب شو. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۱۸۹(۲۰۱۴)شمیرې پریکړه لیک د افغانستان د اسلامي جمهوریت او ناټو تر منځ د دوه اړخیزه تړون چې موخه یې د غوڅ ملاتړ د ماموریت را منځ ته کول و ،ستاینه کړې. د ۲۰۱۵ کال د می د میاشتې را هیسې ، د غوڅ ملاتړ د ماموریت د ځواک ۱۳۱۹۹ تنه سرتیري د سرتیرو د ۴۲ ورکونکو هیوادونو څخه را منځ ته شوی چې دا بیا د روزنې ، مرستې او مشورې د څلورو سیمه ییزو قرارګاوو په شمول ، د غوڅ ملاتړ د ماموریت د مرکزي دفترونو او د روزنې ، مرستې او مشورې په هوایې قرارګاوو کې تنظیم شوي ، دا بیا د افغان ملي امنیتي ځواکونو سره د یوه مسلکي ، ور او پایداره هوایي ځواک په جوړولو کې مرسته کوي. د غوڅ ملاتړ د ماموریت قومندان همدارنګه د افغانستان لپاره د امریکایي ځواکونو د قومندان په حیث دنده ترسره کوي خو د قوماندې د مراتبو سلسلې یې بیلې دي.

**کوچنی وسلې:** هغه وسلې دي چې د انفرادي کارونې لپاره ډیزاین شوي دي. په هغو کې اوه ډزې تومانچې یا د ملا وسله ، او توماتي تومانچې ، ټوپکې ،کاربینونه ، نیمه اوتومات ماشینګنې ، ګوزاریزې ټوپکې او سپکې ماشینګنې شاملې دي[۲۲٤] .

**SOPs :** معیاري عملیاتي طرزالعملونه.

**دجګړې پریوتي یا محافظت شوی پرسونل :** هغه جنګیالي چې (ټپي ، ناروغ او د سمندر څخه ژغورل شوي ، توقیف شوي او تسلیم شوي وي) او یا د پوځي ځواکونو روغتیایي او مذهبي کارکونکي وي باید د بریدونو څخه په امن کې وساتل شي.

**هدفي وژنې:** هغه وژنې دي چې په ارادي ، د مخه سنجول شوي او قصدي ډول د دولت او یا د دولت کارکونکو چې د قانون په چوکاټ کې دنده لري( او یا په وسله واله شخړه کې د منظمې وسله والې ډلې) له خوا د یو په نښه شوي شخص پر ضد وژونکي ځواک وکاروي ، او هغه شخص د مرتکبینو د فزیکي ساتنې او نظارت لاندې نه وي۲۲۵ . د هدفي وژنو په کټګورۍ کې همدارنګه د وژنو ځینې هغه قضیې شاملې دي چې قرباني شخص د کم وخت لپاره د وژل کیدو پر مهال د مرتکب په توقیف کې پاتې شوی ، څنګه چې د هدفي وژنو برخلاف چې قرباني شخص د مرتکیب په توقیف کې نه وي.

**UNDSS :** د ملګرو ملتونو د مصوونیت او امنیت څانګه .

**UNAMA :** په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی .

**UNHCR :** د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنري.

---

[۲۲٤] پخپل وخت او اعتباري توګه د ناقانونه کوچنیو او سپکو وسلو د تشخیص او څرک معلومولو لپاره د دولتونو د ځواکمنولو لپاره نړیواله مقرره ، نا قانونه سپکې وسلې ، د ۲۰۰۵ کال د ډسمبر په ۸ نېټه د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا له خوا تصویب شوې ، A/CONF, available at: .http://www.un.org/events/smallarams2006/pdf/international_instrument.pdf

[۲۲۵] که څه هم چې په زیاترو حالتونو کې چې هدفي وژنې د ژوند د حق څخه سرغړونه کوي ،د وسله والې شخړې په استثنایی حالتونو کې ، کیدای شي حقوقي بڼه ولري خو په دې شرط چې د نړیوال بشر دوستانه قانون د اړوندو مقرراتو او بشری حقونو درناوي شوي وي. د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې ، د بشري حقونو د شورا ۱۴مه ناسته ، د اجنډاء دریيمه ماده ،د غیر قانوني یا په خپل سر او نا قانونه اعدامونو په هکله د ځانګړي راپور ورکونکی راپور ته مراجعه وکړئ ، Philip Alston. Addendum, 'Study on Targeted Killings'. A/HRC/14/24/Add.6. 10 May 2010

**USSOF :** د امریکې متحده ایالاتو د ځانګړو عملیاتو ځواکونه .

**UXO :** نا چاودي توکي.

**جنګي جرایم:** جنګي جرمونه د بشر پالنې د نړیوال قانون د میثاق او عرفي قانون څخه جدی سرغړونې دي . د جرمونو د نړیوالې محکمې د منشور ( یا د روم قانون) له مخې جنګي جرایمو[۲۲۶] په تعریف کې د نورو تر څنګ د ژنیو د کنوانسیونونو د درېیمې مشترکې مادې څخه سرغړونه شامله ده چې په هغه کې د شخص او د هغه پر ژوند تیری ، په تیره بیا هر ډول قتلونه ، د اندامونو پرې کول ، بې رحمه سلوک او شکنجه ؛ د شخص حرمت او وقار پایمالولو ، په تیره بیا سپکاوی او د بې عزتۍ چلند ، یرغمل کول ؛د قانوني محکمې د قضاوت او د عدلي تضمیناتو پرته چې هغه په عمومي صورت د اجراء کولو لپاره لازمي دي تر مخه د مجازاتو تصویب او د اعدامونو سرته رسول په دغو جرمونو کې راځي.

[۲۲۶] د جرمونو د نړیوالې محکمې منشور ، ۸ ماده ، نړیوال عرفي قانون چې په نړیواله او غیر نړیواله وسله واله شخړه کې د پلي کېدو وړ دی ، د هغه له مخې د نړیوال بشر دوستانه قانون څخه جدي سرغړونې جنګي جرایم شمیرل کیږي. د هیوادونو اجراات د نړیوال عرفي قانون نورمونه تشکیلوي. ۱۵۶ مه قاعده د جنګي جرایمو تعریف. ی سی ا ـ ر سی ، نړیوال عرفي بشر دوستانه قانون ، ۱جلد ، جین ماری هینکرتز او لویز دوزوالډ- بیک ، .{ICRC Study} (CU P/ICRC, Cambridge 2005)دغه مرجع وګورئ : Additional Protocol II, article 13(2)، دغه مرجع هم وګورئ: د نړیوالو جرمونو د محکمې د روم اساسنامه/ منشور ، Article 8 (2) (c) (i) of the Elements of Crime, Rome Statute of the International Criminal Court. جنګي جرمونه عبارت دي له ؛ په غیرې نړیواله وسله واله شخړه کې پلي کیدونکو جنګي قوانینو او د عرفونو څخه سرغړونې ته ویل کیږي چې لومړی مبنی یې د ژنیو د ۱۹۴۹ کال څلورو کنوانسیونونو درېیم عمومي بند ،او ورسره د ۱۹۷۷ ضم دوېیم پروتوکول ، د ۱۹۹۹ الحاقي پروتوکول ، د ۱۹۵۴ هاګ کنوانسون چې په وسله واله جګړه کې د کلتوري میراث د خوندي ساتنې په اړه دی ، د ۱۹۸۹ د ماشوم د حقونو کنوانسیون ، د ۱۹۹۴ د ملګرو ملتونو او نښلول شوی پرسونل د مصؤنیت کنوانسیون ، د نړیوالې محکمې د رواندا او پخوانۍ یوګوسلاویا لپاره منشور ، او د سریلیون لپاره د ځانګړې محکمې منشور). د جرمونو د نړیوالې محکمې د روم منشور/ اساسنامې لاندې جنګي جرائم وګورئ ، او د هغې منابع د بشر پالنې د نړیوال قانون موازنه ، ای سی ار سی د نړیوال بشر دوستانه قانون لپاره مشاورتی خدمتونه.

## لومړی ضمیمه: د طالبانو له خوا ادعا شوي بریدونه: د هدف د ډول له مخې لنډیز

| د افغان امنيتي ځواکونو ،نړیوالو نظامي ځواکونو او دولت پلوه ډلو په وړاندې بریدونه | |
|---|---|
| افغان ملي پولیس | ۹۳ |
| افغان سیمه ییز پولیس | ۳۷ |
| افغان ملي امنيتي ځواکونه | ۱۵ |
| د ملي امنیت ریاست | ۱۳ |
| افغان ملي اردو | ۲۰ |
| نړیوال پوځي ځواکونه | ۸ |
| افغان سرحدي پولیس | ۷ |
| اربکي /دولت پلوه وسله والې ډلې | ۶ |
| **د امنيتي او پوځي خواکونو په وړاندې ټولټال بریدونه د کومو په پایله کې چې ملکي تلفات را منځ ته شوي او په ویب پاڼه او تویټر ټولنیزه شبکه باندې د طالبانو ادعاوې** | **۱۹۹** |

| د ملکي کسانو او ملکي هدفونو په وړاندې بریدونه | |
|---|---|
| نورې ملکي موخې | ۵۵ |
| ملکي حکومتي اداره | ۴۸ |
| قاضیان ،څارنوالان او قضایی کارکونکي | ۲۱ |
| قومی مشران | ۱۳ |
| قراردادیان /کارګران | ۷ |
| روغتیا پالنه | ۲ |
| ترافیک پولیس | ۲ |
| ځایونه او عبادت کونکي | ۱ |
| APRP - د افغانستان د سولې او بیا یوځای کېدنې پروګرام | ۱ |
| معارف | ۱ |
| ملګري ملتونه | **۱** |
| د سولې شورا | ۱ |
| **د طالبانو له خوا ادعاء شوي ټولټال بریدونه چې هدف یې ملکي کسان یا ملکي ځایونه و ، چې د ملکي کسانو د تلفاتو لامل شوي.** | **۱۵۳** |
| **د طالبانو له خوا ټولټال ادعاء شوي بریدونه په کومو کې چې ملکي تلفات را منځ ته شوي** | **۳۵۲** |

## دوېیمه ضمیمه: د تصدیق د دریځ او منسوبونې د "جنګي جرمونو" په اړه د طالبانو د ادعاوو فهرست

| تولټال | د یوناما مستند کول | پایلې | منسوبونه |
|---|---|---|---|
| ۲۳۱ ادعاګانې | د طالبانو د بیانونو د نشر کېدو څخه وړاندې د یوناما له خوا ۱۲۹ قضیې مستندې شوې. | په ۳۵ قضیو کې د ملکي تلفاتو ورته شمیرې موجودې وې<br>د وژل شوي او ټپي شویو کسانو تر منځ د مختلف نسبت په درلودلو سره،په ۶ قضیو کې د ملکي تلفاتو ورته شمیرې موجودې وې. | ۲۷ دولت پلوه ځواکونه<br>د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ډزو په تبادله کې ۶<br>دولت ضد عناصرو ته ۶<br>د ۲ پیښو معلومول نه شي کېدای |
| | | په ۳۸ قضیو کې د ملکي تلفاتو ټیټې شمیرې موجودې وې. | دولت پلوه ځواکونو ته ۲۵<br>د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ډزو په تبادله کې ۷<br>دولت ضد عناصرو ته ۵<br>د یوې پیښې معلومول نه شي کېدای |
| | | په ۲۷ قضیو کې د ملکي تلفاتو لوړې شمیرې موجودې وې. | دولت پلوه ځواکونو ته۱۷<br>د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ډزو په تبادله کې ۶<br>دولت ضد عناصرو ته ۴ |
| | | ۶ قضیو د وسله والې شخړې سره تړاو نه درلود | |
| | | د ۱۷ قضیو تلفات ملکیان نه و یا یې هیڅ تلفات نه درلودل. | |
| | د طالبانو د بیانونو د نشر کېدو څخه وروسته د یوناما له خوا ۵۰ قضیې مستندې شوې. | په ۲۲ قضیو کې د ملکي تلفاتو ورته شمیرې موجودې وې.<br>د وژل شویو او ټپي شویو کسانو تر منځ د مختلف نسبت په درلودلو سره په ۴ قضیو کې د ملکي تلفاتو ورته شمیرې موجودې وې. | دولت پلوه ځواکونو ته ۱۶<br>د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ډزو په تبادله کې ۷<br>دولت ضد عناصرو ته ۳ |
| | | په ۹ قضیو کې د ملکي تلفاتو کمې شمیرې موجودې وې. | دولت پلوه ځواکونو ته ۶<br>د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ډزو په تبادله کې ۱<br>دولت ضد عناصرو ته ۱<br>د یوې پیښې تصدیق نه شي کېدای |
| | | په ۳ قضیو کې د ملکي تلفاتو لوړې شمیرې موجودې وې. | دولت پلوه ځواکونو ته ۲<br>د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ډزو په تبادله کې ۱ |
| | | ۴ قضیو د شخړې سره تړاو نه درلود. | |
| | | د ۸ پیښو تلفات ملکیان نه وو او یا یې هیڅ تلفات نه درلودل. | |
| | | | |
| | یوناما و نه شوای کولای ۵۲ قضیې چې ایا په شخړه پورې تړاو لري او که نه ، معلومې کړي. | | |

## دریېمه ضمیمه: د ریکارډ لپاره د ناټو د پرېکنده ملاتړ د ماموریت یاداښت ، د ۲۰۱۶ کال د فبروري دریېمه نیټه

د ۲۰۱۶ کال د فبروري دریېمه نیټه

د ریکارډ لپاره یاداښت

مضمون: نړیوالو نظامي ځواکونو ته په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په راپور کې د موجودو وړاندیزونو په هکله رسمي غبرګون

۱. د ناټو د پرېکنده ملاتړ ماموریت د یوناما د هغو هڅو په ستاینې سره چې په افغانستان کې د بشري حقونو د درناوي لپاره کوي او دهغو هر اړخیزو اقداماتو ستاینه کوي چې په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې د ۲۰۱۵ کال په راپور کې راغلي دي. د پرېکنده ملاتړ ماموریت همدارنګه غواړي څو د دغه فرصت څخه په ګټې اخیستنې سره یوناما ته دهغو اقداماتو په اړه معلومات ور کړي چې د یوناما له خوا نړیوالو نظامي ځواکونو لپاره لړ لیک شوي دي.

۲. لومړی وړاندیز. د پرېکنده ملاتړ او د امریکې د متحده ایالاتو د (USFOR-A ) د ځلورو ستورو درلودونکی جنرال کمپل د دې لپاره چټک اقدام وکړ څو په کندز کې د بې پولې ډاکټرانو د غمجنې پیښې په اړوند د پرېکنده ملاتړ لپاره ارزونه پیل او د هغې خپلواکه تحقیقات ترسره شي. په هغه مطبوعاتي اعلامیه کې چې نومورې د ۲۰۱۵ کال د نومبر په ۲۵ نېټه خپره کړه په دې یې ټینګار درلود چې هغه نه شي کولای دهغو انظباطي تدابیرو په اړوند تبصره وکړي چې د تفتیش څخه وروسته به ترسره کیږي. د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا دوه راپورونه ترتیب شوي و ، یو یې د ملکي تلفاتو د مختلطې ارزونې د ټیم راپور و چې هغه د ناټو د پرېکنده ملاتړ ګډ راپور وو چې د هغه له مخې د هوایي برید په پایله کې د ملکي تلفاتو موجودیت تایید شوی. د امریکې د متحده ایالاتو د AR 15-6 ملی تفتیش یو راپور ترتیب کړ چې په هغه کې لا زیات تفصیلات راغلي او د پیښې د احتساب او مسوولیت څرګندونه کوي. د افغانستان څخه د باندې متخصصین رابلل شوي وو څو د AR-6 راپور کار پر مخ یوسي ، د غمرازۍ او تسلیت په موخه د امریکې متحده ایالاتو د هغو ۲۷۳ افرادو له جملې څخه چې د بې پولې ډاکټرانو له خوا یې تشخیص شوی و ۱۴۲(۵۲٪) کسانو ته نغدې مرستې شوي او په دې وروستیو کې په بریالیتوب سره د ایم ایس ایف ۹ ټپي کارمندانو ته د غمرازۍ څرګندونه او نغدي مرسته تر سره شوې ده. د غمرازۍ په مناسبت نغدي مرستې د پلان سره سمې رواني دي او په راتلونکو میاشتو کې به بشپړې شي.

۳. دوهم وړاندیز. د دغو تصادفي برید په پایله کې چې په کندز کې د بې پولې ډاکټرانو په روغتون وشو ، د برېکنده ملاتړ قوماندان د هدف نیولو لپاره یو نوی قدم په دغه بهیر کې ورزیات کړ- د نه برید کولو د لړ لیک دقیق او کره تصدیق. دغه قدم باید وړاندې ترډې چې په کومو تاسیساتو برید وشي باید کره کړای شي. د دې سربیره د نه برید د لړ لیک د واحدونو د ساتنې د اړتیا په اړه د ځواکونو بیا روزنه تر سره کیږي. همدارنګه د قوماندان د لارښودونو /هدایت تکراري بیا کتنه شوې ده. وروستۍ کتنه د نه برید په لړ لیک دCIVCAS د مخنیوي د یوې وسیلې په توګه تاکید شوی دی او د برېکنده ملاتړ د ټول پرسونل لپاره د هغه لوستل اړین دي.

۴. د دریم وړاندیز. د پریکنده ملاتړ د CIVCAS د کمولو ټیم ځخه غوښتل کیږي څو د ملکي تلفاتو ټول تورونه او پخپله- د راپور شوو پیښو څېړنه وکړی. داد CIVCAS د اعتبار د ارزوني د بیاکتني د بورډ (CCARB) د منشي په توګه دنده تر سره کوي چې هغه د هرې راپور شوې پیښې د ځاي د اعتبار د ارزوني په موخه خدمت کوي چېرته چې ملکي تلفات CIVCAS رامنځته شوي دي.

۵. څلورم وړاندیز. د پرېکنده ملاتړد د ملکي تلفاتو د کمولو ټیم د افغانستان د اسلامي دولت د چارواکو سره ګڼ شمیر کتنې درلودلي دي او د خپلې روزنې ، مشورې او ملاتړ د ماموریت په لړ کې د ملي امنیت د شورا سره کار ته ادامه ورکوي څو دا باوري کړي چې د CIVCAS د مخنیوي لپاره پالیسي تصویب شي. په دې وروستیو کې دغه مسوده د وزارتونو تر منځ د مشورو لاندې ده او د دې تمه کیږي چې د نړیوالو شریکبانو سره په یوې ناسته کې به د ۲۰۱۶ کال د فبرورۍ په پای کې بشپړه شي.

۶. پنځم وړاندیز. د پرېکنده ملاتړ د روزنې او مشورې او مرستو ماموریت د افغانستان د ځانګړې امنیتي او هوایي ځواکونو پرته نور افغان امنیتي ځواکونو ته په تاکتیکي کچه روزنه نه ورکوي. د پرېکنده ملاتړ ماموریت اوس مهال د افغانستان دفاعي امنیتي ځواکونو سره د قول اردو ګانو ، زون او پورته کچو مشورې او مرستې برابروي ، په داسې حال کې حکومتي اداري د موسسو/وزارتونو په کچه ملاتړ تر لاسه کوي.

۷. شپږم وړاندیز. دپرېکنده ملاتړ د ځاي پر ځاي کړاى شویو چاودېدونکو توکو پرسونل د افغانستان د اسلامي جمهوریت ته د ادارو په کچه مشورې برابروي او د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د کنترول د روزنې او خنثي کولو په اړوند د افغانستان عوامو او ملي امنیتي ځواکونو ته د پوهاوي پروګرامونه جوړوي. د کورنیو چارو د وزارت د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د کنترول د ۱۱۹ اړیکي مرکز اوس فعال دی او د دې لپاره اظافي هڅې رواني دي چې عامه پوهاوی لوړ شي چې په دې کې د ماشومانو د ساتنې ۱۲۳ کار مندانو روزنه شامله ده چې هغوي ته د ناچاودو موادو ، تعبیه شویو چاودېدونکو توکو او د ماینونو د خبرداری په لړ کې روزنه ورکړل شوې او په ټول افغانستان کې به ماشومانو ته تعلیمات برابر کړي. د برېکنده ملاتړ ماموریت همدارنګه د هغه نوښت ملاتړ کوي چې د وزارتونو له خوا دی چې هغه به د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو په برخه کې د پوهاوي پروګرام د افغانستان د ثانوي ښوونځیو په تعلیمي نصاب کې شامل کړي. د افغانستان د ملي دفاعی ځواکونو له خوا د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د روزنې له پروګرام څخه ۵۰۰ تنه پرسونل فارغ شوي او د دغو توکو د خنثی کولو په لړ کې په تیرو دریو میاشتو کې د ٪۱ څخه تر ٪۱۶ پورې زیاتوالی راغلی دی ،

۸. د دغه یاداښت لپاره د اړیکو مرجع CIV Carlo Salter < RS CCMT at rshqopscj3civicassoms@hq.ms.isaf.nato.in' or NATO UNCLASS at :60 886 2344

تورن جنرال (OF-7 ) جیفری بوچمن

د DCOS OPS RS HQ مشر

د امریکا د متحده ا ـ یالاتو پوځ